ناول

# خلرویشت

امین گودر

خلرویشت
ناول
لیکوال: امین گودر



زما ژوند تر همدې ځایه و....!
تر همدغه ځلکو تمام شو، بیا مې هیڅکله ونه خندل!
هیڅوک مې په زړه کې ځای نکړل...
هیڅا مې زړه ته لار پیدا نکړه،
بیا مې هیڅکله ونه ژړل،
همدا وو ژوند..!!

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# د کتاب ځانګړنې

---

- **کتاب نوم:** ځلرویشت
- **لیکوال:** امین ګودر ۰۷۹۱۶۴۹۴۲۴
- **فېسبوک پاڼه/**Amin Goodar
- **ډیزاین او پښتی :** عبید موسم
- **کمپوز:** امین ګودر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# - پېیل -

ساړه و، ولې مې دېوال ته لګولي وه، ولاړ وم، په ناستو کسانو مې ځغلنده نظر واچولو.

په کوټه کې ځلور کسان په غولي سره ناست وو، ټول ښه سترې معلومیدل په خپلو ځایونو کې آرامه پراته ول، خاموشي وه.

د کړکۍ د پلې ټکا خاته، تېزې هوا له دیواله سره وهله، د اسمان غړمبهار او د تېز باد لګیدلو څخه داسې ښکاریده چې د توفان امکان شته.

څو قدمه مې مخکې واخیســتل د کړکۍ پله مې د لاس په دوو ګوتو ونیوه، له کړکۍ دباندې مې وکتل، د تېز باد شنهار مې د سر ویښته شاته وشړل، په مخ مې سوړ باد ولګیده او یو څو واړه د باران څاڅکي.

غلي مې ځان سره وویل:—

اوفف خدایه ! داسې ښکاري چې ښه باران به وشي، ځنګل به بیا له خټو او چیکړو ډک شي، توبه توبا...

په کوټه کې ناستو ملګرو، په ما کې سترګې خښــې کړې وې، نن یې په کوم عجیب نظر راته کتل، تر ډېره یې زما له څېرې خپلې ســترګې نه اړولې، ډېر شــکونه او ډېر ســوچونه ماغزو ته راغلل خو بیا به مې له خپل ځان سره په: نه نه طور ټول سوچونه مات کړل.

بیا مې یو نظر ځانته وکتل، جامې مې هم خیرنې نه وې.

شکمن شوم، آخر ددا سې لیدو د ځواب موندلو لپاره نیږدې ورغلم، خام دیوال ته مې ولې ولګول، یو بل ته مو وکتل، خاموشي مې ماته کړه، ومې ویل:—

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیرت خو دی کنه؟ څنګه راته داسې ګورئ؟

فرهاد، اصــغر، زوبیر او فرید ته وکتل، زوبیر ورته په سر اشـــاره وکړه، فرهاد شــونډې وخوځېدې: مدثره ! نن ډېره ښــه موقع ده، شــکیل هم بهر تللی او ته هم اوزګار یې، نو مونږ داســې ویل چې ســتاســو د ژوند ټوله کیســه راته وکړه، غواړو مونږ هم پوی شو څنګه تر دې ځایه رار سیدلي یئ؟

مو سکی شوم، له ګوتو مې ټکا ووېسته، لږ فکر مې وکړ، له بهر څخه د تېزې هوا شــهنهار دننه کوټې ته راته، پلتی مې ووهلې، د کوم ســـوال او یا ځواب پرته مې کیسه څه داسې پیل کړه:-

ډېر وخت مخکې زما د ژوند لومړی پړاو په یوه کوچنۍ کورنۍ کې پیل شـــو، د ماشومتوب خواږه وختونه مې هلته شروع شول.

هغه وختونه زه د جنتونو په نوم یادوم، ډېره مینه او ډېر خوندونه پکې وو.

زه ډېر شــوخ وم، ټول کور به مې تاوه وه، له هر شي سره به مې سر و، د چرګو پر کوړخۍ ( کوډله ) کې به زه ناست وم، ټول ځان به مې په دوړو لړلی و، مور به مې پخلی کاوه او زه به په یوه شیبه کې تر غوا رسیدلی وم، غوا به هم مینه راباندې ماتوله، پخپله پلنه ژبه به یې زما مخ او ویښته ستل.

مور مې یوه ورځ د ګاونډي ښـځې ته ویل: مدثر زوی! مې په ماشــومتوب کې ډېر شـــوخ و، په کوچني یوه خاپوړه بدن کې به یې ټول کور د خاپوړو له امله لاړې لاړې جوړ کړی و، چې کله به مې لږ هم له نظره ورک شـــو بیا به یې خاورې خوړلې وې.

د مور یاد مې لا هم تازه دی، مور ریښــتیا هم چې بې حده زیاته ګرانه وي، ما به چې یوه دقیقه ونه لیدله ســـاه به مې پســـې وتله، هر وخت به یې غېږه کې پروت وم او ډېر سکون به یې رابښه.

وخت همدا سې پسې مخکې تله، تر زده کړو ورسیدم، لومړی ټولګی، ورپسې دوهم آن تر یوولسم ټولګي مې زده کړې ورسولې او پکې دوهم نمره راغلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار مې راته ډېر خوشحاله و چې زوی به مې لخیره یو څه جوړ شي، هر وخت به یې نازولم، د خولې ډوډۍ به یې هم را ته نیموله او زه به یې سبق ته هڅولم.

په هغه وخت کې ما د ژوند نولس پسرلي تېر کړي و خو بیا به مې هم عادتونه لکه د کوچني ما شوم دا سې و، له خور سره په کوچني ځیز جنګ، خور مې چې نوریه نومیده له ما مشره وه، تل به مې ورسره په کوم شي جنګ و او هر ځل به ټول تاوان ماته رسیده، ځکه هغه راباندې لویه وه او ما ورسره زور رسیده نه، ما به هم تر خپله وسه زور ووهه خو خور مې هم دومره ظالمه وه چې هیڅ ترس به یې راباندې نه کاوه.

کله به چې ورسره زما وسه ونه رسیده، مور ته به په ژړا ورغلم، مور به مې چې دا حالت ولیده ډېره به غوسه شوه او نوریه به یې ښه ووهله، حتی چې غلطي به هم زما وه خو بیا به هم نوریې وهل وخوړل.

مینه وه، د یو بل تر څنګ یې لا هم ساتلي و، تل مو خلکو ته ښه رسیدلي، نه بد.

غریبي وه خو بیا هم زړونه مو د پاچاهانو و، کله به مو هم چې څوک په کومه ستونزه کې لیدل، ټېر به مو ورته ډېولو او مرستې ته به یې له بل هر چا مخکې ولاړ وو.

دا خبره مې راته پلار زده کړې وه :-

(بچیه! هر وخت دې که څوک په کوم مشکل کې ولیدل، خامخا ورسره مرسته کوه، ددې کار سره مو د یو بل ترمنځ مینه زیاتیږي او خدای (ج) هم درنه راضي کیږي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

يووﻻسم تولگی به مو يوه هفته ويلی وي، د دو شنبې ورځ وه، د ريا ضی ا ستاد (منير) سره د دوو هلکانو دننه راننوت، اول نمره چيغه کړه: ولاړ ســـئ؟ ټول شاگردان له خپلو مېزونو پورته شو او پخپلو ځايونو ولاړ سئ ودريدو، منير استاد موسکی شو او ټولو ته يې د کېناستو وويل.

په پک تندي تار تار ويښــته يې وگرول، لاســونه يې سر ور وســتل، خړې غټې شــونډې يې وخوځېدې: تاســو پخېر سره تر يوولســـم ټولگي راورســيدی، ان شــاءالله راتلونکي پړاونو کې به هم همداســې بريالي واوســئ، خو په يوولســم ټولگي کې به درسره دا دوه نوي شاگردان هم خپل درسونه مخکې بيايي.

په څنگ کې ورسره ولاړو دوو هلکانو ته يې گو ته ونيوه، خبره يې پســـې وغزوله:- له ټولگي سره بلد کړئ او تېر درسونه چې ورڅخه تېر شوي هغو کې هم ورسره مرسته وکړئ.

ټولو د هو په طور سرونه وخوځول، په ټولگي کې د کېناســتو ځای نه و، يوازې زه وم چې کوم څوک به راسره نه کېناســتل، لامل يې همدا و چې زما خيرنې او پرې پرې جامې وې او تر ليرې به رانه بد بوی تله.

ټولو به له ما ځانونه په آمان غوښتل، هغه د پښتو متل دی وايي:-

غريبي بده بلا ده.

ا ستاد منير دا دوه هلکان زما په خوا کې کېنول، د يوه نوم زوبېر او د بل ا صغر و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوبېر میانه ونه درلوده، له رنګه غنم رنګ او ډېر خوږ ښـــکاریده، وړه خوله، تور اوږده ویښته، وړه پلنه پزه، تورې سترګې او تازه ښکلي بریتونه یې راشنه شوي و، همدا شــــان اصـــغر لږ غټ او میانه ونه، دی هم غنم رنګ درلود، تور او ګلګوتي ویښـــته یې په هوار تندي پراته و، جګه او اوږده پزه یې درلوده، له ځېرې ډېر بیدار ښکاریده، څنګه چې زما سره کېناست زما سره یې په موسـکا خوله خبرې وکړې.

په لومړیو کې دوی ډېر شرمیدل، د ټولګي له شــاګردانو سره بیخي نا اشـــنا و، حتی له خپل ځای یې بلې خوا ســـترګې نه اړولې، په رنګ کې توپیر، وچې شونډې او په تندي به یې د خولو غوټې ښکاریدې.

دوی ته مونږ بیخي نا اشـــنا ښـــکاریدو، هیڅا سره یې خبرې نکولې تل به خاموشه وه.

کله کله به مې چې ورڅخه کومه پوښـــتنه وکړه په هو او نا کې به یې ځواب راکاوه، داسې به مې انګیرله لکه ژبې مو سره بدلې وي.

وختونه تیریدل، د ښـــوونځي درســـونه ښـــه په چټکۍ سره روان و، څومره چې وخت مخکې تله، همدومره به په زوبېر او اصغر کې بدلون راتله.

ددوی هغه معصومې او غلي ویریدلي ځېرې اوس ډېرې شوخې شوي وې، په ټولګي کې به یې داسې شور ما شور جوړ کړی و لکه د مني په ماښام کې چې چڼچڼې د ځنګله په ونو کې چنیږي.

څو ځله استـاد دوی ته ســزا ورکړه خو هماغه ډول و او هماغه یې لرګی، سـزا ورکولو به څه ګټه ونه کړه، هر څه به چې په مزاج برابر ورغلل هماغه به یې کول.

ددوی کردار او ددوی سلوک سره زما هم آشنایي پیدا شوه، هغه غلی مدثر چې هیڅکله به یې په ټولګي کې کوم شاګرد نه تنګاوه او نه به یې په لوړ اواز خبره کوله خو نن ورځ هغه د نورو په لاره روان شو، له درس سره یې هغه بې شمېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه هم کمه شوه، آن تر دې چې مطالعه کول يې هم پرېښودل، دا ځکه چې ما له زوبېر او اصــغر سره دومره جوړه شــوي وه چې ټول د هغوی رنګ مې اخیستی و.

په ټولګي کې او کلي کې مې هم داســې ملګرې نه و، زما یوازیني دا دوه ملګرې وو چې نه به يې زما له پرېې پرېې جامو شـکایت کاوه او نه به يې زما له غریبی او خیرن والی تېښته کوله.

له ښــوونځي تر کلي به چې راتلم نو اکثره وخت به یوازې ســتومانه راروان وم خو نن ګورم زما هم ملګري شـته، زما هم خیال سـاتي، دوی ته زما خوښـي او ماته ددوی خوښــي مهم ده، نن چې په لاره ځم دواړه رانه لکه له پاچا څخه لښکر تاو وي، داسې مې ساتنه کوي.

په ډېر کم وخت کې مو دومره مینه سره پیدا شوه چې د یو بل لیرې والی به مو نشـــو زغملی، د کلي نیم میل لیرې یو ښـــکلی جګ غر و، د غره له لمنې یوه ښــایســته چینه را بهیده او هغې چینې ته ټولو کلیوالو د پټیو د پنه( خړوبول ) کولو لپاره ویالې جوړې کړې وې، د ویالې پر سر ځای ځای توتان ولاړ و، او همدا شان کوچني کوچني ډنډونه جوړ و چې خلکو به د ګرمۍ په موسم کې له سړې سیورې او له یخو اوبو خوند اخیسته.

کله کله به ورته یوه، دوه ډلې انجونې هم د اوبو وړلو لپاره راتللې.

ټولو خلکو به دغه ځای د چینو په نوم یادوه، د ګرمۍ موسم، له غنمو ډک تک شـنه پټي، ښـایسـته ماحول، بیا مونږ دري واړه(اصـغر، زوبېر) به هم د همدې ویالې په غاړه د توت لاندې سړې سیورې ته ناست وو.

پښې به مو اوبو ته ښکته کړې وې، یو بل سره به په خبرو او ټوکو ټکالو بوخت وو.

ټوله ورځ به مو د توت سیورې ته تېره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلور مياشـــتنۍ امتحانونه هم راروان ول، بلې خوا سر  په سر ځو ورځې  له ښوونځي پاتې شو، کله به مې چې د ښوونځي ته د تلو خبره کوله، اصغر به دا خبره ډېرۍ وخت کوله:-

ياره مدثره! پرېږده سړيه! نه شـل کيږي، ډاکټر به شـې، انجينر به شـې، آن قاضي به درنه جوړ شي، خو څه به وشي؟ دربيمه ورځ په دې سر ګولۍ وخورې او ټوله خواري او زحمتونه به دې په اوبو لاهو شي.

خبرو به يې پاى نه و موندلى چې زه او زوبېر به ورته له خندا شنه پراته وو، هغه به تل خندولو، ا صغر د  سيګرټ څکلو عادت هم درلود، په ورځ کې به يې شل ســيګرټ څکول، هغه به ورته( ســينګرټ ) ويل او دا خبره به يې هم بار بار کوله:-

چې تاسـو راسره وى، زما هم سـينګرټو څکولو ته زړه کيږي او چې ومو نه ګورم ټوله ورځ کې د يوه څکول هم خوند نه راکوي.

هغه به تل غوښتل چې مونږ دواړه هم سيګرټ ورسره وڅکوو خو مونږ به زياتره وخت انکار کولو، ليکن له دومره انکار سره سره به يې بيا هم يو دوه کشــه راباندې وکړل.

مونږ هم ورسره  نا بلده وو، بس کش  به مو وکړ او بهر  به مو ســپين لوګۍ راوباسه.

ا صغر به چيغه کړه: نا نا دا سې يې مه څکوئ،  سينې ته يې دننه کړئ، بيا ډېر خوند کوي.

په زور به يې  راباندې ځو ځله وڅکول او ويل به يې سينې ته يې کش کړه، په لومړي ځل مې چې خولې ته يوړ، زړه به مې راډک شـو، سـاه به مې بنده شـوه او زړه به مې خولې ته راغى، ټوخي به پسې واخيستم، بلا ټوخي به يوې خواته ړنګ کړم، بيا به ورو له ځمکې راپورته  شوم،  سينه باندې مې لاس ايښى و او ښه ډېر به مې وټوخل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصغر او زوبېر راته په خندا ول، لږه شیبه وروسته به چې په خپل حال شوم، نو زړه به مې آرامه شو، په قار( قهر ) به مې آصغر ته وویل:-

وه حرمونیه ! دا څه خدای وهلی وې چې په ما دې ســیګرټ وڅکول؟ که دې اوس پرې وژلی وای؟

زوبېر او اصغر دواړو په یو اواز دا خبره په تعجب سره تکرار کړه:-

وژلی به یې وای؟

ما وویل:-

خود! ولې دروېژغان( دروغجن ) درته ښکارم؟

خبره مې تکمیل شـــوي نه وه چې دواړه له خندا په ډکو خولو زما خواته نیږدې شول، اصغر زما په اوږه لاس راکېښود او وبه یې ویل:–

نه وه هلکه! ســینګرټ ولې څه د توپ ګولۍ ده چې وژلی به وای؟ دا خو یې صرف ســتا زړه تربت کړ، لخیره ورو ورو به ورسره بلد شــې، بیا به دا ټوخۍ او زړه تربتول نه وي.

په قار مې د هغه لاس له خپلې اوږې وشـاړه، په خوله مې لاس کېښـود، ومې ټوخل، په ډک غږ مې وویل:–

یاره ! ستا د لاسه وګوره زه دې حال ته ورسیدم، زړه مې بل رقم احساس کوي.

هغه غلی شو، سر یې ښکته ځوړند شو، زوبېر د پټي په غاړه ولاړ و، یوازې یې مونږ دواړو ته کتل.

اصغر به راته غلي وکتل، په سترګو کې یې د بخښنې نښې نښانې ښکارېدې، د هغه خپګان راته ښه ونه ایسیده.

ورغلم له غاړې مې یې لاسونه تاو کړل، له خندا سره په ګډ اواز مې وویل:–

یار! ما خو ټوکې کولې، په ما هیڅ ندي شـوي، هسـې غوښـتل مې وګورم سـتا بدرنګه اوږده پزه په خفګان کې څومره لاندې ځوړنده کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړو مو خندل، اصـــغر زما لاســـونه له ځانه ليرې کړل، مخ يې بل لورې ته واړوه، پســې زياته مې کړه:- ښـه نو سـړيه! دومره نازونه دې مکوه، خراب به دې کړي.

اصغر موسک شو، سيګرټ يې ولګاوه، هغه خولې ته وړه چې ما ترې ژر ونيو، په شـونډو مې کېښـود، څو کشـونه مې ترې وکړل، د اصـغر په تندي ګونځې ورکې شـوې، شـونډې يې وغوړيدې، ما وويل:- بس اوس سي شـو؟ زه هم درسره سينګرټي شوم.

درې واړه په خندا شوو.

ټوله ورځ مو هملته تېره کړه، د مازديګر لمر نور په ډوبيدو و.

زوبير مو خپل کور ته روخصـت کړ او زه، اصـغر د کلي په لور روان شـو، زمونږ کورونه په کلي کې و او د زوبېر دوی کور بيا له کلي ليرې د پټيو په منځ کې جوړ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

زه او اصــغر په خبرو خبرو کې د شــنو فصــلونو له منځه راتېر شــو، کله به چې کورونو ته نیږدې شوو، د کلي په منځ کې یو کوهي وه چې له هغې به ډلې ډلې انجونو اوبه وړلې.

د کوهي تر څنک لاره تېره شـــوې وه، پدې لاره به ډېرو کمو خلکو تګ راتګ کاوه.

موږ دواړه لاس په لاس په خبرو روان وو، څه ګورو د انجونو یوه ډ له، په څنګونو کې منګي ورسره، په زړه وړونکې خنداګانو د کوهي خواته ورسیدې.

قدمونه مو ورو کړل، ا صغر ژر رانیږدې شو، په دواړو لاسونو یې زما اوږه کلکه ونیوه، د لاس ګوتې یې بنـــی اړخ ته ونیوې، په جدي اواز یې وویل:- مدثره! هله وګوره انجونې!

ما ځان داســې وښــوده چې هیڅ مې پام ندی، ومې ویل:- د څه شي انجونې ها؟

اصغر سترګې راواړولې، تندي یې ګونځې پیدا کړې، وویل:- ته او خدای هغه انجونې نه ګورې؟

مخ مې د کوهي واړوه، ورمېږ مې وګاروه، ورو مې وویل:- ښه هغوی یادوې.

یوه شیبه یې راباندې ځغلنده نظر واچوه، لږې خاموشی وروسته ما بیا وویل:- ښه نو اوس څه وکړم ؟ انجونې خو مې ولیدې؟ ورشم پسې که څنګه؟

په خندا شو، وویل:-

خبره خو دې بده ونه کړه، زړه مې غواړي ســمه یوه پکې ځانته خوښــه کړم او ورسره ژوند برابر کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما هم په همغه انداز وويل:-

او زما زړه کيږي چې ښې لغتې درکړم او ښه ژوند دې برابر کړم.

اصغر راته برگ برگ وکتل، ما بيا وويل:-

راځه چې ځو، د پرديو ناموس ته بد کتل د شرم خبره ده.

اصغر مې مخې ته ودريده، زما لاسونه يې ونيول، په خواره خوله يې وويل:-

ياره! بس صرف نن غواړم چې ددوی له ليدلو خوند واخلم، هيله کوم راځه يوه شيبه ددې بلبلو سېل کوو، بيا به پخپله مخه ځوو.

ما ورسره خبره نه منله خو د هغه ډېر ټينگار دېته مجبور کړم چې يوه شـــيبه ددوی ننداره وکړو.

د کوهي مخامخ د لارې په ختميدو سره يو جيگ ديوال و او د ديوال په ختميدو کې د ديوال کونج و، دواړه ورغلو هملته ورته کېناســـتو، اصــغر مې لاسونه په اوږو کېښودل.

له حيرانتيا يې خوله وازه نيولې وه، په خيالي انداز يې وويل:-

ياره ! داسې ځای خو مې لومړی ځل دی چې وليده.

ما مخ ورتاو کړ او ومې ويل:-

هو بالکل او پدې لاره ستا لومړی ځل دی چې راغلی يې!

ســـترگې يې وځړيدې، ماته يې وکتل، وروځې يې سره ور وســـتې، بيا يې د کوهي په لور وکتل، ورو يې وويل:-

بس چپ چپ ! دا وخت هېر نکړې، له دې وروسته به هره ورځ په همدې لاره راځو.

- هو هو! ولې نه! چې دوهمه ورځ مې ستا سره يو ځای جنازه ووځي.

اصغر سترگې رډې راووتې، تندی يې تريو کړ، په قار يې وويل:—

ياره ! دا د مرگ خبرې به نکوې گوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولې انجونې له کوهي تاوې وې، چا جامې وينځلې، چا منګي ډکول او ځينې نورو راوړي غوږ لوښي وينځل.

ښه شيبه تېره شوه، منګي يې ډک کړل، ځينې په خبرو بوختې شوې او ځينو نورو پخپلو کې په لوبو سر شو.

موږ دواړو د هغوی له لوبو خوند اخيسته، پدې ټولو انجونو کې يوه ډېره شوخه ښکاريده، ميانه ونه يې وه، له ورايه لږه له وجود څخه غټه ښکاريده او سپين کميس يې په تن و، له رنګه به سپين يا غنم رنګه وه ځکه له ليرې سمه نه ښکاريده.

په لوړ اواز خندا يې زما زړه ته ټکان ورکاوه.

کله به چې هغې وخندل ما او اصغر به يو بل ته وکتل، په سترګو کې به سره پوی شو او بيا به د هغوی په تماشه شو، تر ډېره يې د خندا آواز زما په غوږو کې انګازې کولې، که څه هم د اصغر سره مې ويلي و چې يوه شيبه به پاتې کيږو خو دلته زما زړه دومره لګيدلی وو چې هيڅ مې نه غوښتل لاړ شم.

ښه شيبه مو د انجونو ننداره وکړه، چې يو ناڅاپي ټولې روانې شوې، ما يوازې هغوی ته کتل، اصغر مې له اوږو لاسونه ليرې کړل، د لاس ګوتې يې مخکې ونيوې، په جدي غږ يې وويل:-

مدثره ! دوی ته ګوره؟ هغوی خو روانې شوې؟ لکه چې خپلو کورونو ته ځي؟

له خپله ځای راپاڅيدم، په ټوکو مې ورته وويل:-

هممم ! ستا خو به زړه نه کيږي چې ورسره لاړ شې؟

تندی يې تريو کړ، غاښونه يې سره وچيچل او له لاسه يې کلک ونيولم، مخکې يې ځان پسې کش کړم، خدای خبر هيڅ په ځان پوی نشوم، هغه چې هرې خوا ببولم ورپسې روان وم، انجونې زموږ څخه تقريباً شل متره ليرې روانې وې او موږ داسې ځانونه ښودل چې هغوی ته مو هيڅ پام ندی، شاته پسې روان و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصــغر راته مخکې او ما ورپســـې شـــاته غلي غلي قدمونه اخیســـتل، هیڅ نه پوهېدم چې آخر ولې ددوی څارنه کوو؟ ولې ورپسې شاته روان یو؟

هیڅ مو نه ویل، تر چپلکو لاندې د تیرو ښویدو غړونه اوریدل کیدل، د انجونو خنداګانو او خبرو ته مو غوږ ایښی و، چې پدې وخت کې ناڅاپي هغه د سپین کمیس ځښــتنې راپام شـو، په بیړه یې منګی بلې نجلۍ ته ورکړ او سـیده زمونږ په لور په قار راروانه شوه، پڅپل ځای ولاړ پاتې شوو، د دواړو په څېره کې مو وېره ښــکاره شــوه، اصــغر مخ ماته راواړوه، لړزیدونکې چاودې شــونډې یې وخوځېدې:-

ای پیره ! هغه نجلۍ وګوره! زمونږ په لور راروانه شوه!

نجلۍ په چابکو قدمونه اخیســـتل، ما د هغې قهرجنې څېرې ته کتل، ټیکری یې نیم په ځمکه خویده او نیم د سپینې غاړې له تاون څخه تاوه وه.

د سترګو په پړک کې راورسیده، څو متره لیرې غریو نیولي ستونې ستغ ودریده، تندی یې تریو نیولی و، ساه یې په بیړه اخیسته، په کبر او غرور یې په لوړ اواز وویل:-

ای ! تاسو ته وایم؟ دواړه دلته راشئ؟

دا خبره یې راته ډېره په زړه پورې وه، یوې شـیبې لپاره خو مې داسـې فکر وکړ لکه د پولیسـو افسـرې چې راباندې امر کړی وي، د هغې مکرجن انداز خبرې مې په غوږونو کې انګازې کولې:-

ای! تاسو ته وایم؟ دواړه دلته راشئ؟

اصغر په منډه تاو شو لکه ویریدلي نانځکه زما شاته یې ځان غلی کړ.

ورو یې په وېرېدلي اواز چاودې شونډې وخوځېدې:-

دا نجلۍ کې ضرور څه مشــکل شـــته، ته وګوره له نارینو سره څنګه په مکر خبرې کوي.

نجلۍ دا ځل په قار وویل:—

(c) ketabton.com: The Digital Library

درته وایم دلته راشئ!
اصغر ته مې غاښونه وچیچل، په تشو مې سوک ورکړ، اه اواز یې وکړ.
ورو مې وویل:-
دا ټول ستا د لاسه.
نجلۍ ته مې وکتل، تندی یې تریو و، ورو ورو قدمونه مو ور واخیستل، مخې ته یې په وېرې سره ودریدو، له غوسې ډکې شنې سترګې یې زما په سترګو کې خښې کړې، داسې مې انګېرله چې اوس به را باندې راټوپ کړي او په شخوندونو به مې وخوري، د لاس ګوته یې زما په لور ونیوه، خړې شونډې یې وخوځېدې:-
تاسو دواړو دلته څه کول؟
د یوې شېبې لپاره غلی وم، لږ فکر مې وکړ، خبرې ته مې خوله جوړوله، سر یې وخوراوه، بیا یې وویل:-
هممم! نو تاسو ځارلو؟
ددې لپاره چې خبره نوره غټه نشي، ا صغر چابک قدمونه واخیستل، زما مخې ته یې ودرید، او هغې ته یې په خواره خوله وویل:-
هغه... هغه.. مو.. مونږ....
له اصغر خبره خویه شوه، ماته یې له عذره په ډکو سترګو اشاره وکړه چې اوس ورته څه ووایم؟
اصغر ملامت نه و، که یې حقیقت ویلی وی نو ګیر کیدلو، همدې لپاره یې خبره ونه کړه.
شونډې مې ورته په غاښونو وچیچلې، اصغر یوې خواته شو، توکل په الله ویلو سره ورمخکې شوم، په بنده بنده ژبه مې وویل:-
هغه مونږ له دې لارې تېریدو، نوو تاسو مو ولیدئ، ددې لپاره تاسو مخکې تیرې شئ مونږ خپل قدمونه ورو کړل او شاته درپسې را روان شوو..

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجلۍ دا ځل لا نور هم په قار وویل:-

چې شه دروغجنه ! ماته پته ده، تاسو دواړو مونږ ځارلو.

ما د نه په طور لاس وخوراوه، هغې پسې زیاته کړه:-

بس تاســو لږ صــبر وکړئ چې اوس مې پلار خبر کړم چې له دواړو مو څرمنې وباسي.

ما په بیړه وویل:-

نه نه داسې هیڅ هم نشته، هسې دې پلار مه خبروه.

نجلۍ غلي شوه، له ډېره قاره یې ساه ژر ژر اخیسته.

زما غوسـناکې انجونې ډېرې خوښـیدې، د هغوی زور او سـپکې سـپورې لکه د یوه نارینه.

ا صغر یې مخې ته ودرید، په سوال زاریو یې ورته پیل وکړ، زه غلی وم، یوازې مې د هغې د لاس گوتې ته کتل چې کله به یې ا صغر ته ونیوه، خړې شونډې به یې خوځیدې، بیا به یې ماته گوته ونیوه، تندي به یې گونځې پیدا کړې، شنې سترگې به یې له غوسې وخوټیدې، په ټیکري به یې سپین ټټر پټ کړ.

دا د خیالونو دنیا مې د اصـغر په زوروړې چټکې سره دړې وړې شـوه، له اوږې یې وځنډلم، له غوسې ډکه څېره یې نیولې وه.

وویل:-

دا ته چېرې په فکرونو کې ډوب یې؟ هه! احمقه ! لومړی دې غضــب نه ځان خلاص که بیا ټول عمر فکرونه کوه.

نجلۍ همداسې په قار وه، مخ یې شاته کوږ کړ، ولاړو انجونو ته یې وکتل، څه اشارې یې وکړې، بیا یې مخ راواړوه، ورو یې وویل:-

گورئ هلکانو ! دا ځل مو معاف کوم، خو دا خبره یاد ســـاتئ! که مې له نن وروسته بیا له نظره تېر شوئ، پخدای که به مو دا ټول کلی هم خلاص کړي.

اصغر ددې لپاره چې د نجلۍ خوله نوره بنده شي، ورته یې وویل:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېغمه اوســه ! له نن ورځې وروســته مو والله که په دوربین کې هم وګورې، زه خو وایم چې بیخي دا کلی پرېږدم او بل ځای ته کډه کوم.

نجلۍ لاس خولې ته ونیو، ورو یې وخندل، زه غلی ولاړ وم، یوازې مې د هغې خوځېدونکي خوله او لاسونه لیدل چې یوې او بلې خوا یې اچول.

نجلۍ مخ واړوه او د انجونو په لور روانه شوه.

اصغر له لاسه کلک ونیولم او مخکې یې کش کړم، لږه شیبه مزل وروسته یې ماته یې وکتل چې موسکی خوله په فکرونو کې ډوب یم.

یو ناڅاپي مې ژامه یوې خواته کږه شــوه، چټکه مې وخوړه، ســترګې مې رډې راووتې، یوې او بلې خوا مې وکتل، غوښــتل مې د څپېړې پور ور وګرځوم، څه ګورم هغه اصغر دی، په ګیله لرونکي او مړاوي اواز یې وویل:-

دا ته څه بلا وهلی یې؟ یار زما خو دې کار وکړ کنه.

یو او بل خوا مې وکتل، هیڅوک نه ښکاریدل، ورو مې وویل:-

یاره ! سم خوند یې ونه کړ؟

اصغر پر تندي پرتې خولې په لمن پاکې کړې.

بیا مې په ټوکو وویل:-

خوښه دې نده چې بیا ورپسې ورشو؟

اصغر سر وخوځوه، شونډې یې د غاښونو لاندې کړې، وویل:-

ښه نو ! ته تر اوسه هلته وې؟

ورته موسک شوم، هغه پسې زیاته کړه:-

غرق شې ! ته د انجونو په فکرونو کې یې، دا شکر وباسه چې سلامت ترې را خلاص شوې، ګني هغې خو به بالکل بدنام کړي وای.

د سر ویښته مې وګرول، په غوسه مې وویل:-

پلار به یې هم دومره نر نه وي نوو..

اصغر په بیړه وویل:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار خو يې بالکل نر دی خو پدې لور کې يې هم شکمن يم.

يوه شيبه مو يو بل ته وکتل، دواړو مو وخندل، له لاسه مې ونيوه، ومې ويل:-

راځه ياره! دا خبرې نور پرېږده، کور ته به لاړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

لږه شـــيبه غلی شـــوم، د تېز باران څاڅکي تر کړکۍ دننه راتلل، فرهاد په بيړه ورغی کړکۍ يې بند کړ.
د زوبېر او اصغر په شونډو موسکا غوړېدلې وه، فريد او فرهاد زما څخه سترګې نه اړولې، غوښتل يې ټوله کيسه ورته وکړم، ما بيا پسې زياته کړه:-

وختونه تېريدل، زمونږ هم په ســـيګرټو ګوزاره ونشـــوه، ورو ورو له چرســـو سره عادت شوو، لکه څنګه چې د سيګرټو پيل له اصغر شوی و، همداسې د چرسو پيل هم د هغه وشـو، په لومړيو کې به مو يو يو کش ترې کاوه خو وخت پسـې همداسې تيريده، ورځې بدليدې، همدا شان په مونږ کې هم بدلون راتله.
د اوړي مياشت وه او ځلور نيم مياشتينۍ ازموينو ته لنډ وخت پاتې و.
خو ما پرېکړه کړې وه چې هيڅکله به کلنيو امتحانونو ته ونه رســـېږم، يو ځل مې له مکتب او کتابه بد راغلل، بيا مې د کتاب مخ هم ونه کوت، خو د پلار له ويرې به مکتب ته ورتلم.
زه به ډېر وخت له خپلو ملګرو سره وم، د هغوی سره وخت تيرول راته هر څه ګرځيدلي و، نه مې ښوونځي ته زړه کيده او نه هم کور ته تګ خوند راکوه، بيا مې امتحان ورکړ او نتيجه يې دا وه چې په ځلور نيم مياشـتينۍ امتحانونو کې له دوهمې نمرې څخه پنځلسم نمرې ته تللی وم.
پلار مې راته ډېر غوسه و، خو وروسته يې بيا په خوږه ژبه راته نصيحت شروع وکړ چې د مني په کلنيو امتحانونو کې بېرته خپلې دوهمې نمرې ته راشم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور به مې هم راته نصـــیحت کاوه، زیاتره وخت یې د خپل خاوند طرفداري کوله، زما راتلونکي ژوند ته به هیله منه وه او ټول ارمانونه یې په ما پورې تړلي ښکاریدل.

خفه وم چې څنګه دومره شـــاته لاړم خو نه پوهیږم ما یو ځل له درســـه زړه تور شوی و چې په هیڅ صورت سره د کتاب راخیستو ته مې زړه نه کیده.

د غرمې مهال له ښوونځي څخه راروان وم، ددې پر ځای چې کور ته لاړ شم د زوبېر دوی په طرف ورغلم، دواړه د توت لاندې ناست ول.

زما په لیدو له خپلو ځایونو پورته شول، د ا صغر سترګې لکه ټولې له وینو ډکې وې، سرې سرې تاویدې.

مات مات قدمونه یې واخیستل، زما غېږې ته یې ځان راواچوه.

ټول په نشه ښکاریده، سیګرټ په لاس کې ورسره و، ماته یې ونیوه:-

واخله زړګیه ! چې ذره هم پکې پاتې نشي له ټول سینګرټي دود پورته که.

کتابونه مې یوې خواته وشـړل، سـیګرټ مې ترې واخیسـت، ټول مې وڅکاوه، تر ناوخته له دوی سره ناست وم.

مازدیګر وخت په ګډو وډو قدمونو کور ته روان وم، صرف دومره پوهیدم چې پدې لاره روان یم، نور ټول ځایونه راته داســـې ښـــکاریدل لکه له ما چې تاویږي.

ونې به راته کوچنۍ ښکارېدې، پټې به راته تور ښکاریدل، خپلو قدمونو ته مې فکر و چې ډېر په تکلیف سره به مې اخیستل.

د کور په دروازه ننوتم، ځان مې د دروازې په پلې تکیه کړ، د غوجلې دروازې سره د غوا رشقه ( یو ډول واښه ) ښکاریده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار مې همدا شېبه له پټيو راغلی و، په انګړ کې پياله په لاس په کټ ناست و، ځنګه يې چې زه پدې حال وليدم، پياله يې له لاســـه وغورځوله، په ګړنديو قدمونو يې رامنډه کړه.

له اوږو يې کلک ونيولم، ما ســـترګې ټغې( رډې ) راوتې وې، پلار، ورور، خور او مور مې راته په چيغو شول، په غيږه کې يې کوټې ته يوړم، اوبه يې راباندې واچولې.

پلار مې ورور په منډه د کلي ډاکټر ته وليږه، ډاکټر د کلي په کوز سر کې دواخانه جوړه کړې وه، مور مې راته د خوږو اوبو شربت جوړ کړ، يو دوه غوړپه مې پر پټو ســترګو ورڅخه وکړل، په څو دقيقو کې مې وضــعيت نور هم پســې خراب شو، ترڅو ډاکټر رارسيده زما حالت ډېر خراب شوی و.

ډاکټر سمدستي پوی شو چې په هلک څه شوي، زما ورور ته يې د تروشو پيو ( شړومبو ) راوړلو وويل، پلار مې راته څو غوړپه راکړل، ما نور د څښلو توان نه درلوده.

ډاکټر ټينګار کاوه چې دا ټول جام بايد وڅښې، دا ستا د نشې په له منځه وړلو کې مرسته کوي.

د پيو له څښلو وروسته مې وضعيت لږ څه ښه شوی و، ډاکټر زما پلار ته ډېر غوسه شوی و.

هغه ورته ويل:-

ولې مو زوی ته د خوږو اوبو شربت ورکاوه، خوږ شی نشه لا پسې زياتوي، دا ښه شو چې په وخت راغلم ګني د زوی ژوند مو له خطر سره مخ کيدای شو.

پلار مې د نشې له نوم اوريدو سره وارخطا شوی و.

له ډاکټر څخه يې وپوښتل:-

ډاکټر صاحب ! زما زوی نشه کړی؟

ډاکټر ځواب ورکړ:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو ! ستا زوی چرس څکولي او دا ځل ممکن ورسره ډېر بلد شوی ندی ځکه یې دې حالت ته رسولی دی.

پلار مې یوې خواته ډېر خفه او بلې خوا ډېر غوسه شوی و، هیڅ یې باور نه کیده چې ګوندې مدثر دې داسې کار کړئ هم وي.

پلار مې ټولو ته حال ویلی و، مور مې د سینه بندۍ مرض هم درلوده، د پلار له خولې زما په اړه له خبریدو ډېره خفه شوي وه.

ساه یې لنډه لنډه اخیسته، خور مې په ژړا ژړا د هغې خواته ناسته ورته زارۍ کولې:-

ادې ! ته تشویش مکوه، مدثر داسې کار نشي کولای، دا هم راته ډاکټر شو، اغه بله ورځ یې په پټیو کې غوا پولې نن ورځ راته زما په ورور د چرسو څکولو تور لګوي، دروغ وایي.

له ټولې شپې تېریدو وروسته سهار ناوخت مې سترګې خلاصې کړې، څه ګورم په کټ پروت یم، شاوخوا مې راته مور او خور ناستې دي.

د دواړو سترګې له اوښکو ډکې دي، مور مې په سر لاس راتېر کړ، ما د پورته کیدو هڅه وکړه، خور مې له اوږو ونیوم، بالښت یې اوږو ته رامخکې کړ، د مور سترګې مې همداسې له اوښکې ډنډ وې.

زه پوی شوم چې ټول خبر شوي، په مینه مې وویل:-

ادې ! ته ولې ژاړې؟ وګوره زه رک روغ یم، بلکل ښه شوی یم.

د مور له سترګو مې لکه باران داسې اوښکې وریدې، په مینه راپاځېده، زما په سر یې لاس راتېر کړ او په تندي یې ښکل کړم.

خور مې راته ډوډۍ تیاره کړې وه، ډېر وږی شوی وم، ما هم پرې سمدستي بسم الله کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ډوډۍ په نيمايي کې مې ورور او پلار دواړه کوټې ته راننوتل، څنګه مې چې پلار راته وکتل، په مرۍ کې مې شخوند وچ پاتې شو، لړزه راباندې راغله، سر مې وځړيد، زما د وضعيت پوښتنه يې وکړه او له کوټې ووت.

ورور مې راته دوا هم راوړي وه.

دوه ورځې په کټ پروت وم، زما هم په کور کې بيخي زړه تنګ شوی و.

غوښتل مې چې دباندې لاړ شم، خو خور مې راته د کټ سرته ناسته وه، او هيڅ چېرې يې اجازه نه راکوله، بهانه به يې دا وه چې ډاکټر ويل تر څه وخته دې له کټ څخه نه پاڅېږې.

ما به چې خپله غلطي وليده او د پلار له غوســې ډکې څېرې ته نو له ډېرې وېرې به لړزه راباندې راغله.

هغه ډېر قارجن سړی و، هر څه يې زغملی شول خو ورسره غلطي کول او دروغ ويل پرې بيخي بد لګيدل، سوچ کوپر ورته ښکاريده.

دا ځل ما غلطي کړې وه، مال خدای نخواســته که يو ځل يې د وهلو شروع راباندې وکړه هيڅوک به مې ورڅخه خلاص نه کړي.

ما سپېښين وخت و، لمونځ کولو ورو سته په کټ نا ست وم، له خور سره په خبرو لګيا وم، پلار مې ســـاه نيولی په کوټه راننوت، بيلچه هم ورسره وه، زما په زړه ځړيکه تېره شوه، په غوسه يې وويل:-

تاسې مور او لور که ترې ماړه شوي نه وی، نو ترې سترې شوي خو به وئ، دا زوی مو لږ راپرېږدئ، پټې پنه ( اوبه ) کوو.

زه په بيړه د څه ويلو پرته له کټ څخه پاڅيدم، مور مې ورمخکې شــوه او ورته يې وويل:-

سړيه ! مدثر همدا اوس اوس لږ ښه شوی دی او ته يې بيا پنه کولو ته بيايې؟ د هغه حالت به نور هم خراب شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار مې چې خبرې ته خوله جوړوله، ما ترې په بېړه وار مخکې کړ او ومې وويل:-

ادې ! زه رک روغ يم، کولای شم پټه وکړم.

ما هم دا هر څه د پلار د غوسې کميدو لپاره کول.

ورور مې په وياله پسې تللی و، زه او پلار مې پټې کې لګيا و، د شپې تر ناوخته مو اوبه ولګوله، د پلار غوســې ته په کتلو مې ښــه ځان ســتړی کړ، ما ويل ګوندې لږ رحم خو يې راباندې راشي.

خو نه مې د پلار غوسه سړه شوه او نه زما وارخطايي کمه شوه.

ناوخته کور ته راغلو، ډېر ســتړی وم، بيلچه مې د غوجلې په دروازه پســې ودروله، زه سـيده خپلې کوټې ته لاړم، خور مې راباندې ډېر کوشـش وکړو چې ډوډۍ وخورم خو څه د پلار وېره او څه زړه تنګون له امله مې ډوډۍ ته زړه نه کيده.

په کټ وغزيدم، له ډېرو فکرونو سره ويده شوی وم.

د سـهار په خړه کې مې سـترګې خلاصـې شـوې، شـاو خوا مې وکتل، د ورور خريده اوريدل کيده.

له کوټې راووتم، د پلار په کوټه کې څراغ بل و، کيدای شي پلار مې وو.

لاړم، اودس مې وکړ او په ارام سره مې لمونځ ادا کړ.

زړه نه زړه د پلار کوټې ته لاړم، پلار مې تکيه کړې وه، د سـهار چايو په څکلو بوخت و، له وچې ډوډۍ يې يو بخرکی ورپرې کړ، د چايو پيا له يې خولې ته يوړه.

زه پټــه نيولی د دروازې په ليخک کې ولاړ وم، زړه مې نشــو کولای د پلار مخکې کېنم، پلار مې راته پام شو، له سرو رګونو ډکې سترګې يې ماته ونيوې، د تندي ګونځې يې لا پسې ژورې شوې او زما زړه نور هم په ټوپونو شو.

د ورتلو اشاره يې وکړه، په بېړه ورغلم، مخامخ په دسترخوان ورته کېناستم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پیالې یې شر پورته کړ، په ســپینو بریتو یې د چایو ځګ ښــکاره شــو، وې ټوخل، پر بریتو یې دسمال کش کړ، په ډکه خوله یې وویل:-

مدثره ! خبر شوم چې په نشو تماشو دې پیل کړۍ!

ما هیڅ نه ویل، یوازې مې خیرن دســترخوان ته کتل، له ډېرې وېرې مې لاسونه په لړزه ول، زړه مې ټوپونه وهل، هغه راته په تریو تندي کتل.

ګوله یې همداســې په خوله کې ژوله، پوهیدم که دروغ ووایم نو نور به هم راته په غوسه شي نو همدې لپاره مې هیڅ ونه ویل غلی وم.

پلار مې راته همداســې کتل، بریتونه یې وځړیدل او ګوله یې تېر کړه، چیغه یې کړه:-

ووایه! ولې دې داسې کول ها؟

چټکه مې وخوړه، رنګ مې ســور اوختی و، ټولو ماته کتل، خور مې په ولاړه له ډېره تشویشه لاسونه سره مروړل، ورو مې لړزیدونکې شونډې وخوځیدې:-

بابا ! په هغه ورځ باندې له ملګرو سره وم، دوی ســیګرټ ځکول نو ما هم ترې څو کشونه وکړل.

پلار مې چیغه کړه:-

غلی شه سپیه ! تېره ورځ مې ستا هغه دوو چرسیانو ملګرو هم وپوښتل، تا له چرسو مخکې په سیګرټو هم زړه یخ کړۍ احمقه.

وجود مې په لړزان پیل وکړ، سر مې ښکته وځړید، لکه یخ وهلی مارغه داسې رپیدم، آخر مې هم دروغ وویل او ګیر شوم.

پلار مې یوې خواته کوږ شــو، د چایو ډکه پیاله په لاس ورغله، کړنج شــو، په تندي کې مې نرۍ درد تېر شــو، د زنګونونو خوا کې مې نیمه ما ته پیا له وغورځیده او د ګرم چایو ځګونو مې ویښته لانده کړل.

ورپسې نرۍ لیکه د وروځو له منځه په پزه راروانه وه، پر لمنه مې د وینو څاڅکي وغورځېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ککرۍ مې ګرمه شوه او لیکه لیکه لوګی ترې پورته شو.

مور او خور مې چیغه کړه، پلار مې غوښـــتل د بلې پیالې ګوزار هم را باندې وکړي خو مور مې راباندې راپریوته او هغه ته یې پرېښښودم.

پلار مې همداســې ځان کشــاوه، هغه مې ورور له مټو کلک نیولی و، مور مې ورته چیغه کړه چې له کوټې یې دباندې وباسي.

زما له تندي وینو لارې جوړې کړې وې، په سترګو کې مې ډنډ اوښکې ولاړې وې.

ورور مې پلار کشـاوه خو زه ژر له خپله ځای راپاڅیدم، په منډه روان شــوم، له کوټې ایبلې پښې راووتم، له شا نه مې مور او خور راپسې منډې کړې.

جامې په وینو سرې له انګړه تېر شــــوم چې څنګه له دروازې پنا کیدم مور مې چیغه کړه:-

مدثره !

د دروازې لېخک کې ودریدم، په مخ مې وینې روانې وې، له اوښـــکو ډکې سترګې مې مور ته ور واړولې.

مور راته په ژړا وویل:-

زویه ! ســتا له تندي وینې روانې دي، زخم دې ژور دی هســې نه خدای مکړه تې درپسې لیونی شي.

هیڅ مې نه ویل، له وینو سره اوښــکې ګډې شــوې، د ګرېوان لاره یې خپله کړه.

ځغلنده نظر مې په مور، خور چې په انګړ کې ولاړې وې او ورور، پلار باندې واچوه چې په برانډه کې له اوږو نیولی و.

یو ناځاپي له دروازې پنا شــوم، ورور مې راپســې منډه کړه، خو زه لکه پیری بیا ورک شوی وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصغر همدا شیبه له کور څخه بهر تللی و، سیده لاړم د زوبېر دوی کور خواته، زوبېر د کور دروازې مخکې ناســت و، زه چې څنگه په هغې حالت ولیدم، په منډه راغی.

په وارخطایۍ یې وپوښتل:-

وه هلکه ! دا دربانډې څه شوي.

ساه مې لنډه لنډه اخیسته، ځمکې ته مې کتل، ټول سر مې درد کاوه، ما هیڅ نه ویل، له تندي مې همداسې وینې روانې وې، خو زوبېر پوی شوی و.

له بلې خبرې کولو مخکې یې له لاسه ونیوم، په تونده لهجه یې وویل:-

وه احمقه ! ژر راځه چې ډاکټر ته ورځو، چې سر دربانډې پټۍ کړي.

ما هیڅ نه ویل، دواړه په چابکو قدمونو روان و، په لږه شــیبه کې د کلي ډاکټر ته ناست وم او پټۍ یې راباندې لګولې.

زوبېر ډاکټر څخه وپوښتل:-

ټپ خو یې ډېر ژور ندی کنه؟

ډاکټر له بیاتۍ کړچ پورته کړ، پټۍ یې پرې کړه، سـترګې یې زما په تندي کې نیولې وې، ورو یې شونډې وخوځیدې:-

نه دومره ټپ ندی خو له ډېر کلک ځیز سره لګیدلی، د ټپ خواو شـا ټوله شـنه شوي.

تر ډېره د ډاکټر سره و، لږه دوا یې هم راکړه، وروســته د زوبېر دوی کور خواته لاړو، هغه ویل حجرې ته ورسره لاړ شم خو ما غوښتل د ونې سرې سیورې ته کېنو.

زوبېر ورو وویل:-

اوس ښه یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هو په طور مې سر وخوځاوه، بیا مې ترې سـیګرټ وغوښـت، زوبېر زړه نا زړه شو، لاس مې همدا سې په هوا کې پاتې وه، په زوره مې وویل:- درته وایم یو سیګرټ راکه.

زوبېر پوی شو چې که انکار وکړم مدثره به خپه شي، اور یې ورته کړ.

سـیګرټ به مې نیم ځکولی وي زوبېر غوښـتل په ټوله کیسـه پوی شي، ما هم ورته ټوله کیسه تېره وکړه.

پدې شیبه کې اصغر هم ښکاره شو، چې په ګړندیو ګامونو راروان دی.

دواړه ورته خپل ځای نه پورته شـو، زمونږ خواته په رارسـیدو یې سـاه لنډه لنډه کیده، تندي یې ګونځې لرلې، له کېناستو مخکې یې په ستړي غږ وویل:-

مدثره ! ته ماته وښایه ټپ خو به دې ډېر ژور نه وي؟

هغه مې تندي ته کتل ما لاس واچوه، ومې ویل:-

ښه دی یاره! دومره غټ ټپ ندی.

اصغر سترګو کې خوښي راټوله شوه، غلی په پرویړه کېناست، خړې شونډې یې وخوځیدې:-

ځه شکر چې ښه دی.

لږه شیبه ټول غلي و، مخکې مو شنه فصل ته کتل، اصغر چوپتیا ماته کړه، په ټوکو یې وویل:-

مطلب یوې پیالې ګوزار وژړولې؟

اصغر او زوبېر دواړه په خندا شول، ما هیڅ ونه ویل، نرۍ موسکا مې په شونډو پرته وه، زوبیر له خندا سره په ګډ اواز وویل:-

یار! ما خو ویل ته ترټولو سـخت زړی او سـخت ترین انسـان یې چې هیڅ به دې اوښکې په سترګو کې رانشي خو اوس ګوره!

په قار مې وویل:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس کئ! دا مردارې خولې مو دربندې کړئ، ژر راته یو سیګرټ ډک کړئ چې دا ماغزه مې لږ ارام کړي.

اصـــغر په بیړه خپل جیب ته لاس کړ، بیا ورپســـې بل جیب ته، زوبېر ته یې وکتل، د نا په طور یې سر وخوځوه، زوبېر هم جیبونه وپلټل، خو د چرسـو درک نه وه.

اصغر وویل:-

مدثره ! چرس خو ختم شـــوي دي، او په جیب کې د لســـو روپو نه علاوه نور هیڅ نشته.

سر مې وخوځوه، ومې ویل:-

همم! مطلب چې پیسې هم نشته؟

دواړو د هو په دود سرونه وخوځوه، نرۍ خندا مې وکړه، ومې ویل:-

ډېر بیکاره نصـــیب مې دی، کله چې دې د کار وخت وي، درنه منډې وهي او چې دې پکار نه وي هر وخت درسره وي.

درې واړه هملته ناست و، ډېره شیبه ووته، د هیڅ شي درک نه و، زوبېر په پټې کې رغړیده، په لوړ اواز یې وویل:-

وه احمقانو! یوه چاره جوړه کړئ، دا چرس راپیدا کئ، خبر دی ســـوال درته کوم، که وې نه ځکوو نو ګوزاره ګرانه ده.

توت ته مې ډډه کړې وه، د سر ټپ با ندې مې ګوتې ووهلې، په زوره مې وویل:-

له کوره وتلی یم، ګني درته مې له کومې ســوړې را پیدا کولې او دا غضــب مو پرې اخیسته.

اصغر غلی ناست و، کوچنۍ خلۍ یې غاښونو کې وهه،

زوبېر په مړاوي غږ وویل:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ دا څو ورځې لږ سپېره شوي یو، هیڅ پیسې لاسته نه راځي، مخکې خو به مو لږه غلا کوله اوس هغه هم نشو کولای.

په حیرانتیا مې وپوښتل:-

غلا؟

- خود! دا اصغر څه دی، دا ټول چلونه راته هغه ښودل او راته مخکې به هم دی و.

نری موسکا مې وکړه، بیا مې وپوښتل:-

له چا چا مو غلا کړي؟

په سوچ کې شو بیا یې وویل:-

یاره ! دا کوچنۍ کوچنۍ غلاوې مو کړې دي، لکه دوکان نه غلا کول، له خپل کور نه څه پټول، د چا جیب وهل.

بیا لا خندا شین شوم، لږه شیبه مې هغوی ته وکتل، په موسکی خوله مې وویل:-

دا خو ډېر تکړه خلک یئ، باور وکړئ، ما هیڅکله داسې فکر په تاسو نه و کړئ، حتی دا دومره وخت مې درسره تېر شو ما کله هم شک ندی کړی.

اصغر همداسې په فکرونو کې ډوب و، ښه شیبه د زوبېر سره په خبرو لګیا وم.

یو ناڅاپي اصغر ټوپ کړ، په لوړ اواز یې وویل:-

هې ملګرو ! د چرسو راوړلو یوه زبردسته لاره مې پیدا کړه.

دواړه ورنېږدې شو، په یو اواز مو وویل:-

کومه لاره؟

- غلا...!!

ومې خندل، بېرته مې پخپل ځای ځان سم کړ، ورو مې وویل:-

همدا اوس مو هم په همدې خبرې کولې.

- نو دا خو ډېره ښه خبره شوه، راځئ چې غلا وکړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما شونډې وځړیدې، په مړاوي غږ مې وویل:-

ما کله هم غلا نده کړې، زما له وسه نه کيږي.

اصغر په خندا شو، شونډې يې وخوځېدې:-

ولې به نه کيږي؟ غلا خو ډېره آسانه ده، ما ډېر ځلې کړې.

يوه شـــيبه غلی وم، زوبېر هم څه نه ويل، سر مې وګراوه، هغه ته مې وکتل، ورو مې وويل:-

څه سي شو! اوس دا ووايه غلا به له چانه کوو؟

له خپل ځای نه پاڅيده، لمنې ته يې څنډ ورکړ، خړې دوړې ترې پورته شوې.

دوه قدمه يې مخکې واخيستل او وې ويل:-

تاسو همدلته کښېنئ، زه ورځم چې همغه پخوانی فارموله پرې استعمال کړم.

ما او زوبېر يوه شـيبه يو بل ته وکتل، اصـغر مو چې ليده هغه په چابکو قدمونو روان و، پسې غږ مې کړ:-

وه هلکه ! خبره واوره! وايم مه څه؟ هسې نه په کومه کې به ښکېل شې.

لاس يې پورته کړ او پخپله مخه روان و.

اصغر د کلي يوه دوکان ته ورسيده، په وېرې سره يې مخکې قدمونه اخيستل، ســـاه يې تازه کړه، په مخ يې ګوتې ووهلې، ځان يې بيخي عادي وښــوده، دوکان ته ننوت، څه ګوري ټول دوکان له خلکو ډک دی، ټول له يو بل سره په خبرو کولو بوخت ول، دوکاندار هم ډېر مصرـــوف و، کله به له يوې خوا د څه غوښتلو غږ شو او کله به له بلې خوا:-

وروره! هله ماته يو کيلو لوبيا راکه!

-وروره! هله ماته دوه کيلو پياز راکه!

-وروره! ماته يو کوتی بيسکټ راکه!

په همدې خبرو کې اصغر هم پرې ور غږ کړ:-

وروره! ماته يو درجن مالتې راکه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوکاندار وار په وار هر یوه ته خپل خپل شیان رواخیستل، اصغر بیا وویل:-

ای وروره! لږه زر کوه؟ ډېر په بیړه یم، یو درجن مالتې راکه او زما باقي پیسې هم.

دوکاندار یو درجن مالتې رواخیستې، اصغر ته یې ورکړې، بیا یې ورته په ځیر وکتل، وی پوښتل:-

وروره! تا ماته څومره پیسې راکړې وې؟

اصغر یو بل خوا وکتل، شونډې یې وخوځېدې:-

پنځه سوه روپۍ مې درکړې وې.

دوکاندار د څه ویلو پرته له صندوق څخه پیسې رواخیستې او اصغر ته یې ورکړې او په چابکو قدمونو له دوکان څخه راوته.

ډېر خوښ ښکاریده، یوه شیبه یې ځان سره خپله بریا ولمانځله.

له هغه ځایه یو بل دوکان ته لاړ او یو څو د چرسو پوړۍ یې رواخیستې.

زه او زوبېر په انتظار ستړي شوي و، ډېر وارخطا و، په ځای لکه الوتکې داسې تاویدو.

عجیب عجیب فکرونه به راتلل، زوبېر قدم وهل بس کړل، په لوړ اواز یې وویل:-

دې کم عقل ستا خبره نه اوریده، ته به ګورې هغه به یې ګېر کړی وي.

یوه شیبه مې ورته وکتل، سر مې ورته وخوځوه، ومې ویل:-

زوبیره! یو به ستا دا منفي خبرې هیڅ ورکې نشي.

زوبیر په مړاوي غږ وویل:- نو څه وکړم یار؟ هغه په داسې کار پسې تللی چې ډېره خطره پکې ده.

موسک شوم، ورو مې وویل:-

نه ته بېغمه شه! هغه تکړه دی، زه پرې باور لرم خو ته به دې دا خوله بنده کړې، الله مکړه ستا دا سپېرې خبرې یې وخوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوبېر شونډې وځړيدې، يوه شيبه مو نور هم انتظار وکړ.

څه ګورو د لويديځ خړو ګردونو کې يو ځوک ښــکاري چې په منډه راروان دی، ما او زوبېر يو بل ته وکتل، هغه په ګړنديو ګامونو راروان و، څه ګورو هغه اصغر و، د هغه په ليدو ســم وارخطا شــو، مونږ دا فکر وکړو چې هغه ګير شــوی او ځوک له شاه ورپسې دي.

ما او زوبېر منډې ته ځانونو چمتو کړل خو وروسـته مو چې هغه خوشـحال وليد نو پوی شــو کار يې کړی دی، په لاس کې ورسره د چرســو پوړۍ او يوه توره کڅوړه ښکارېده، مونږ دواړه ورته له خپله ځايه جګ شوو.

مخکې ورغلو، په خندا خندا را روان و، کلکه غېږه مو ترې چاپېره کړه، له خندا سره په ډک اواز يې وويل:-

اوس ووايه منئ مې کنه؟

ما په اوږه ټپ ورکړ، ومې ويل:-

شاباس! بالکل دې منو.

زوبېر وويل:-

که مو دا ځان ښــودنې پای ته رســيدلې وې نو ژر دا ســيګرټ ډک کړئ چې رګونه مې خارښ کوي.

اصــغر د ســيګرټ په ډکولو کې ډېر تکړه و، ډېر ژر به يې ســيګرټ ډک کړ، هملته د توت لاندې ورته کېناستو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

ټوله ورځ له اصغر دوی سره وم، او د شپې لپاره د زوبېر حجره کې پاتې شوم.
په کور کې راته ټول پرېشانه شوي و، زه يې په ټول کلي کې لټولی وم، زمونږ له تربورونو او خپلوانو يې هم زما په اړه پوښـــتنې کړې وې خو هيڅوک نه پوهيدل زه چېرې تللی وم.
اصـــغر ته مې هم ويلي و که يې زما په اړه درڅخه وپوښـــتل چې چېرې دی؟ ورته ونه وايې چې زوبېر سره تللی دی، نه غواړم راباندې خبر شي.
دوی دواړو به هم زما خبره منله.
توره تياره وه، د زوبېر سره په حجره کې ناسـت وم، د لالټين تته ژېړه رڼا مو په مخ پرته وه.
دواړو مو له زنګونونو کمپلې تاو کړې وې، د چايو په څښـــلو لګيا و، کوټه کې خاموشي خپره وه، له بهر څخه د کوم سپي غپه اوريدل کيده.
زوبېر د چايو پياله ورپورته کړه، غوړپ يې ترې وکړ، ورو يې وويل:-
ياره مدثره ! دلته مې بيخي زړه تنګ شـــوی، زړه مې غواړي کوم چېرې ليرې لاړ وی، دغه ځای بيخي بې خونده دی.
ما په بيړه وويل:-
وايم دين دې نر دی، ما هم اوس په همدې خبره سوچونه کول.
- مطلب ستا هم همدا پرېکړه ده چې غواړې له کلي لاړ شې راسره؟
- هو کنه ! ما دا پرېکړه دا څو ورځې مخکې کړي خو داســې کوم ملګری مې نشو پيدا کولای چې راسره يې مخه کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوبير لږه شــيبه غلی شــو، ما ته يې په ځير ځير کتل، ورو يې شــونډې وخوځيدې:-

او کور دې؟

يوه شيبه خاموشي خپره شوه، په پياله کې مې سترګې خښې کړې وې، ومې ويل:-

نه نور هلته نشم تللی، زړه مې نه غواړي لاړ شم.

زوبير شــونډو کې موســکی شــو، د خرييلي بريت غاړه يې وګروله، غلي يې وويل:-

ګرانه! ســتا سره زما ډېر وخت وشــو، تا هيڅکله هم د پلار خبره ځمکې ته نده غورځولي ليکن نن ورځ چې تا هغه ســمې لارې ته راولي بيا ته څنګه داســې کوې چې کور دې پرېږدې او هيڅکله نه ورځې؟

غلی پاتې شوم، د خبرې ځواب مې نه لرلو، لږې خاموشی وروسته مې وويل:-

ياره! اوس مې همغه خوند نشته، په خوی او خصلت کې مې هم فرق راغلی، درســونو کې خو بيخي صــفر شــوی يم، کور کې راباندې ټولو باور ختم شــوی، يوازې مور او خور مې دي چې زما فکر ورسره دی او ډېر خيال مې ساتي، پلار سره مې هيڅ ليدلی نشــم، کله کله وايم هغه راسره هيڅ مينه نکوي، کله يې هم په مينه راته خبره نده کړي، تل يې تندی تريو وي.

يوه شــيبه غلی شــوم، بيا مې پســې زياته کړه:- بس خبر نور ما پرېکړه کړي، هيڅکله به ترې په شا نشم.

زوبير خبرو کولو ته خوله جوړوله، ژر مې وويل:-

زوبيره! هيله کوم! پدې اړه راسره نور بحث مکوه، نغواړم کوم څه واورم.

زوبير اوږده ســاه واخيســته، له قاب څخه يې خواږه ور پورته کړ، غلي يې وويل:-

ښه سمه ده! اوس ووايه بايد څه وکړو؟ او څه کول پکار دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما وویل:-

ځو ورځې مخکې یو څو کلیوال ښار ته په مزدورۍ پسې لاړل، هغوی ویل چې ښار کې ډېره پېسه ده او ډېر کارونه دي، کولای شې په میا شت کې ډېر څه لاسته راوړې، نو زما نظر دادی چې مونږ به هم ښار ته د کار پیدا کولو لپاره لاړ شو، کیدای شي کوم کار په مخه راشي او خپله غریبي پرې مخکې بوزو.

زوبېر زما خبره خوښه شوه، بریتونو باندې یې گوتې ووهلې، وویل:-

زما خو ستا خبره خوښه شوه لیکن باید اصغر سره هم پرې خبرې وکړو، کیدای شي هغه هم راسره لاړ شي.

ورسره ومې منله، شپه تېره شوه، سبا سهار اصغر سره د زوبېر دوی کور مخکې د ونې سیورې لاندې ناست و، زوبېر وویل:-

اصغره ! زما او د مدثر پریکړه شـوې، غواړو ښـار ته کار پسـې لاړ شـو، بل ته لاس نیول مو ډېر شول، باید پخپلو متو یو څه پیسې وگټو.

د اصغر تندی تریو شو، خولې یې په ځمکه وویشته، په زوره یې وویل:-

نمک حرامو ! تاسـو دواړه ځئ او ما یوازې پرېږدئ؟ دا سـتاسـو ملگرتیا وه؟ بېغیرتو..!!

دواړو مو په حیرانتیا ور وکتل، ما وویل:-

وه کم عقله ! څه بلا ووهلې؟ مونږ کله ویلي تا یوازې پرېږدو ؟ درته مو وویل چې که دې خوښه وي راسره لاړ شه.

اصغر خجالته شان ژبه په غاښونو کې ونیوله، خولې یې راوخیسته، خاورې یې ترې پاکې کړې، نېږدې راغی، په خندا یې وویل:-

سمه ده یارانو! بس خوښه مې ده، راځئ چې ځانونه تیار کړو، او پسې ځو.

زوبېر یې خبرې ورپرې کړې:-

نه نه یاره ! نن به ځانونه تکمیل کړو، ټول شـیان به تیار کړو، سـبا وخته به پسې ځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو مو ورسره ومنله، اصـغر د کور په خوا روان شـو، پښـه نيولی شـو، مخ يې راواړوه، ورو يې وويل:-

مدثره ! راځه کنه، ته به دې هم خپل شيان تيار کړې.

غلی وم، لږه شيبه فکر مې وکړ، زوبېر ته مې وکتل، زوبېر سر وخوراوه، له خپل ځايه راپاڅيدم، غلی غلی ورسره روان شوم.

په ټوله لاره مې همدا فکرونه کول.

څنګه به کور ته ننوځم؟ څه به پېښيږي؟

آيا پلار به مې همداسې غوسه وي؟

په ډېرو فکرونو کې د کور پر دروازه غلی دننه شوم.

يوې او بلې خوا مې ورمېږ کوږ کړ.

د چوترې لږ وړاندې د چرګو کوړخۍ سره مې په غوا سـترګې ولګيدې، رشـقه ورته پرته وه او شخوند يې پرې واهه.

بيا مې مخامخ وليدل، مور مې د کور په برانډه کې د جامو په جوړولو لګيا وه، نور ټول کور تش ښکاريده.

ورو ورو مې قدمونه واخيستل.

تېره ورځ رایاده شوه:-

له هغې کوټې يو هلک چې جامې يې په وينو رنګ وې، له دې ځايه ييلې پښې په منډه تېر شو، د دروازې په ليخک کې ودريد.

د کور په دغه ځای کې يوې بوډۍ ورته سـوال زارۍ کولې، خو په دروازه کې ولاړ هلک چې له سر يې وينې روانې وې، ډېر ژړيده، زړه يې مات شـوی و، ډېر خپه و، اوښکې ترې روانې وې، يو ناڅاپي ورک شو، بوډۍ ښځې او يوې پيغلې پسـې منډه کړه، دلته يو هلک هم له برانډې ټوپ کړ، په هغه بل هلک پسې يې منډه کړه، خو هغه يې پيدا نکړ.

ټوله صحنه راته لکه د يو فلم داسې تېره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انګړ تر نیمایي ورسیدم، خور مې د کوټې له کړکۍ ولیدم، چیغه یې کړه:-
ادې ! وګوره لالا راغی.
مور مې په حیرانۍ مخ را پورته کړ، پر سر یې ټیکری سم کړ، په بیړه راپاڅیده، په یبلو پښو زما په لور رارروانه شوه.
خور مې هم ورپسې شـاته وه، مور مې لومړی د سر ټپ ته وکتل او بیا یې په مړاوي غږ خړې شونډې وخوځیدې:-
زویه ! څنګه هلته ولاړ یې؟ راځه دننه.
ډېره ګیله راته ولاړه وه، زړه مې ډېر ډک و، غوښـــتل مې د مور غېږې ته ځان واچوم او ښـه ډېر وژاړم، ډېر شـکایتونه ترې وکړم خو هیڅ مې نه ویل، چوپه خوله ورسره روان شوم.
مور مې بیا وویل:-
تېره شپه ته چېرته وې؟ هه؟ ته خبر یې مونږ درته څومره په تشـویش کې وو؟ او ورور خو دې د شـپې تر ناوخته پورې کلی او د کلي بهر هر ځای درپســې ولټوه، ته کومې خوا تللی وې؟
خور مې هم راورسیده، له لاسه یې ونیوم، په خفه اواز یې وویل:-
لالا! باور وکړه ډېره درپسې خفه شوي وم، راځه دننه کوټې ته راشه!
ما هیڅ نه ویل، د مور او خور لخوا کلک نیولی شوی وم او دننه یې کش کولم.
پلار مې د کلي خان حجرې ته تللی و، مور مې ویل چې تر مازدیګره به هملته وي، ځکه خان له چا سره د پټي پر سر دعوه روانه ده او زما پلار بیا د خان پلوي کړي.
ښــه شــیبه تېره شــوه، خور مې راته چای او پراټې تیارې کړې او مور مې راته ښې ډېرې خبرې وکړې.
د پلار په اړه چې غوسه یې کمه شوي، ورشم او ترې ببښنه وغواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما هیڅ نه ویل، غلی ناســـت وم، په فکرونو کې بلها زیاتې ګیلې او ســـوچونو راغلل، ما یوازې د هو په طور سر خوځوه، بیا بیا ځل یې رانه د خبرو نکولو پوښتنه وکړه، ما به صرف همدا وویل:-

ادې ! سر مې درد کوي.

د چای څکلو وروسته تر ډېره د مور سره په کوټه کې ناست وم، ډېر نصیحتونه یې راته وکړل.

ماسـپښـین وخت کې مې ورور هم راغی، ما غوښـتل د پلار له راتلو مخکې له کوره ووځم، دوباره مې نشول کولای چې ورسره سترګې په سترګې شم.

ډېر مې زړه تنګ و، آخر مې ورڅخه په یوه بهانه ځان راخلاص کړ او خپلې کوټې ته راغلم، په کټ اوږد وغزیدم، شیبه وروسته مې ورور هم راغی په کټ کېناست.

غلی و، هغه به دومره خبرې نکولې، تل یې خاموشي خوښوله.

لږه شیبه پخپل کټ ناست و خو بیا بیرته زر ووت.

د کوټې چت ته مې کتل او سوچونو ړسې واخیستم، له کوره د تلو مې زړه هم کیده او ساړه هم.

غوښـتل مې لاړ شـم، یو څه لاسـته راوړم، څه به تل د پلار پیسـو ته سـترګې غړوم، هغه بیچاره هم نور بوډا شوی و، لاسونو کې یې ګونځې پیدا شوې وې، اکثره وخت به یې ملا په کلک پړي تړلي وه، د کار کولو په وخت به یې ټول وجود لړزیده او بار بار به یې سوړ اسویلی ایسته.

نه کیده نور باید تللی وای، خو زړه نا زړه وم.

تر ماښام پورې مې سوچونه وکړل، خو همغه سوچ او همغه خیال مې له ماغزو ونه ووت.

بلې خواته مې زوبېر دوی سره وعده کړې وه، وعده خلافي هم راته ښه ښکاره نشوه، د نورو وختونو په څیر مې بیا هم کور ته شاه او ملګرو ته مخ کړ.

کوټه کې هیڅوک نه و، له بلې کوټې مې د مور خبرو اواز راته.

پلار مې هم داسې معلومیده چې د خان حجره کې ایسار شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهر مې وکتل، توره تياره وه، هيڅوک نه ښکاريدل.
په دوو دقيقو کې مې خپل شيان په يوه پنډا کې وتړل، د چت په وراسته شوي لرگيو منځ کې مې يو څه اندازه پيسې پټې ايښې وې، هغه مې هم رواخيستې.
يو ځل مې بيا دباندې وکتل، هيڅوک نه ښــکاريدل، پنډا مې رواخيســته او له خپله کوره لکه غل داسې غلی غلی راووتم.
د اصغر د کور په خوا ورغلم، هغه مې هم له ځان سره په توره تياره کې د زوبېر دوی کور خواته روان کړ.
لاره کې توره تياره وه، د خپل خواږه کور او کلي سره زمونږ اخرنۍ شپه وه.
دواړه په لاره خاموش روان و، يوه هم د تلو زړه نه کيده، خو چې مجبوري شي، بلې خوا غريبي با يد هر څه وزغمل شي، ټولو مو دا خبره په شريکه وکړه:-
نن مونږ په سفر ځو، له خپل کلي او کور ډېر ليرې، زمونږ ترمنځ چې هره پېښه راځي، د هغې سره به درېواړه په يو لاس مقابله کوو، هيڅکله به يو بل نه پريږدو، مونږ ټول د يو بل ورونه يو، تل به د يو بل په خواکې و.
مونږ هم هر څه تقدير ته پرېښــودل او خپل منزل ته ځان رســول مو لازمي وبلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

سبا سهار له کلي په يوه موټر کې د ښار په لور روان شو، دا زمونږ لومړی ځل و چې ښار ته تللو.

ډېر وارخطا وم، ما ويل په ښـــار کې هيڅوک نه پيژنو، هيڅ کوم خپلوان، ملګری يا کليوال پته هم راته نه لګي او په ښار کې هم هيڅ بلد نه يو.

بيا به يو کار روزګار څنګه پيدا کوو؟

حتی د ښار له هيڅ کوڅې او سړک سره نا اشنا يو!

په ډېرو سوچونو کې د ښار په منځ کې له موټره پلي شوو.

ټول ښـار له خلکو ډک دی، هرې خوا د موټرو او خلکو شـور ماشـور جوړ دی، زمونږ سره خوا کې يو نفر په ګاډۍ کې د سبزۍ خرڅولو لپاره چيغې وهلې:-

په ديرش او ديرش، سبزي ده سبزي! هلئ تازه سبزي واخلئ.

همداســې چيغې يې وهلې، چا روميان يادول چا الوګان يادول... چيغې وې، هر چا يې د پلورلو هڅه کوله.

څوک به په خيرنو جامو کې زمونږ له مخې تېر شول او څوک به بيا ډېر ښايسته جامو او ددوی ښــکلي ويښــتان چې د خلکو نظر به يې ځانته را جلب کاوه، تېريدل.

ښار راته يوه بله نوي نړۍ ښکاريده، زما هم سترګې پکې ځلور شوې، لاره رانه ورکه شوه، د خلکو منځ کې راته ځان بيخي بل شان ښکاره شو.

د سړک په منځ کې کېناستم ومې ويل:-

ښــه نو اوس پدې لوی ښــار کې کومې خواته لاړ شــو؟ له چا څخه مرســته وغواړو؟ څوک به راته کار راکړي؟ څوک به مو لاس ونيسي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر وارخطا و، زړه مې پکې بيخي تنګ شـو، زوبېر او اصـغر هم سـترګې رډې راوتې وې.

د سړک په پياده رو باندې يو نفر روان و، مونږ ته يې فکر شو چې د سړک په منځ کې ناست يو، سمدستي راغی، په لوړ اواز يې وويل:-

تاسو د سړک په منځ کې څه کوئ چې ناست يئ؟

ټول غلي وو، زوبير وار مخکې کړ، ورو يې وويل:- څه؟

- وايم تاسـو د سـړک په منځ کې څه کوئ؟ کوم موټر به مو ووهي، له سـړک څخه ليرې شئ.

د خبرې په اوريدو په وارخطايئ له سړک څخه پياده رو ته راغلو.

د مخ رنګ مو الوتلی ښـــکاريده، د ښـــار پدې بيروبار کې مو ځانونه ډېر تنها احساس کړل.

مخکې روان و خو منزل مو معلوم نه و، زوبير او اصـــغر خپلې پنډې په ســـينو پسې کلکې نيولې وې، زما په اوږه يې لاسونه ايښي وو.

د ليونيانو په شـان به يې کله يوې خوا او کله بلې خوا سـترګې اړولې، په پياده رو کې همداسې مخکې روان شو، د اصغر وچې خړې شونډې وخوځيدې:-

مدثره ! وايه کنه چېرې ځو؟

د هغه ددې خبرې ځواب مې نه درلوده، زما خپله هم لاره ورکه وه، ښـــار راته لکه باغېوش داسې ښکاره شوی و، دا ټول خلک راته ليوان، زمريان ښکاريدل او مونږ لکه سيلانيان يوازې به مو په وېرې سره ورکتل.

اصغر بيا خپله خبره تکرار کړه، ما مخ ور واړوه، ومې ويل:- سمه ده کنه، روان يو! لږ له صبره کار واخله.

اصغر خاموشه پاتې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر مازديگره پورې په ښـار کې وگرځيدو، هر ځاى به يې راته جالب ښـکاريده، هر ځاى به راته نوي ليوان او زمريان ښکاريدل، آن تر دې پورې چې له يو چا مو د کار غوښتلو پوښتنه نشوه کولاى.

کله چې لمر سـترگه ډوبيدله، د ښـار دوکانونو گروپونه روښـانه شـول، يو گډى وان چې کيلې يې خرڅولې له مخې مو تيريده، ما زړه وکړ ورمخکې شـــوم، گډى وان هم موسکى شو فکر يې وکړ گوندې کيلې اخلم، سترې مشي مې وکړه، د دوکانونو لاندې پلن سـړک ته مې وکتل، د بريت يوه څنډه مې وگروله ومې ويل:-

وروره! مونږ په کار پسې راوتي يو، خو تر سهاره د کار درک نه لگي، ته کولاى شې راته کوم کار پيدا کړې؟

گډى وان په خوله لاس کېښـود، داسـې ښـکاريده سـړى خاندي، خوله يې په زوره بنده کړې وه، چې يوناڅاپه يې خوله وازه شوه، زيړ غاښونه يې وبرېښيدل، خندا يې زور ونيو، ښه ډېر يې وخندل.

کيلې يې په گډى کې سمې کړې، په مسخرې ډول يې شونډې وخوځيدې:- وروره ! که ماته د کوم کاروبار پته وه نو نن به مې کيلې نه خرڅولې، ښـــه کاروبار به مې کولو.

مونږ ورته غلي غلي کتل، گډى وان يو ناڅاپه په غريو وويل:- ځئ مړو ! له مخې مې ليرې شئ، ما باندې ناوخت دى.

گډى يې روانه کړه، له ځان سره يې دا خبرې په قار کولې:- هســـې مو ما باندې ناوخت کړ، دغو خلکو ته هم يوازې مونږ غريبان د ريشـــخند لپاره پيدا شوي يو، الله دې درته هدائت د نيکئ وکړي.

د ســـړي خبرو ته فکر وړى وم، يوه شـــيبه مې خپله غريبي هېره کړه، د هغه ســـتړي ارواه او غريبانه ژوند مې په يوه شـيبه کې له سـترگو تېر شـو، له خپله ځانه هغه ته ډېر خفه شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پیاده رو یوه غټه تیږه ایښې وه، په هغې کېناستم، په خولې شوي تندي مې لاس تېر کړ او ســـوړ اصـــویلی مې وکړ، اصـــغر او زوبیر مې یو او بل خوا کېناستل.

زوبېر مې په مړوندونو لاس کېښوده، د سترګو له کونجونو مې ور وکتل.

د هغه په ســـترګو کې خفګان له ورا یه رغړیده، په ورو اواز یې شـــونډې وخوځېدې:-

مدثره ! ته زمونږ پلار، ورور، مشـــر، ملګری هر څه یې، مونږ ټول چې په کوم مقصد پسې راوتي یو، دا ډېر مشکل راته ښکاره شو، زه مې خپل منزل صاف ګورم چې دلته هیڅ نشته، هسې به وخت تېر کړو، نور به هیڅ په لاس رانشي.

ما هیڅ نه ویل، یوازې مې هغه ته کتل، هغه بیا پسې زیاته کړه:-

نن وګوره ټوله ورځ مو هیڅ کار پیدا نکړ، چې نن پیدا نشـو سـبا به هم کیدای شي پیدا نشي.

د هغه په لاس مې خپل لاس کېښوده، په ډاډ مې ورته وویل:-

ای لیونیه ! دا ښـار دی، ددې قانون ډېر بل رقم دی، تاسـو دومره زر لوبه مه بایلی، بس لږ صـبر وکړئ، دا ښـار هر چاته یو څه په نصـیب ورکوي، خالي لاس دې نه روخصت کوي.

زوبېر هیڅ ونه ویل، سور اسویلی یې وکړ، پاڅیده، ما وویل:-

راځئ چې یوه هوټل ته لاړ شو، بیګاته شپه خو باید چېرې تېره کړو کنه.

درې واړو مو خپلې پنډې رواخیستې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

هوټلچي:-
دلته یوازې یوه کوټه لرو هغه هم یو نفره نورې ټولې ډکې شوي دي.
یو بل ته مو وکتل، اصــغر د سر په گرولو لگیا و، زوبېر هیڅ نه ویل، هوټلچي سره مې خبره خوښــه شــوه، هغه یوه نفر ته غږ کړ، په ځوانۍ ټیټ او پلن، وړه پزه یې په تور مخ ولاړه وه.
هوټلچي کیلۍ ورکړې، د لاس اشاره یې وکړه، په هلک پسې روان شو.
اصغر له مټه ونیوم، په زوره وویل:-
احمقه ! په یو نفره کوټه کې به درې نفره څنگه ځای شو! هه؟
زه مخکې روان وم، پاس منزل ته پورته شـــوي، خیرنو زینو باندې مې پښــه کېښوده، مخ مې ورته راواړوه، په موسکۍ خوله مې وویل:-
مړه ! څه ښځې خو نه یو چې له یو بل ستر کوو، پروا نکوي تاسو دواړه په کټ ویده شئ، زه به لاندې په غولي ځانته ځای برابر کړم.
هلک تر کوټې ورسولو، خیرنه دروازه باندې یې زور وکړ، کوټې ته دننه شوو.
وړه کوټه وه، وړم یې په پوزه ډېر بد ولگیده، د دیوالونو رنگ یې ځای ځای لویدلی و، چت کې یې غنو ځالې جوړې کړې وې، په ښــۍ اړخ کې له کټه یو فټ لیرې د اوبو مټوه ایښــې وه، په کونج کې پر کوچني کټ یوه خیرنه بړســتن او کمپله پراته ول.
هلک په ورو غږ وویل:-
صېب! که څه شي ته اړتیا لرئ، درته یې راوړلی شم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما په موسکی خوله مننه وکړه، هلک ووت.

اصغر په غوسه وویل:-

د احمقانو زامن ! دا نو څه رقم هوټل دی، ته خو يې دې چټلیو ته وګوره؟

یوه شیبه غلی شو، بیا يې وویل:-

ان شاءالله چې ډېر ښه خوب به راشي.

زوبېر له خندا سره په ګډ غږ وویل:-

بچو! مسافري خو د هر چرګوړي کار نه وي کنه.

اصغر شونډې وځړیدې، ما همداسې خندل او ځانته مې په غولي ځای برابروه.

زوبېر په کټ کېناست، سیګرټ ته يې اور ورته کړ، مونږ دواړو ورته یوه شیبه وکتل، اصغر په ټوکو زوبېر ته وویل:-

احمقه! مونږ ته دې ولې سیګرټ ونه لګاوه هن؟ زړه دې غواړي دا ویښتان درباندې وشکوم!

دواړه په خندا شو، زوبېر غلي غلي ورکتل، شونډې يې وخوځیدې:-

نو غوسې چیشته کوې؟ واخله واخله دا ټول وڅکوه!

زوبېر ورغځ په خندا خندا يې ترې سیګرټ رواخیست.

زمونږ نن شپې په ټوکو ګپ شپ سهار ته منډې وهلې، د شپې په ناوخت کې اصغر زوبېر خوب وړي و او زما هیڅ پته نه لګیده چې ولې مې سترګې سره نه ورتلې.

بس د خیال کوتره مې تر جګو جګو غرونو ختلي وه، کله به مې د مور مینه سترګو ته شوه، کله د خور خندا او ټوکې، کله مې د پلار هغه ګونځې تندی او له سرو رګونو ډکې سترګې او کله به بیا هغه د کوهي نجلۍ چې زه او اصغر يې ویرولي وو.

شپه سهار ته نیږدې شوي وه، زه همداسې پر غولي په بستره پروت وم، څنګه چې مې سره سترګې ورتلې، د یو چا اواز مې تر غوږو شو:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



- همممممم! نو ته دلته پټ یې احمقه؟
- ولې له نیکه څخه دې غلا کوم که څنګه؟
- نو غل خو دې تخلص دی.
- لیکن استاد خو مې ته یې کنه.

ما ددې خبرو په اوریدو په بســـتر کې ټوپ کړ، یو او بل خوا مې وکتل، ډېر ووېرېدم، فکر مې وکړ څوک زمونږ څخه غلا کولو پلان جوړوي خو بیا مې فکر شو زمونږ بیچارګانو به نو څوک څه شی غلا کړي خو بیا هم احتیاط ښه شی دی.

غلی غلی له بستر را وخوېیدم، مخکې د اوبو مټوه ایښې وه او په هغې د خاورو یو ګیلاس، غلی مې رواخیســـت او ګیلاس په لاس د دروازې خوا کې ورته چمتو ودرېدم.

لږه شــیبه غلی شــوم، هیڅ کوم اواز نه راته، خاموشــه خاموشي وه، ورو مې په احتیاط قدم واخیست، دروازې خواته په ورتلو شوم چې له شا څخه مې یو اواز راغی:-

چېرې داسې غلی غلی روان یې ها؟

پخپل ځای لکه بوت ولاړ پاتې شــوم، وجود مې په لړزا شــو، د بندو وروځو او وازو سترګو په منځ کې د خولو یو ځاځکی د پوزې په سر لاندې راروان و، شاته مې مخ واړوه، بیا یې اواز راغی:-

ته ډېر لوی کم عقل یې، دومره ښه موقع دې له لاسه ورکړه، اوس به مو وخته کار ور خلاص کړئ وو.

اواز د کوټې له کونج نه راته، عجیب عجیب فکرونه مې تر ماغزو راغلل:-

هلته د کوټې کونج کې د چا اواز راځي؟ هلته څوک ناست دي؟

لږ نور هم ورنېږدې شوم، د کوټې په ګوټ کې هیڅوک نه ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ځل مې ســترګې نورې هم رډې راوتې، فکر مې شــو کوم پیرۍ نه وي، له پیر یانو خو هر څوک ویرېږي لیکن زه ترې ډیا بې حده ز یات ویر یدم، ټول وجود مې له خوالو ډک شو، لار رانه ورکه شوه، له خولې مې سونړ نه خوت، دا ځل بیا اواز راغی، خو سمدستي مې شک شو:-

ته او قرآن ته د سیګرټ څکولو زور لرې؟

- هر څوک هم سیګرټ نشي څکولی.

د خبرې ختمیدو مخکې مې د زوبیر دوی کټ ته وکتل، کوچنۍ څراغ راسره و، په هغوی مې واچوه.

څه ګورم دواړه د یو بل سره لګیا دي او په خوب کې د یو بل سره خبرې کوي.

یوه شــیبه همداســې ودریدم، هغه ټول فکرونه چې مې یوه شــیبه مخکې کړې و، ټول راته مخامخ ودریدل، په زړه مې لاس کېښــود، یو ناڅاپي مې خندا زور واخیسته، ښه ډېر مې په خپل ځان پسې وخندل.

پخپله وېره او خپل حال چې مې یو څو دقیقې مخکې درلوده ډېر حیران وم، څومره عجیبه فکرونه مې وکړل او څومره ډېر وډار شوم یو الله ته معلومه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


***

سبا سهار ناوخت له خوبه پاڅیدو، په منډه لاړو لومړی مو په پاتې پیسو چای وڅښلو او بیا ټوله ورځ په کار پسې وګرځیدو.
د مازدیګر په اذانونو کې د یوه دوکان مخکې د وریجو بوجۍ له یوې لارۍ څو مزدورانو په شا راکوزولې.
په دوکان کې یو ډډ پلن نفر ناست و، فکر مې وکړ، همدا د دوکان مالک دی.
ورغلم، له روغبړ وروسته مې ترې د کار غوښتنه وکړه، هغه راته په یوه بوجۍ راښکته کولو لس روپی وښودې، ما هم ورسره ومنله او تر ناوخته مو په ګډه ټوله لارۍ خالي کړه.
زوبیر دوی هم راسره مرسته وکړه ټول ښه ستړي شو، کله چې ترې راروانېدو د دوکان مالک راته دوه نیم سوه روپی هم راکړې.
مونږ ټوله ورځ په نهاره تېره کړې وه، زر لاړو خپل هوټل ته او په هوټلچي باندې مو د ډوډۍ راوړلو غږ وکړ.
یو سړی و چې وړه ږیره، غټه ککرۍ کوچنۍ پزه او له تنې هم ډېر چاغ و، د هوټل په بل سر کې ناست دی، مونږ ته په ځیر ځیر سره ګوري.
ما له اوله په هغه کې سترګې خښې کړې وې، ډوډۍ راوړل شوه او ښه په خوند خوند مو وخوړه.
هغه نفر راته همداسې کتل، په لاس کې ورسره د تلویزیون ریموټ هم ورسره و، کله به یې تلویزیون بدل کړ او کله به یې مونږ ته د سترګو لاندې را وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د اوبو ګيلاس رواخيســـت، هغه راته بيا هم کتل، هيڅ نه پوهيدم چې دغه نفر مونږ ته ولې ګوري، هوټلچي راغی د پيســو غوښــتنه يې کوله، له جامو مې راونيوه، ځان ته مې راکش کړ، ورو مې وويل:-

هغه چاغ نفر چې د هوټل په بل سر کې ناست دی، هغه پيژنې؟

هوټلچي قاب رواخيست، هغه چاغ نفر ته يې وکتل، ورو يې وويل:-

خود يې پيژنم، همدا خو زمونږ د هوټل مشر دی.

سر مې وخوځوه، جيب ته مې لاس کړ، دوه نيم ســـوه روپۍ مې ورته ونيوې، هوټلچي پيسو ته وکتل، وې شمارلې غلي يې وويل:-

ورور ګله ! ته بايد نوي روپۍ نورې هم راکړې، ستا سو د خوراک ټولې پيسې درې سوه ځلويښت روپۍ شوې.

ټولو مو يو بل ته وکتل، هر يو په جيب کې لګيا دی پيسې لټوي خو د يوه سره هم د پيسو درک نه لګيده.

ما ورته په خپګان سترګې ور پورته کړې، په مړاوي غږ مې وويل:-

وروره! مونږ خو نورې پيسې نه لرو.

د هوټلچي تندي ګونځې پيدا کړې، يوه شــيبه يې را ته وکتل، په قار يې وويل:-

نو تاسو هوټل ته راځئ، ځانونه ماړه کړئ، او بيا درسره پوره پيسې هم نه وي؟

له خپله ځايه پاڅيدم، په خجالته انداز مې وويل:-

وروره! مونږ دلته ښــار کې نوي يو، مونږ ته د ښــار هيڅ اصــول ندي معلوم او مونږ دا کار له قصده ندی کړئ، وګوره، ټول جيبونه مو ليدلی شې، هيڅ کومې پيسې نلرو.

هوټلچي قار وښود، خبرو يې زور واخيست:-

په هيڅ صورت درسره نه منم تا سو بايد مونږ ته خپلې پيسې راکړئ، ګني قدم به هم مخکې له دې ځايه وانخلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصغر ور مخکې شو، په ارام سره يې وويل:-

سمه ده، ولې نه مونږ به خپلې پيسې درکړو خو اوس زمونږ سره نشته، له کومې يې درته را پيدا کړو؟

هوټلچي چې بله خبره کوله، د هغه چاغ سړي لخوا چې د هوټل مــــشر و، يوه چيغه شوه، هوټلچي ته يې خبره په خوله کې ور وچه کړه:-

توره! بس که نور دا بق بق دې بند کړه!

د هوټل مـشر له خپل ځايه راجگ شو، زمونږ خواته راغئ، غټ او کوچنی لاس يې ماته ونيوه، ستړي مشي مو سره وکړه.

بيا يې د کېناســتو وويل، څلور واړه کېناسـتو، چاغ سـړي لاسـونه سره ومروړل، هوټلچي ته يې وکتل.

ورو يې مونږ ته وويل:-

ددوی په خبرو مه خپه کېږئ، د هغوی کار همداســې دی، څه وکړو، گني زما د هوټل کارمندان دومره هم بد اخلاقي له چا سره نکوي او په ټول ښـار کې يو نوم لري.

زه غلی وم، هيڅ مې نه ويل، د هوټل مشر تورې پېرړې شونډې وخوځيدې:-

فکر کوم ستاسو کوټه هم همدلته ده؟

- هو همدلته دوهم منزل کې ده.

په پک تندي يې لاس راتېر کړ، تار تار ويښـــته يې وگرول، ســـړه ســـاه يې واخيسته.

څنگه چې هغه خبره کوله ما ترې وار مخکې کړ:-

مونږ لومړی ځل دی چې ښار ته راغلي يو، مخکې مو صرف نوم اوريدلی و خو د ښار له قانون او کړو وړو سره بلد نه يو، په کور او کلي کې د بعضو مشکلاتو له وجې دلته ښــــار ته راغلو، ترڅو يو څه کاروبار ځانته پيدا کړو، خو تر پرون ورځې راهيسې مو يوازې دوه نيم سوه روپۍ وگټلې او هغه هم په ډوډۍ خوړلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاړې، اوس نه بیګاته د شپې تیرولو ځای شته، نه دباندې په ښار کې بلد یو او نه هم کوم خپلوان یا دوست پیژنو.

د هوټل مشر زما په خبرو کې راولویده:-

هیڅ پروا نکوي دا ځای مو لکه خپل داسې وشمارئ، ترڅو چې مو کار پیدا کړئ نه وي دلته خپل ژوند کوئ، خرڅ او خوراک مو زه ضاموار یم.

خبرې یې خوند رانکړ، شک مې راغی چې آخر ولې له مونږ سره دومره همدردي؟

ولې مونږ کې خاص څه دي چې راسره دومره صمیمي شو؟

آیا هغه زمونږ څخه کومه تمه لري؟

د هوټل مشر ته مې همداسې کتل، هغه چې پوی شو، رنګ یې سور واوخت، زر یې دا خبره پسې زیاته کړه:-

زما مطلب دا و چې تاسو همدلته زما هوټل کې پاتې کیدای شئ، ترڅو چې بل کار پیدا کوئ، تر هغې به دلته ما سره په هوټل کې کار کوئ.

له دې خبرو سره راته ډیر نیک انسان ښکاره شو، ټولو مو په خوښئ ورسره ومنله.

تر درو ورځو مو په هغه هوټل کې کار وکړ، درې واړه ښه خوښ وو.

نه د کور دومره یاد و او نه هم د خیټې کوم غم راسره و، څه به مو چې وګټلې هغه به رانه د هوټل مشر پخپل خرڅ خوراک کې قطع کړې.

د هوټل مشر هم مونږ ته ډیر نیږدې شوئ و، په لومړی ورځ یې راته سیګرټ ونیو او همداسې ورو ورو ورسره په خبرو راغلو، د هوټل مشر آیوب نومیده، ډیر ښه سړی و، تر نیمو شپو به راسره ناست و، سیګرټ او خوراک به مو یو ځای سره کول، زمونږ د درو خوراک او د آیوب د یو ځان خوراک به سره برابر و.

ورځې تیریدې، په مونږ هم نوره سخته شوه، زړونه مو تنګ شول، ځکه هر څه به مو چې ګټل، ټول به مو بیرته خوړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې ګوزاره ګرانه شوه، غوښتل مو نور له آيوب څخه لاړ شو.

بيګا شپه مې ورته د خبرې کولو خوښه کړه.

شپه راغله، آيوب ډېر په نشه کې و، د چرسو سيګرټ په لاس، تکيه يې وهلې وه، په ډډ نشايي غږ يې وويل:-

ځوانانو ! زه پوهېږم تاسو نور زما په هوټل کې زړه تنګ شوی، په لږو مو ګوزاره نه کيږي او ډېرې درکوئ نشم، ځکه ماته هم توان دی.

له سـيګرټ يې کش وکړ، سـپين لوګي د چت خواته کړی کړی پورته شـول، درې واړه آيوب ته ځيرک شو.

خبره يې په سپينو لوګيو کې پسې زياته کړه:-

نو ما داسـې ويل! تاسـو خوښـه نده چې يو غټ لاس واچوئ او د شـلو کالو محنت، خواري په يوه شپه کې تر سره کړئ؟

درې واړه يې خبرې حيران کړو، يو بل ته مو وکتل، ومې ويل:-

هن! اغه څنګه؟

آيوب له تکيې راجګ شـو، د سـيګرټ ايره يې توف دانۍ ته واچوله، اوښـلنې سترګې يې سرې سرې تاويدې، بيا يې وويل:-

ګورئ ځوانانو ! زه پوهېږم تاسـو ډېر دلګير، کلک پښـتانه خلک يئ خو ګورئ خبره مې چې وکړه، بايد تر زمونږ او تاسـو وي، نه دا چې زمونږ څلور علاوه پنځم هم خبر شي، ګني بيا به ټول ګير شو.

له سيګرټ يې کش وکړ، مونږ بيا يو بل ته وکتل، ما وويل:-

مشره ! ته خو يو ځل ووايه ! ان شاءالله چې خامخا به درسره مرسته کوو، مونږ تل ستا تعبدار يوو.

آيوب په خندا کې وويل:-

دغو ته وايي ځوانان !

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان يې لږ ســـم کړ، زمونږ خواته رانېږدې شـــو، ســـيګرټ يې مړ کړ، ورو يې تورې پېرړې شونډې وخوځيدې:-

دا ډېر وخت کيږي ما يو کار کولو ته زړه دئ، دا سې کار چې هم به ستا سو او هم زما د نيم ژوند لپاره بسنه کوي.

درې واړه يې خبرې پوره کولو ته ډېر بيتاب و، چې آخر اوس به کله هغه خبره کوي، کوم چې مقصد دی، بيا يې وويل:-

هغه کار دا دی چې دلته له يوه دوکانه به سرو او سپينو زرو غلا کوو.

د خبرې په کولو يې ټول هک پک کړو، د مخ رنګونه مو والوتل، هيڅ ځواب راسره نه و، زوبېر ورته په حيرانۍ وويل:-

نو ته اوس غواړې مونږ ستا لپاره غلا وکړو؟

آيوب غلي شان وويل:-

نو ما کله داسې ويلي صرف زما لپاره يې وکړئ؟ وايم زمونږ ټولو لپاره.

يوه شيبه غلی شو، په پک تندي يې خولو غوټې ښکاريدل، بيا يې پسې زياته کړه:-

تر څو به پدې غريبۍ کې ژوند کوو؟ ترڅو به د نورو بوټان پاکوو؟ وايم راځئ، دا د يوې شپې کار دی، دومره مشکل ندی، ما ليدلی، پرې بسم الله به کړو.

مونږ بيا يو بل ته وکتل، لږه شيبه غلي و، ما په غلي اواز وويل:-

نه په غلا کولو کې ډېره زياته خطره شـــتون لري او بيا په ښـــار کې خو بيخي ډېره ده، ګمان نکوم مونږ يې تر سره کړو.

آيوب وخندل، تورې پېرړې شونډې يې وخوځيدې:-

ګوره ځوانه ! زه چې درته کوم دوکان يادوم، هغه ځای ما له مخکې ډېر څارلی، هلته ډېره موقع شـــته وي چې غلا وکړې، ما يې آن د څوکيدرانو وخت هم معلوم کړئ، هر څه برابر دي، بس ســتاســو په شــان تکړه او بهادر ځوانانو ته اړتيا وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ا صغر هیڅ نه ویل، یوازې زمونږ خبرو ته غوږ ایښی و، زوبیر ته مې مخ واړوه، په سترګو کې یې د نه ځواب و.
اصغر ته مې وکتل، هغه په موسکی خوله د هو په دود سر وخوځوه.
زه زړه نا زړه وم، په ځان خو هسې هم باوري نه وم خو په اصغر دوی مې هم باور نه درلود.
لیکن کله یې چې راته ټول پلان واوروه، پدې باوري شـــوم چې کار به ترسره کړو.
ورسره مې ومنله او سبا ورځ مو وټاکله ترڅو په پلان کار وکړو.
ټوله شپه مې همدا سوچونه او فکرونه کول، چې آیا دا پریکړه به مې سمه وي او که غلطه، بل خوا زوبیر ځان ډېر اچاوه، زما او د اصغر پریکړه یې نه منله.
په قار یې وویل:-
تا سو دواړه خو ھ سې بې عقلان یئ، زه نغواړم درسره بې عقل شم، تا سو چې هر څنګه کوئ، وکړئ، زه درسره پدې کار کې مرسـته نشـم کولای بس دا زما آخري فیصله ده.
اصغر په اوږه وڅانډه، په زوره یې ورته وویل:-
بې عقل دې دا سر دی، پدې دومره اسان کار کې ته زمونږ سره مرسته نکوې، پدې هم ښه پوهېږې چې ډېره ګټه پکې ده او بل د یوې لارې ملګري هم یو، خو بیا هم رانه لاره جدا کوې.
اصغر همداسې زوبېر ته کتل، مخ یې ترې واړوه بیا یې وویل:-
ډېره لویه موقع په لاس راغلي، دا سې په ا سانی خو یې له لاسه نه ورکوم، که تاسو دواړه یې راسره ونه منئ، زه یې په یوازې ځان هم کوم.
زوبېر غلی پاتې شو، ما او ا صغر ته یې کتل، ما هم د ا صغر پلوي وکړه، زوبېر په خواست وویل:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګورئ ! دا سې مکوئ، پدې کار کې ډېره خطره ده، حتی چې زمونږ سر ته هم زیان رسولی شي.

ما او اصغر هیڅ ونه ویل، دواړه لاړو په کټ ویده شو، زوبېر یوازې په میدان پاتې شو، دواړو مو ورځخه لار بدله کړه.

د زوبېر داسې پرېښودلو ډېر خپه کړم، ټوله شپه مې سترګو ته شوئ.

که هغه زمونږ سره ولاړ نشي نو څه به کوي او چېرې به ځي؟

سبا سهار چې له خوبه پاڅیدو، په کټ کې ناست وم، د لاسونو په موټو مې سترګې پاکولې.

څه ګورم زوبېر وختي پاڅیدلی او د ځان په تیارولو لګیا دی.

ما په خوبجن اواز وویل:-

څه خبره ده؟ چېرې روان یې زوبېره؟

پر ویښتو یې لاس تېر کړ، په آئینې ته کتوونکي بڼه یې وویل:-

ولې زه له تاسو کم یم هن؟ زه هم غواړم درسره غلا وکړم.

اصــغر په کټ کې ټوپ کړ، په کمپله کې یې ځان ټینګ کړ، په دب غږ یې وویل:-

مدثره! دا ماته راډیو دربنده کړه، پرېږده لږ خوب وکړم.

زوبېر آئینه په کټ کې وغورځوله، ورغی یوه لغته یې د ولو منځ کې ورکړه، په غوسه یې ورته وویل:-

سم شه ګورې! دا ځل مې پرېکړه بلکل سمه کړې.

په خوښی له کټ څخه راپورته شوم، ورغلم په اوږو مې لاس پرې واچوه:-

اوس دې ثابته کړه چې زمونږ ریښتینی ملګری یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

یوه اوږده ساه مې واخیسته، سیګرټ مې ولګاوه، سپین دودونه کړۍ کړۍ چت خواته پورته شول، ورو مې وویل:-

بلاخره غلا کولو ته زړه ښه کړ.

د آیوب سره په موټر کې ناست و.

آیوب په ورو غږ وویل:-

تاسو باید نن ټول پلان برابر کړئ او زه به هغه لوازمو ته چې ضرورت وي، درته چمتو کړم.

دریواړو مو ورسره خبره ومنله، هغه دوکان یې راته وښوده، له کوم مو چې د غلا کولو پلان نیوه.

په یوه لویه ودانۍ کې د زیوراتو دوکانونه لیدل کیدل او ددې ټولو دوکانونو په آخر سر کې همدا دوکان موجود و.

نه پوهیږم چې په هغه دوکان کې بیا خاص څه وو؟

چې پدې دومره ډېرو دوکانونو کې هغه آخري یو انتخاب کړ، د لومړي سر دوکان ولې ونه کړ؟

که څه هم ټول د زیوراتو دوکانونه دي.

دا خبره مې ایوب ته وکړه، هغه له نرې خندا وروسته وویل:-

ګوره ځوانه ! پدې لویه ودانۍ کې تر پنځوسو شپیتو پورې دوکانونه به خامخا وي، هر یو له سرو او سپینو ډک دی، خو ما چې د ودانۍ په آخر سر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوکان وښــوده، هغه له ټولو زيات ښاېسته دوکان دی، زمونږ به ښــه گوزاره پرې وشي.

درې واړه يې خبرې سره خوښ شو، آيوب بيا وويل:-

تاســـو نور دلته مه پاتې کيږئ، راځئ هوټل ته چې هلته مو په پوره پلان پوی کړم.

مونږ هم د ايوب هر امر منونکي وو، هره خبره به يې چې راته وکړه، فکر به مو کاوه له دې بله غوره خبره نشته.

هوټل ته په رســـيدو يې راته ټول هغه لوازم چې ورته ضرورت و راکړل، درې تورې کورتۍ، همدا شان درې مخ پوټي، دوه بياتۍ او درې ځراغونه.

ځانونه مو چمتو کړل، او د شـــپې ناوخت کيدو ته په تمه شـــو، ډېر عجيب احساس مې کاوه، هم وارخطا او هم زړه نا زړه.

دا ځل بيا هم منزل ډېر مشـــکل ښــکاريده، بار بار ماغزو ته عجيب فکرونه راتلل، خو ما په ځان ډېر باور درلود، لا دمخه مې د غلا کولو فکرونه کړې و.

په کټ زبون وهلی ناســـت وم، د خيالي نړۍ ځو ترخه انځورونه مې انځورول، چې يو ناڅاپي مې د آسمان غړمبهار تر غوږو شو.

ټکان مې وخوړ، ټولو مو يو بل ته وکتل، اصغر وويل:-

داسې ښکاري چې باران به وشي.

ما هيڅ ونه ويل بېرته د خپلې خيالي انځورگرې نړۍ په خوا ورغلم.

د ژوند هر هغه تېره شوي شيبه مې يوه يوه له سترگو تېره شوه، له هرې يوې مې خوند اخيسته، هرې يوې راته په شونډو ورکه موسکا رابښله.

يو ځل بيا مې ټکان وخوړ، په دروازه کې آيوب ولاړ و، ساه يې لنډه لنډه کيده، په بيړه ور مخکې شوم، په جدي اواز مې وويل:-

خيرت خو دی کنه؟ څنگه داسې ساه نيولی يې؟

آيوب وخندل دروازه يې بنده کړه، په سترې اواز يې وويل:-

(c) ketabton.com: The Digital Library


هیڅ نشته ځوانه ! په زینو کې ډېر په منډه راپورته شوم.

ما غوښتل ورته لږې اوبه راوړم خو آیوب په سترګې ساه راغبرګه کړه:-

شپه همدا سې مخکې روانه ده، اوس ددې وخت راغلی چې نور تا سو تر هغې ودانۍ ځانونه ورسوئ.

ساعت ته مې وکتل، ستنه په دولس بجو او لسو دقیقو ولاړه وه.

د څه ویلو پرته مو خپل شـیان رواخیسـتل، او موټر ته ور پورته شـولو، مخ په وړاندې روان شو.

له ودانۍ نیم میل لیرې په بله کوڅه کې یې موټر ودراوه، د ښـکته کیدو سره سم آیوب را غږ کړ:-

مدثره! دلته راشه.

ورغلم، ښیښې ته مې سر ورټیټ کړ.

یو څه یې راته په توره کڅوړه کې ونیول، بیا یې وویل:-

دا هم درسره ښه ده ! پکار به دې راشي.

کڅوړه مې خلاصـه کړه، یوه تور رنګ تمانچه وه، ما انکار وکړ، هغه له موټر ښیښې سر راوباسه، ورو یې وویل:-

ځوانه ! پدې کار کې ځینې وخت لږه خطره شـته وي او بل ته له هغو نورو ډېر زړور یې، هغه مه خبروه، دا درسره وساته.

د آیوب په ډېر ټینګار مې ورڅخه تمانچه واخیسـته، د کورتۍ جیب ته مې واچوله.

د آسمان پړک شو، غړمبهار یې له شمال تر جنوب مخکې تېر شو، غلي غلي مخکې روان و، آسـمان ته مې وکتل، توره تیاره ښـکاریده، ټول په تورو وریځو پوښل شوی و، غلي مې ځان سره وویل:-

ان شاءالله نن شپه به زمونږ په ګټه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سړک په پیاده رو روان و، مخکې د یوه دوکان ګروپ بل پاتې شوی و، په کورتیو کې مو ځانو نه راټول کړل او مخ پوټي مو په پوزو راکش کړل، زوبیر وویل:-

مدثره! هغه آیوب په آخر کې څه درکړل؟

نه مې غوښتل دوی راباندې پوی شي، دا لومړی ځل و چې ما له ځان سره تمانچه راخیستې وه، ورو مې وویل:-

هغه یې زما مخ پوټۍ راکړ، مانه هېر شوی و.

زوبیر هیڅ ونه ویل، همداسې مخکې روان و، یوازې مو د پښو د خوېیدو غږ اوریدل کیده، لږه شیبه کې تر همغې ودانۍ ورسیدو.

د ودانۍ مخکې په دروازه یو ګروپ بل و، تر څو له رڼا یې ونه لیدل شو د دېواله سیورې ته کېناستو.

د درې واړو په ځیرو کې وارخطایي په څپو وه، ساه مې تنګه تنګه کیده، مخ پوټۍ مې له پوزې لیرې کړ.

پر آسمان تالندې تېرېدې، د رڼا څرک به یې د دېوال خوا کې وبرېښولو.

دوی مې هملته ناست پرېښودل او زه لاړم ترڅو یو نظر وداني وګورم په کوم حال ده.

د سړک منځ ته شوم، کورتۍ کې مې ځان ونغاړه، په غلي غلي قدمونو د ودانۍ دروازې ته ورسېدم، دننه مې وکتل، هیڅوک نه ښکاریدل، تپه تیاره وه، پورته خوا مې سترګې پورته کړې، دوهم منزل کې د یوې کوټې ګروپ بل و، بېرته خپل ځای ته راغلم.

اصغر په خپ اواز وویل:-

هلکه! څه یې توافونه کوې، خو راځه چې پرې ورځو.

له مړوند مې کلک ونیوه، په ورو اواز مې وویل:-

نه نه صبر! لا وخت شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلی شوم، پاس دوهم منزل ته مې ګوته ونیوه، ومې ویل:-

هغه ګروپ ته ګورې، هغه ته باید منتظر شـــو، کله چې مړ شـــو بیا به دربواړه پرې ورځو.

- او که همداسې روښانه و بیا؟

- همممم! بیا به نو توکل په الله وایو او مخکې به ځو.

زوبېر په ګونډو را وخوېیده، په سوال زاریو یې دا خبره وکړه:-

ای کم عقلانو ! لا اوس هم وخت شـــته، مکوئ داســـې، دلته وګوره څومره خطره ده.

ما او اصـــغر ورته وکتل، ټول په خوالو کې لت پت و، د هغه وېریدلي چهره بلکل د کتو وه.

دواړو مو له خندا په خولو لاسونه ونیول، اصغر ورو وویل:-

ډېر شرم درته پکار دی احمقه ! زمونږ سره دې دومره وخت تېر کړ خو بیا هم ته زړور نشوې، همغه ډارن زوبېروو مې یې.

زوبېر د لا سونو ګوتې سره ومروړلې، څنګه یې چې څه ویل په شونډو مې ګوته کېښوده:-

ششششششش!

ډېره تېزه هوا پیل شوه، دوړې او خاورې یې له ځان سره راټولې کړې، د سړک ګردونه یې ټول په مونږ امبار کړل، په کورتیو کې مو ځانونو کلک ونغاړل.

د باران ټکا مې تر غوږو شـــوه، مخ مې له کورتۍ رابهر کړ، آســـمان ته مې وکتل، د باران سوړ څاڅکي مې د تندي خړه سپیره خاوره ښکل کړه.

ټکان مې وخوړ، سمدستي پسې شړک باران شروع شو، اصغر زوبېر ته مې د تلو وویل، هغوی هوټل لور ته په منډو شـــول، زر ورغلم له لاســـونو مې کلک ونیول، د ودانۍ په لور مې کش کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ودانۍ لومړی دروازې ګوټ کې درې واړه غلي کيناســـتو، په لړه شـــيبه کې باران لانده خیشته کړو، سړکونو کې اوبه وبریښیدې او چیکړې جوړې شوې.

دریواړه له سره تر پایه په اوبو لت پت و، له ویښتو مې اوبه څڅیدلې.

اصغر او زوبیر ته مې خوله نیږدې کړه، په تیز غږ مې وويل:-

دا د ودانۍ لومړی دروازه ده او ورپسې بیا دوهمه دروازه، زوبېر به همدلته پاتې شي او اصغره ته به راسره دننه لاړ شې، سمه ده؟

زوبېر په تېز غږ وويل:-

سمه ده! سمه ده!

زوبېر ته مې وړوکۍ څراغ ورکړ، سپارښتنه مې ورته وکړه که هر څوک دې هم تر نظره تېر شـــول، لومړی مونږ ته خبر راکوه، دا څراغ راته روښـــانه کوه او که ونشو بیا یې پخپله کار ور خلاصوه.

اصغر ته مې اشاره وکړه، په بیړه راتاو شو، مخکې لاره سمه نه ښکاریده.

اصغر څراغ ولګاوه، د ودانۍ لومړی دروازې ته ځیر شوم، یو اوږد ځنځیر باندې تړل شوي وه او په هغه پسې قلف اچول شوی و.

زوبېر او اصـــغر شـــاته او مخکې کتل، ما د ځنځیر یوې کړۍ ته د بیاتۍ غاښ واچوه، زور مې پرې ورکړ، بیاتي له ډېر زور وروســـته خالي لاړه، ځنځیر ته ځیر شوم، مات شوی و.

په بیړه مې ځنځیر لیرې کړ.

دروازې ته مې زور ورکړ، ورو ورو څنګ ته روانه شوه، دومره خلاصه شوه چې یو نفر پرې په آسانۍ دننه کیدای شو.

اصـــغر ته مې وکتل، د باران په څاڅکو کې نه ښـــکاریده، مخ یې راواړوه، ما ورته د مخکې تلو اشاره وکړه.

ودانۍ ته دننه شـــو، اصـغر مې د لومړي سر دوکان خوا کې منتظر کړ او همغه سپارښتنه مې ورته وکړه کومه مې چې زوبېر ته کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه همداسې مخکې روان شوم، د دوکانونو په کتار کې غلی غلی په ملا کږوپ روان وم.

یوې او بلې خوا مې په وېرې سره کتل، سترګې مې په ځیرکتیا سره اړولې، کله کله به د تالندې شرک شو، ژر به مې شاته مخ واړوه.

باران همداسې په شدت سره وریده، د ودانۍ آخر سر کې اووم نمبر دوکان ته ورسیدم.

کوچنۍ څراغ مې ولګاوه، دروازې ته مې وکتل، دوه غټ قلفونه پســې ځړیدلي وو.

په بیړه مې بیاتي رواخیســته، د قلف نرۍ کړۍ ته مې واچوله، د ډېر زور کولو وروســته یې نرۍ اواز وکړ، یوه شــیبه غلی شــوم، بیاتي مې پخپل ځای غلي کړه، په رڼو راووتو ســترګو مې یو بل خوا ته وکتل، یوازې زوبېر او اصــغر ښکاریدل چې په باران کې ولاړ وو.

دوهم قلف مې هم مات کړ، سره ساه مې واخیسته.

دروازه مې غلي پاس خوا ته کش کړه، د خخرخر اواز سره پورته خوا ته جګه شوه.

دومره اندازن مې خلاصه کړه چې زه پرې په اسانۍ دننه کیدای شوم.

ورو ورو دوکان ته دننه شوم، څراغ مې بیا ولګاوه، څه ګورم ټول دوکان له سرو او سپینو زرو ډک دی

له ډېرې حیرانتیا مې په خوله لاسونه کېښودل.

وار مې خطا نکړ ژر مې له جیبه کڅوړه رواېسته، لکه لیوه چې په میږو ګډ شي همداسې ما په زیوراتو ور ټوپ کړل.

نه مې ســپینو ته کتل، نه سرو ته او نه ژیړو ته، هر څه چې په لاس راتلل کڅوړې ته مې اچول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دوو دقيقو کې ټول دوکان خالي وګرځېده، هر څه چې موجود و راټول مې کړل.

غوښتل مې نور له دوکانه ووځم خو دلته مې يو لوی صندوق ته پام شو.

ورته ځير شوم، په منځ کې يې کوچنۍ څرخ درلود، زور مې پرې وکړ خو داسې ښکاريده د هغه ماتول ګران دي او بل مونږ يوازې د زيوراتو پلان نيولی و، نه د صندوق ماتولو.

په بيړه راتاو او په ملا کړوپ شوم.

د دروازې خوا ته وخويېدم، زنګون مې د ديوال له ګوټ سره ولګيد، ځان مې قابو نشـــو کړای، لاســـونه مې واچول، د دروازې کړنج اواز په ټوله ودانۍ کې خپور شو.

د لاس ګوتو مې درد وکړ، ټکان مې وخوړ، غونې مې ځيږ شو، غلی پاتې شوم، ساه مې بنده کړه، يوازې د باران د څاڅکو اواز اوريدل کيده.

له دوکانه مې يوازې مخ رابهر کړې، يوې او بلې خوا مې وکتل.

څوک مې تر نظره تېر نشول، غلی ترې راووتم، کڅوړه مې په ملا پسې وتړله، اصغر ته مې وکتل.

هغه د بېرته ورتلو اشارې کولې.

خپله بريا مې په خوښئ ولمانځله، څنګه چې د تلو په تکل کې کېدم له شا مې يو څه حس کړل، ما دومره اهميت ورنه کړ.

مخکې روان شوم، ورپسې د يو چا د پښو ښکالو واوريدل شو، په زړه کې مې ځړيکه تېره شوه، قدم مې ورو کړ، پخپل ځای ولاړ پاتې شوم.

په څنګ مې ور وکتل، د آســمان د تالندې په رڼا کې مې يو شـــخص په نظر راغی، ورپسې د اسمان غړمبهار هم وشو.

ډېر وور بدم، وجود مې په لړزان پيل وکړ، لکه څوک چې دې يو دم په پړې کلک وتړې داسې وچ پخپل ځای ودريدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدم مې نشو اخيستی، غوښتل مې منډه کړم خو په وجود کې مې دومره توان نه و مخکې لاړ شم.

زړه مې له چيغو ډک و، خو له خولې مې ســـوړ نه خوت، داســـې لکه ګونګی شوی چې يم او يا راته چا په لاس خوله بنده کړې وي.

ډېر مې پښو ته زور ورکړ، ډېر مې ځانته همت ورکړ خو بيخي بې سيکه شوی وم، فکر ټول اوس پدې مشغول و چې څنګه له دې بلا ځان خلاص کړم.

په غوږونو دروند شـــوی وم، هغه د باران ټس ټس اواز مې هم غوږونو ته نه رسيده.

په همدې فکر کې وم چې اوس به سړی راباندې غږ کوي او که به مې سيده د ګوليو لاندې نيسي.

يو له غوسې ډک اواز مې واوريده:-

مخکې قدم وانخلې؟ خپله وسله دې کيږده ګني وبه وژل شې.

د وسلې له نوم سره ماته هم يو څه راياد شول.

ورو ورو مې لړزيدوونکي لاســـونه د کورتۍ جيب خواته کړه شـــول، ډېر په بيړه مې له تورې کڅوړې تمانچه رواخيســـته، د ســـترګو په رپ کې مې ګولۍ پرې تېره کړه، په پړک کې راتاو شـــوم، تمانچه مې ســـړي ته ونيوه، ځان مې شـــاته وشاړه او مشې ته مې زور ورکړ.

ډز شو، زه شاته ولوېدم او سړي د اخخ اواز وکړ.

لږه شـيبه ولاړ و، غلی غلی ځمکې ته راړنګ شـو، په يوه شـيبه کې هغه څوک چې ماته يې د وژلو ګواښ راکړی و د پښـــو سره مې په وينو کې لت پت پروت و.

په ډېرې وارخطايۍ د ســـړي خواته ور وخوېيدم، له نېژدې مې ورته وکتل، سترګې خلاصې او له تندي يې وينې روانې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نفس مې ورته وکوت، رګونه يې بې ســيکه ښــکاريدل، په وېرې سره شــاته وخوېيدم.

اصغر مې خواته راغی، يو څه يې ويل خو نه پرې پوهيدم، خبرې يې کولې خو غږ مې نه اوريده.

لاسونه به يې هغه سړي ته نيول، بيا به يې سر په دواړو لاسونو کې ونيوه، زه بې يې وخندلم، يو څه به يې وويل، غوسه ښکاريده، ماته يې په زوره يو څه ويل، ما يوازې ورته د ګونګې په شان کتل، هوش او خواص ټول بلې خوا و.

د اصـغر په يوه خبره هم نه پوهيدم، ما به کله اصـغر او کله به مې هغه پروت سړي ته وکتل.

يو ناڅاپي مې په مخ يو کلک ګوزار وخوړ، له فکرونو رابهر شوم، ژر ژر مې ساه اخيسته، ټول وجود مې لړزې نيولی و.

په ويرې سره له پروت سـړي په شـا وخويېدم، فکر مې کاوه اوس به دا سـړی راپاڅي او ما به وخوري.

اصغر بيا هم کش کړم چې ځو، ګني د نورو څوکيدرانو لخوا به ووژل شو.

ما چې څنګه دا خبره واوريده، په بيړه راپاڅيدم، په کڅوړې مې لاس کېښـود، په ملا پورې تړلې وه.

زوبېر هم د ودانۍ دوکانونو ته رارســيدلی و، مونږ يې چې په منډه وليدو، هغه هم راسره په تېښتو شو.

باران په ډېر شدت سره وريده و، اصغر چيغه کړه:-

مدثره ! ووايه کومې خوا ځو؟

په زوره مې وويل:-

هملته له کومه ځايه چې راغلي و.

د ښار په سړکونو باران ډېر تېز وريده، دومره پته هم نه لګيده دا کوم سړک او چېرې تللی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس زه مخکې او زوبير اصغر راپسې شاته په تېښتو روان و.

دومره وېريدلی وم چې هيڅ مې شـاته نه کتل، فکر مې کاوه کومه بلا راپســې ده، اوس به راشي او په اوږدو نوکانو به مې څرمنه رانه وباسي.

په توره تياره کې درې د کلي زلميان نن د خپل ژوند څخه په منډو دي.

دوی تقدير په کلي کې نه بلکې د ښـار له خلکو سره ليکل شـوی و، خو تقدير يې دومره زيات له پيښو ډک دی چې ممکن د زړه رحم يې نور په ايشيدلو اوبو ومينځل شي.

خو ګورو نور څه کيږي، ژوند ورته نورې کومې کومې ډالۍ په نصـــيب کې ورکوي.

زما پښه له څه شي سره ټکر شوه، زنګونونه مې په پوخ سړک ولګيدل.

درد يې وکړ، خو دا درد هيڅ و.

يو دم راپاڅېدم، اصـــغر مې د حال پوښـــتنه وکړه، هيڅ مې ونه ويل، مخ مې واړوه او په منډه شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

په کټ ځړيدلی سر له لاندو جامو سره ناست وم، پخپل کار ډېر پيښمان وم، د هغه سړي خبره راته بار بار سترګو ته کيده.

هغه ډزز کول، بيا په ګولۍ لګيدل، کله چې ولويد، زما پښـو خوا کې د هغه ليدل.

په زړه مې يو دروند بوج پروت و، ډېر له يو درد سره مخ وم.

آيوب د زوبېر سره لګيا وو، ډېر خوښ ښکاريده، کله به ماته راغی، شاباسی به يې راکړ او کله هغوی دواړو ته:-

آفرين ! زما زمرو ځوانانو! آفرين! چې ځومره مو وســتايم بيا هم کم دی دومره يو لوی کار مو کړئ، وايم اصلي نران تاسو يئ.

آيوب ډېرې خبرې وکړې، ډېر يې وستايلم خو ما هيڅ غبرګون ونه خود.

هغه رانيژدې شــو، په لانده اوږه يې لاس راکېښــود، زما ځړيدلي سر ته يې وکتل، ورو يې وويل:-

ځوانه ! خپه راته ښکارې، څه خبره شوي؟

ما هيڅ نه ويل، اصــغر، زوبير هم په چوپه خوله يوازې ماته کتل، آيوب بيا وپوښتل:-

تاسو به پدې کار کولو خپه شوي نه وی؟ او يا درته کوم مشکل خو جوړ شوي نه وي؟

اصغر د څه ويلو ته خوله جوړوله، هغه مې د سترګو په اشاره پوی کړ، هيڅ يې ونه ويل.

نه مې غوښتل څوک خبر شي، خبره بايد همداسې پټه پاتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د آيوب لاس مې له اوږې ليرې کړ، پاڅېدم، کورتۍ مې وباسله، په ډډ غږ مې وويل:-

نه ولې به خپه شـــو؟ بلکې مونږ خو فخر کوو، البته مونږ په ځان باور نه کيږي داسې کار مو هم کړئ.

د هغه زيړ غاښونه وبرېښيدل، خپ خپ يې وخندل، ما بيا ور غبرگه کړه:-

اوس راته زمونږ خپله حيثه راکړه، بيا که کوم داســې کار و، زمونږ نه ښــه درته بل ځوک نشي پيدا کيداى، هر وخت ستا په خدمت کې يو.

اصــغر او زوبېر راته په حيرانۍ وکتل، ما کورتۍ او مخ پوټۍ د کوټې کونج ته وغورځول.

آيوب په خوښی د زيوراتو کځوړه رواخيسته، په لاس کې يې وخوځوله، ژربا يې خوند ورکړ، په شونډو يې خوښي وغوړيده.

کځوړه يې ټوله خالي کړه، لومړی يې په کومه تيره وخربيل گوندې ســاده نه وي، وروســته چې مطمئن شــو خوله يې له خندا سره نه ورتله، په گونډو ورته ناست و، او لگيا و زمونږ حيثه يې ترې بيلوله.

ښه شيبه تېره شوه، مونږ درې واړو ته يې خپله برخه راکړه او د شپه پخېر ويلو سره له کوټې ووت.

زوبېر په چابکو قدمو زما خواته راغی په زوره يې وويل:-

ســتا پدې سر کې بوس درکې دي که څنگه؟ همدا اوس دې يو نفر وواژه، بيا هم موږ نشوې غواړې، همداسې نور...

خبره کې ور ولويدم:-

هې ! د څه شي وواژه؟ ما څوک ووژل هن؟

زوبير شونډې چيچلې، ډېر غو سه و، غو ښتل يې څه ووايي خو ما د خبرې وار ور نکړ، اصغر ته مې گوته ونيوه:-

ستا په ياد شي ما څوک ووژل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړه راته حيران ولاړ وو، په رډو راووتو ســـترګو يې په ځير ځير سره ليدلم، اصغر ورته د بېرته ورتلو اشاره وکړه.

زه د خوب ځای په جوړولو لګيا وم، ومې ويل:-

دا خبره بايد زمونږ ترمنځ تکرار نشيــ، ما هيڅوک ندي وژلي او نه مو هم غلا کړي، بس همدومره ياد وســاتئ، دا مو د محنت ( خواری ) پيســې دي، چې پخپلو متو مو ګټلي.

ورپســې ورغلم د آيوب لخوا راوړل شــوي چايو څخه مې پيالې ډکې کړې، په قاب کې بيسکت مې دواړو ته ونيول، هيڅ يې نه ويل.

په کټ کېناســتم، يوه لاس کې پياله او بل کې بيســکت، له ويښــتو مې د اوبو څاڅکې لويدل.

په غولي مې ســترګې خښــې کړې وې، هر څه راته بې مانا ښــکاريدل، دا انســانان، دا مال او دولت، دا ژوند، هر څه راته لکه د خېټې ډکولو وروســته تشول نور هيڅ.

که هر څومره ډوډۍ وخورو، ښـکلي ښـکلي خوراکونه وکړو، دا چې له سـتوني تېر شي، بيا همغه شی ترې جوړېږي کوم چې له ترخې ډوډۍ جوړېږي.

بس هر سړی خپل نيت خوړلی ګني هر چا به د خپل وخت ضايع کولو په اندازه کار هم کولو.

پياله مې خالي کړې نه وه چې ســترګې راباندې درنې شــوې، ســاعت ته مې وکتل، له درو لس دقيقې تېرې شوې وې.

زوبېر دوی ته مې وکتل، داســې ښــکاريدل هغوی ته هم خوب ورغلي، کمپله مې په ځان راکش کړه او د راحتونو نړۍ ته دننه شوم.

سهار مې چې سترګې خلاصې شوې، اوږد په کټ پروت وم، ځان راپسې ډېر دروند و، په سر مې هم ډېر بوج و.

کوتې ته مې وکتل، ګروپ پکې همداسې روښانه پاتې شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګې مې رڼې کړې، کوټه راته بدله ښکاره شوه، کټ او غولی یې هم همغه شان نه وو، زوبېر دوی د دروازې خوا کې ویده کیدل او زه د کوټې آخر سر کې خو دلته زه د دروازې خوا کې و یده او هغوی زما په کټ پســـې خپل کټونه اچولي وو.

حیران وم دا څه کیسه روانه ده؟

په ما څه چل شوی او که دا ځای بدل دی؟

د وجود غړي مې په ځان پسې راکش کړل، په زور له کټ څخه راپاڅېدم.

په سر کې مې ځړیکه تېره شــوه، اه مې له خولې ووت، په تندي مې ګوتې کېښودې او په دېواله مې تکیه وکړه.

سر مې ټوپونه وهل، په زوبېر دوی مې غږونه وکړل، دواړه سم سیخ( سیده ) پراته ول، هیڅ یې نه ویل.

ورو ورو مخکې روان شـوم، د دروازې خلاصـولو کوشـش مې وکړ خو داسـې ښکاریده له هغې خوا راپسې چا بنده کړې ده.

ډېر زور مې ورسره ووهه خو دروازې همغسـې ځان کلک نیولی و، د خلاصـیدو یې نوم هم نه اخیسته.

وجود مې ډېر راپسې دروند و، حتی د ولاړیدو توان مې هم نور له لاسه ورکړی و.

په دروازه مې سر کېښــود، ســوک مې ژېړې تختې ته ونیو، په زوره زوره مې دروازه ودربوله، چیغه مې کړه:-

کوم څوک شته؟

د هیچا اواز رانغی، بیا مې د سوکانو وارونه پرې وکړل:-

څوک زما غږ څوک اوري؟ دروازه خلاصه کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یو چا د پښو ښکالو واوریدل شوه، ورپسې د دروازې ټک شو، ممکن په خلاصوله یې لګیا ول، ورو ورو ترې په شا روان شوم، په یو درب سره دروازه خلاصه شوه.

سمدستي ترې یوه جینۍ او دوه سړي په وسلو سمبال راننوتل، لومړی یوه دنګه نرۍ سره سپینه جینۍ چې کلک پطلون یې اغوستی و، ژېړ طلایي ویښته یې شاته اړولې و، تمانچه یې په کمربند کې تړلي وه، زما مخکې ودریده، لاسونه یې سره ور وستل، په کبر یې ماته وکتل.

ما ټکان وخوړ، حیران شوم، ځان سره مې وویل:-

دا په کوم ځای کې یم؟ دا کوم رقم خلک دي؟ دا نجلۍ لکه د پولیسو په جامو کې؟ ایا مونږ خو یې د تېرې شپې په قتل باندې نیولي نه یوو؟

ددې فکر سره مې سترګې رډې راووتې، همداسې په شا غلی غلی روان وم، د کټ له بازو سره ولګیدم، مخ مې شاته واړوه، سیده په کټ ولویدم.

نجلۍ راته همداسې کتل، ما له وېرې په ډک غږ وپوښتل:-

تاسو څوک یئ او له مونږ څه غواړئ ؟

نجلۍ لاسونه سره خلاص کړل، په ټول شوي ویښتو یې لاس تېر کړ.

سړي ته یې په مسخري ډول وویل:-

دغه ته کلی ورکه کنه؟ تر اوسه خبر هم ندی!

ټولو له خندا خولې خلاصې کړې، دې خبرې یې ماته هیڅ خوند رانکړ، په ورو غږ مې وویل:-

زه ریښتیا هم نه پوهېږم تاسو څوک یئ، څه رانه غواړئ او د څه لپاره مونږ دلته یو؟

نجلۍ ترخه موسکا وکړه او وې یې ویل:-

ضرورت نشته دومره ډېرو پوښتنو ته، په هر څه به پوی شئ.

یوه سړي ته یې اشاره وکړه، هغه دوه قدمه رامخکې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجلۍ په جګو قدمونو له کوټې ووته، د تور غنم رنګ ســړي، پلنې شــونډې وخوځېدې:-

تاسو ټول دلته خپلو کورنیو لخوا رالیږل شوي یئ، تاسو به له نن ورځې وروسته زمونږ سره پدې ډله کې خپل ژوند مخکې بیایئ او هغه څه چې مشرـ تاسـو ته امر کوي، په ډېر احترامانه به یې پوره کوئ.

په تریو تندي مې ور زیاته کړه:-

دا خبرې دې راته وروســـته وکړه، اوس راته دومره ووایه مونږ دلته څنګه او چا راوستو؟

سړي یوه شیبه ماته وکتل، بیا یې وویل:-

ســتاسـو خپل کاکا تر دې ځایه را ورسـولئ او له موټر څخه یې همداسـې په خوب ویده رابښکته کړئ، مونږ ترې د داسې کار پوښتنه هم وکړه، هغه ویل ما سره راروان وو، په لاره کې یې نشه وکړه او بې هوښه شول.

ځان سره مې دا خبره په حیرانۍ تکرار کړه:-

زمونږ کاکا؟

- هو! وړه بږیره، غټه ککرۍ کوچنۍ پوزه او له تنې هم ډېر چاغ بریـښیده، هغه تر دې ځایه راروسولی.

هغه غټ او چاغ آیوب و، په زړه مې له ډېرې غوســې لړزه ننوته، ګوتې مې په رپیده شوې.

سړي مخکې لاس ونیوه:-

ته او هغه دوه ملګري دې نن دوهمه ورځ ده چې همداسې ویده دي.

د تندي ګونځې مې لا پسې ژورې شوې:-

دوه ورځې کیږي چې مونږ ویده وو!

- هو دوه ورځې ! او هغه ملګرو باندې دې پام کوه، له کله نه چې دلته راغلي، سونې یې هم ندی کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وارخطايۍ مې د زوبېر او ا صغر کټ ته منډه کړه، لومړی مې زوبېر وکوت او بيا اصغر، په سينه مې ورته غوږ کېښود، د زړه زربانو يې چپ اړخ خوړولو.

شکر مې وايسته.

ما غوښتل ډېر څه ترې وپوښتم، سړي راته د سترګو لاندې په کبر سره کتل.

زما حرکات يې څارل، پلنې شونډې يې سره ومروړلې، په جدي اواز يې وويل:-

بس نور نغواړم پوښتنې وکړې، په ديرشو دقيقو کې مو ځانونه چمتو کړئ، مشر درته سپارښتنه کوي، يو څو نور نفر مو هم انتظار کوي.

سر يې کوږ کړ، له کوټې پسې ووتل.

هک حيران مې ورته کتل، ددوی خبرې راته هيڅ د منلو وړ نه وې.

فکر مې کاوه خوب وينم، سترګې مې څو ځله ورپولې، حقيقت و.

سر مې همداســې له درده ترپکې وهلې، ما په تندي ګوتې وهلې، غونې مې ځيږ شو، يوه پنډه زما مخې ته په ځمکه وغورځېده.

ســترګې مې ور پورته کړې، نری وچ ســړی، ســور رنګ او ځړيدلې پزه، شــنې سترګې، اوږده سر ويښته يې له غوږه واړول، په جدي غږ يې وويل:-

پدې پنډه کې ستاسو ټول څيزونه موجود دي، ځانونه مو تيار کړئ.

ورسره سيده له کوټې ووت، هيڅ مې ونه ويل، په سر مې همداسې بوج و.

ورغلم، زوبېر او اصــغر مې په شـــنه زور له خوبه پاڅول، بيا چې کله راويښ شول، تر ډېره مې د هغوی په پوهولو خپل ماغزه نور هم وخوړول.

له ځانونو يې بيخي ليوني جوړ کړي ول، اصــغر لږ په کرار و خو زوبېر ډېر وارخطا و، دواړو مو ورته حوصــله ورکوله ترڅو لږ ارام شي، ما يې په اوږه لاس کېښود، ومې ويل:-

زمونږ سره دهوکه شــوي، دا ځای، دا خلک او دا ډله، دا ټول د هغه آيوب کار کيدای دی، هغه زمونږ له وفادارۍ ســو اســتفاده کړي، مونږ يې غولولي يو، پخدای که به رانه دا د سپي زو خلاص وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښــکته شــونډه مې د پاســنيو غاښــونو لاندې کلکه کړه، ديوال ته مې وکتل، لاسونه مې سره ومروړل ومې ويل:-

او تر هغې تاسـو ارام اوسـئ، ددې ځای حالت پته به هم ولګي، بيا به مخکې پسې ځو.

دواړو راسره خوښــه کړه، ځانونه مو چمتو کړل او د يوه خدمتګار لخوا په يو څو دهليزونو دننه بلې کوټې ته ننوتو.

په کوټه کې درې نفر نور هم ښـکاريدل، ټولو زمونږ په رقم ليباس اغوسـتی و، شين آسماني رنګ او بې لمنو جامې.

خدمتګار راته هملته منتظر پاتې کيدو سپارښتنه وکړه.

دربواړه ورغلو له هغو نورو کسانو سره څنګ کې کيناستو.

دوه سړي ناست وو او يوه نجلۍ.

د دواړو ببر سرونه، خړ سپيره مخونه، چتې پزې درلودې.

ممکن ورونه به وو، ډېر سره ورته وو.

يوه نجلۍ وه، سپين او پلن مخ يې وه، منځنۍ ونه يې درلوده، تور چوټي شوي ويښتان يې په اوږه اړولې و او په سپينو ګوتو کې يې چرموړله.

ټول د اورسـۍ رڼا ته ناسـت و، چوپه چوپتيا وه، يوازې به د خدمتګارانو د پښو ښکالو راتلله.

اصغر په څنګل ټکان راکړ، ورو يې وويل:-

مدثره! زوبېر ته ګوره.

غلي مې ورته وخندل، زوبېر له وارخطايۍ رډې ســـترګې نيولې وې، ټول لکه پاڼه داســې رپيده، په اوږه مې لاس پرې کېښـود، ټوپ يې وکړ، په ويرې سره يې مخ راتاو کړ، ومې پوښتل:-

زوبېره !

په حيرانۍ يې سترګې راواړولې، لړزېدونکي شونډې يې وخوځيدې:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه دي!

- ته خو ښه یې کنه!

- خود ښه یم، په ما به نو څه وشي.

هیڅ مې ونه ویل، پخپل حال مې پرېښود.

ښــه شــیبه تېره شــوه، څه گورم همغه نجلۍ چې څو شــیبې مخکې کوټې ته راغلې وه، د یوه بل سـړي سره په خبرو، لاس په قلم، سـترگې په کاغذ، زمونږ له مخې په جگو جگو قدمونو تېره شوه.

ټولو هغوی ته کتل، سړی او نجلۍ راته مخامخ ودریدل.

په مونږ یې یو ځغلنده نظر واچوه، سړي په لوړ غږ وویل:-

تاســـو ټول زمونږ گروپ ( ډله ) ته نوي راغلي یئ، او زمونږ په گروپ کې دا قانون دی چې څوک راځي هغه بیا تللئ نشي او چې لاړو بیا هغه راتللی نشي، شتون به مو په ژوند وي او تگ به مو په مرگ.

دې خبرې یې هک حیران کړم، سـترگې مې رډې راووتې، سـړي پســې زیاته کړه:-

دا خبره ځکه کوم، دلته مونږ په تاسـو ډېره خواري کوو، پوره یوه نیمه میاشـت ټرېنېنگ( زده کړه ) در کوو، مصروفونه درباندې کوو، ترڅو تاسو ښه چمتو شئ او هر کار لپاره تیار وډبوئ، نه دا چې زمونږ سره چل بازي وکړئ، زمونږ سره له چل بازی مخکې باید سـل ځله فکر وکړي، ځکه مونږ یې هر ځای څارو، ډېر قوي جاســوســان لرو، که یې ذره شــک هم ورباندې راغی، د هغوی لخوا به ووژل شي.

ټول ورته غلي ناســـت وو، په هره بله خبره پســـې دوهمه خبره یې ترخه او خطرناکه وه.

دنگې نجلۍ لاســونه سر ور وســتلي وو، د ســترگو په کونجونو کې یې مونږ ته کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړي خبرو ته دوام ورکړ:-

نو له اوسه مو خبروم، باید دا هیڅکله هم هېر نکړئ، تاسو باید زمونږ هر امر ومنئ، او هر هغه کار پسې چې تا سو لیږو د هغې لس فیصده حق به تا سو ته در کول کیږي او نورې به د ګروپ صندوق ته ځي، نن ورځ له خپل شاوخوا ماحول ځانونه خبر کړئ، د ټرینینګ ورځ مو له سبا پیل کیږي.

ټول لکه ګونګیان له خپله ځایه راپاڅیدو، نه چا د پوښتنې کولو جرئت وکړ او نه په چا کې د خبرو کولو توان و.

په چوپه خوله مو ورسره هر څه ومنل، له کوټې راوتو.

نجلۍ همداسې د ویښتو چوټي په لاسونو کې چرموړله، په څېره یې هیڅ خفګان نه لیدل کیده.

د دهلیز په دیوال ځای ځای سوریو ته یې کتل، اصغر او زوبېر پخپلو کې سره بنګیدل.

ما د نجلۍ خوارې خولې او غلي څیرې ته کتل، بلها ډېر فکرونه مې تر ماغزو راغلل، دلته راتلل یې ډېر په عجیب فکر کې کړی وم:-

دا نجلۍ به هم زمونږ په رقم په دهوکه راوستل شوي وي که نه پخپله خوښه!

هسې په نظر راته ښه لګیده، له دهلیزه دباندې شوو.

تېزې رڼا مې سترګې وبرېښولې، یخې هوا مې زړه ته سکون راوبښه، اوږده ساه مې واخیسته.

مخکې تر لیرې پورې ګڼې ونې لیدل کېدې، مخامخ خړه لاره وه، د لارې په غاړه څو له لرګیو جوړې کوټې ښکارېدې، ځای ځای خلک ښکاریدل چې په میزونو ټومبک ټومبک ( تاو راتاو ) ناست دي او ځینې نور د ونو لاندې په مورچو کې له ټوپکو سره ښکاریدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجلۍ څو قدمه مخکې او مونږ پسې شاته و، ما په ونه کې ناستې وړې مرغۍ ته کتل، زر زر به يې له يوه منډکي نه بل منډکي ته ټوپونه کول، لکۍ به يې ښکته پورته کوله.

د کينې ســترګې له کونجه مې نجلۍ ته وکتل، وروځې يې سر ور وســتې، يو نظر يې په مونږ واچوه.

لږه شــيبه يې راته وکتل، فکر په مخه کړه، نجلۍ موســکه شــوه، ما هم ځان کابو نشــو کړی، مخکې ورغلم، لاس يې را اوږد کړ، ســتړي مشي- مې ورسره وکړه.

لومړی ځل و له يوې ناپيژاندې نجلۍ سره داسې ستړي مشي کوم.

نجلۍ غاړه رنه کړه، ټومبک خلکو ته يې وکتل، په نرم اواز يې نرۍ شــونډې وخوځيدې:-

ډېر عجيب ځای ندئ؟

ما هم مخکې ناستو کسانو ته وکتل:-

هو! ماته خو ډېر حيرانوونکی وايسيده.

- زما ډېر خوښ شو، همداسې حيرانوونکي ځايونه مې خوښيږي.

غوښــتل مې يو نظر يې ښــه وګورم خو زړه مې نشــو کولای همغه شــان مې وويل:-

زما خپله هم.

نجلۍ مخ راواړوه، ســپين غاښــونه يې وبرېښــيدل، د اننګيو لاندې ځای يې کوچنۍ خاليګه جوړه کړه، نرۍ شونډې يې وغوړيدې:-

زما درته فکر و، هلته د شکيل او شيشکې په خبرو ډېر وډار شوئ، او خاص يې ستاسو هغه بل ملګری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګ مې ســور واوخت، خندا يې راته يوه نوي نړۍ جوړه کړه، زړه مې په لړزا پيل وکړ، يوه شيبه مې د نجلۍ سپينې غونډې منډې خولې او د هغې تورو غټو سترګو ته وکتل، او ومې ويل:-

شيشکه او شکيل څوک دي؟

- همغه چې دا يوه شــيبه مخکې يې راته غټې غټې خبرې کولې، هغې نجلۍ نوم شـــکيبه دی خو د هغې خوی خصــلت ټول د بلا په څېر دی، ځکه ورته شيشکه وايي.

موسک شوم، سترګې مې د هغې په سپينه غاړه ولګيدې، زېړ طلايي مزي کې يو د خرما زړي په رقم کوچنۍ غمی ځليده، مخ مې ور پورته کړ:-

دا به دې د مور نښاني وي!

نجلۍ په حيرانۍ راته وکتل، غاړې ته يې لاس يوړ، غمی يې په ګوتو کې ونيو، ورو يې وويل:-

تاته څنګه معلومه شوه؟

- بس دا خو د انسان کمال دی چې بل انسان لږ لږ درک کوئ شي.

نجلۍ تندي ګونځې پيدا کړې، ښکته پورته يې راته وکتل، وويل:-

بالکل بالکل! بد نه وايې.

نرۍ موسکا مې وکړه:-

نوم دې څه دی؟

- خوږه !

نوم يې راباندې خوږ ولګيد، لکه په يوه غره کې چې چيغه وکړې او د هغې خوا درته خپل غږ ببرته انعکاس وکړي، همداســې يې نوم زما په زړه کې انګازې وکړې.

خوږې غلي وپوښتل:-

او ستا؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مدثر!

نجلۍ د غاړې غمی همدا سې په ګوتو کې اړوه را اړوه، په موسکۍ شونډو يې خړې سپېرې لارې ته کتل.

ما غوښتل له خوږې سره نور هم ماتل شم خو دغه وخت کې مې د غوږ خواکې شنا تېره شوه، مخکې خړې دوړې پورته شوې.

په بيړه مې مخ شاته واړوه، ا صغر د بلې تيږې ګوزار ته نيت کړی و، ځنګه يې چې وليدم، لاس يې شاته ونيو او ځانته يې وغوښتم.

خواته يې ورغلم، ورو يې وويل:-

بيلمازه ! مونږ دې په انتظار مړه کړو او ته راته د انجونو سره عشقونه کوې.

ژر مې په خوله لاس ور کېښود، شاته مې وکتل، دا سې ښکاريده چې خوږې هم خبره واوريده، ورو مې ورته وويل:-

چپ شه! په کراره !

زوبېر ته مې وکتل، ځړيدلی سر ولاړ و، ور مخکې شوم، ټټر پسې مې د هغه سر ولګاوه، په مينه مې وويل:-

دا ټوله غلطي زما ده، که ما له هغه رزيل سره د غلا کولو خبره منلي نه وه، نو نن به داسې نه پيښيدل.

زوبير هيڅ نه ويل، پسې زياته مې کړه:-

خو ته بېغمه اوسه، زه درسره يم په تاسو دواړو به يو ذره تکليف هم رانولم، تاسو زما مسؤليت يئ، زما ملګري نه زما وروڼه يئ.

زوبېر رانه دواړه لاسونه چاپېره کړل، په ملا مې وتپاوه.

زما خبرې په همدې ځای قطع شوې، يو خدمتګار په دروازه کې ودريد، په لوړ غږ وويل:-

مدثره! زر راشه شيشکه دې غواړي.

فرهاد په چيغه د خدمتګار په خوله کې خبره ور وچه کړه:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنا کېږه ! نشي کولای درشي.

زه له خپله ځای پاڅېدم، ځان مې وغزاوه، د وجود په غړو کې مې ټکا تېره شوه، ومې ویل:-

بس همدومره بس دی ! نور به بیا کوم بل وخت ګورو.

ورپسې له کوټې ووتم، باران تم شوی و، لیکن باد همداسې تېز لګیده، له دوو دروازو تېر شوم، مخکې په وره دروازه ورننوتم.

شکیل او شیشکه په یوه مېز ناست، دواړو ته د شنه چایو پیالې ډکې وې.

په درېیمه څوکۍ کېناستم، دواړو ماته کتل، شکیل شونډې وخوځیدې:-

چېرې وې؟ ټوله ورځ نه ښکارېدې؟

له کوچني پتنوس مې یوه پیاله را پورته کړه، چاینک مې رواخیســـت، پیالې ته مې ونیو، ورو مې وویل:- ملګرو سره مې څه د تېر وخت کیسې کولې.

پیاله ډکه شوه، له قاب مې نیم شوی بیسکټ خولې ته کړ، شیشکې د سترګو لاندې راته کتل، شونډې یې وخوځیدې:-

له مالک ناصر مو څومره پیسې راخیستې وې؟

له پیالې مې شر پورته کړ، په ډکه خوله مې وویل:-

دېرش زره ډالر و کنه.

شکیل په زوره وویل:-

لیکن دلته خو یوازې ۲۰ زره ډالر دي.

په حیرانۍ مې ور وکتل، یوه شـیبه غلی وم، د پیســو راکولو وخت مې یاد کړ، دانه دانه مې شـــمېرلي وې، بالکل پوره وې، خو دا... ومې ویل:- دا څنګه امکان لري؟ ما پخپله وشمېرلې، ټولې دېرش زره ډالر وو.

شکیل مېز په سوک ووهه، د پیالو شرنګ شو، سترګې یې له غوسې وځلیدې، تندی یې ګونځې شو، په قهر یې وویل:-

خو تا بې غوري کړې وه، هغه پیسو کې لس زره نقلي وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوله مې وازه پاتې شوه، په تونده لهجه مې وویل:-
هغه پیسې خو مې په صراف هم ولیدې، هغه هم وویل بالکل اصلي دي.
شکیل له ډېرې غوسې په سوکانو میز خوراوه، د پیالو شرنګ شرنګ اواز خوت.
په ورمېږ کې ټیټ شو، په قار یې زما سترګو ته وکتل، تورې پېړۍ شونډې یې وخوځېدې:-
هغه صراف هم په همدې کې ورسره ښکېل و.
ما هیڅ ونه ویل، غلی پاتې شوم، شکیل راته همدا سې په قهر کتل، ساه یې ژر ژر اخیسته.
شیشکې یې پر اوږه لاس کېښود، د آرامولو هڅه یې وکړه، شکیل څوکۍ کې ځان سم کړ، یوې او بلې خوا یې وکتل، ورو یې وویل:-
هغه بل ځل دې هم غلط نفر تښتولی و، هغه غلطي مې هم معاف کړه، دا دې دوهم وار شو، دا په تا څه شوي هه! ورځ تر بلې پسې خرابېږې؟
ما یوازې په قاب ایښې پیالې ته کتل، هیڅ ځواب راسره نه و.
مونږ به د شکیل سره ډېر عام وو خو کله به چې رانه غلطي وشوه، بیا مو ورسره هیڅ خبرې نشوې کولای.
شیشکې شکیل ته په ورو غږ وویل:-
شـکیله ! خبر بس پرېږده، ده خپل مسـؤلیت سرته رسـولی خو لږه غلطي ترې شوې، انسان نیمګړی دی، وې ښښه.
دا لومړی ځل و چې د شـیشـکې دومره رحم دله خبرې مې اوریدې، پخوا په شـان د کبر په بلۍ نه وه ناسـته، هغې به تل توره دریشي- په نري بدن په تن وه، د ګرېوان لومړی دوه تنۍ یې خلاصـه وې، سـپین ټټر یې وبرېښـیده، زر مې ترې مخ واړوه.
شـکیل له میزه پاڅید، له الماری یې یوه سـپینه لفافه رواخیسـته، په مېز یې وغورځوله، مخ یې د اورسۍ رڼا ته واړوه، لاسونه یې سره ور وستل، وې ویل:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې کې ستاسو پاسپورټونه او ټکونه دي، سبا ورځ ډېر لوی سفر لرئ، ځانونه مو چمتو کړئ.

لفافه مې رواخيستــــه، له ځېرې کولو وروســـته مې د زوبېر، اصـــغر، خوږې او فرهاد پاسپورټونه وليدل، شکيل ته مې سترګې ور پورته کړې، ومې پوښتل:-

نو دا پاسپورټونه د څه لپاره؟

مخ يې راواړوه، لاسونه يې په مېز کېښودل، په اوږو کې ټيټ شو.

ورو يې وويل:-

ځکه دا ځل مو هدف په يوه خارج هيواد کې دی، ډېر غټ مال دی خو چې هغه پلان چې مونږ درته جوړ کړئ په سمه توګه عملي کړئ، پوره مطمئن يم، تاسو به بريالي راځئ.

- نو دا په کوم هيواد کې دی؟

- عربي امارت.

غلي مې وخندل، شـــکيل باندې زما خندا ډېره بده ولګيده، تندي يې ګونځې جوړې کړې، ومې ويل:-

ياره مشره ! دا امکان نلري، ته مو داسې ځای ته په غلا کولو پسې لېږې چې د نړۍ پرمختللی سـيســتم لري، هلته څوک يوه ژاوله نشيـ غلا کولای بيا ته راباندې کوم غټ مال غلا کوې.

شکيل په جدي غږ وويل:-

ولې به ونشــو؟ دده هغه پلار به هم کوو، وايم مونږ پوره پلان سره تاســو هلته ليږو، زمونږ هر رقم مرسته به له تاسو سره وي، هيڅ مشکل به ونلرئ.

شکيل غلی شو، ورپسې شيشکې خبرې شروع کړې:-

زمونږ مشرـــ پدې کار ډېر ټينګار کوي، ويل يې ترټولو وفاداره او تکړه ګروپ( ډله ) مې پکار ده، مونږ ورته ستاسو په شمول د څو نورو نفرو نومونه ورکړل او هغه تاسو انتخاب کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما پاسپورټونه په ګوتو کې اړول را اړول، د هغوی خبرې مې په غور اوریدې.
دوی به چې کله هم کوم کار پسې لیږلې نو دومره په خوارو خولو به یې خبرې کولې ته به وایې چې له دې نور ښه خلک نشته.
دواړو راته کتل، شکیل بیا پسې زیاته کړه:-
او بله خبره! مونږ به درته هلته خپل نفر ساتلي وي، څنګه چې ورشئ، هغوی به مو له هر څه سره اشنا کړي.
له خپله ځایه پاڅیدم، دواړو ته مې وکتل، موسک شوم، غلي مې وویل:-
بس ستاسو خوښه زمونږ خوښه.
د شکیل او شیشکې په خوله نرۍ موسکا وغوړیده.
شکیل پاڅید، په اوږه یې وټپولم:-
دغسې زما زمریه !
ترخه موسکا مې وکړه، څو قدمه مې مخکې واخیستل، کوږ شوم له دروازې خوی ووتم.
یو ناڅاپي له خوږې سره ټکر شوم، هغه همدا شیبه زمونږ له کوټې راروانه وه، په تورو ځلیدونکو سترګو کې یې غوسه راټوله وه، هوار تندي یې ګونځې درلودې، په زوره یې وویل:-
هې! ماته وګوره! ته ټوله ورځ چېرې وې؟
موسک شوم، ورو مې وویل:-
همدلته وم، ته نه ښکاریدې.
- درواغ ! دلته نه وې، کوم بل چېرې وې!
په حیرانۍ مې ور وکتل:-
په والله چې همدلته وم، زوبېر دوی سره.
د تندي ګونځې یې لا پسې ژورې شوې، ویښتان یې سترګو ته راوغورځیدل، په غوسه یې څنګ ته وشړل او وې ویل:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



درواغ ! دروغجنه ! ته ټوله ورځ له شیشکې سره کوټه کې وې، دا اوس وګوره د هغې له کوټې راووتې.

نرۍ خندا مې وکړه، ورو مې وویل:-

اووه! ښــه شــو رایاد دې کړل، ســبا ورځ په ســفر روان یو، همدا اوس مې د شــکیل دوی سره پرې خبرې کولې، د زوبېر، اصــغر، فرهاد او زما او ســتا په شمول یو ګروپ په ګډه ځو.

خوږه یوه شــیبه غلي شــوه، د تندي ګونځې یې ورکې شــوې، په ســترګو یې خوښي وځلیده، شونډې یې وخوځیدې:-

ریښتیا !

بیا یې څېرې شوي سپینې لفافې ته وکتل:-

او دا پدې لفافه کې څه دي؟

لفافه مې هغې ته ونیوه، ورپسې دواړه د کوټې په لور لاړو.

اصغر دوی ته مې هم ټوله کیسه وکړه، زما د خبرو په اوریدو سره زوبېر د کوټې خام دیوال ته ولي ولګولې. خپه ښکاریده، اصغر په ټوکو ورته وویل:-

لکه چې بیا درباندې حمله راغله!

ټولو مو وخندل، زوبېر د سترګو په کونج کې په غو سه ورته وکتل، ما ا صغر ته سترګې ونیوې، ومې ویل:-

نه مړه ! ګوره په زوبېر به ډېر نه لګې، هغه وخت یاد که چې ســپږې درکې شوې وې او مور به دې درڅخه هر سهار او مازدیګر یو خوروار لرې کولې.

ټول په خندا شول، د زوبېر په شونډو هم نرۍ موسکا خوره شوه، په ګوټ کې یې ځان سم کړ.

اصغر وویل:-

غلی شه ! په ماشومتوب کې تا هم پوزه نشوه پاکولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو له خندا خولې خلاصې پاتې وې، خوږه زما څنګ کې ولاړه وه، کله به يې چې وخندل، د اننګيو لاندې کوچنۍ خالیګه به يې وبرېښېده او د هغې ښکلا به يې څو چنده ډېره کړه.

ټولو خندل، ما وويل:-

بس بس سپړنه ! زر لاړ شه، سر دې کل کړه چې دا سپړې درکې ورکې شي، هسې نه مونږ ته هم دا فساد انتقال کړې.

اصغر د ښي لاس ګوته زما لينګيو ته ونيوه:-

ته دې اول خپل پرتوګ وګوره، په څټ دې اغوستی.

په بيړه مې پرتوګ ته وکتل، سم و، د ټولو خنداګانو زور واخيست، سر مې ورته وخوراوه:-

ای حرمونيه!

زمونږ ټوکې به ډېرې پسې وغزيدې، زه او ا صغر به سره اخته شو او تر ډېره به مو د يو بل بد رد وويل، ټول به مو له ځان سره خوښ ساتل.

که نن راته د نړۍ لوی سلطنت راکول کيده او له دې څو ملګرو يې ليرې بيولم نو ما به ملګري انتخاب کول، زما هره خوښي، زما سکون او ژوند له همدغو سرچينه اخيسته، د ژوند د سختو شيبو ملګري مې وو.

هغه وخت چې شکيل راته پاسپورټونه په ميز وغورځول او خبره يې راسره شريکه کړه، ما ورته د خپلو ملګرو انکار هم کولای شوو، خو نه خدای خبر څنګه مې ورسره په چوپه خوله هر څه قبول کړل.

د زوبېر او اصغر زړه نه کيده خو دوی ما پسې تړلي وو، زه به چې چېرې تلم ددوی به هم همغه لار وه.

فرهاد زمونږ سره نوی نوی ملګری شوی و، هغه زمونږ په رقم ملګري کوم بل چېرې نشول پيدا کولای او خوږه نه پوهېږم دغه نجلۍ سره مې چې له کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدلي، تر او سه یې چې هره پرېکړه راکړي، چې هره خبره یې کړي، ما ورته نا ندي ویلي او هر څه مې ورسره منلي.

د هغې رانیژدې کیدو سره به په ما لړزا راتله، ټول بدن به مې لکه پاڼه رپیده، تورو غټو سترګو ته مې یې نشول کتلای، څنګه به چې راته مخامخ ودریده، زما د سترګو نظر به ځمکې ته کده وکړه، لکه څه شی چې لټوم، سترګې به مې په لټون لګیا وې.

د ماښام تیاره خپره وه، ځنګل کې ورو ورو باد لګیده، په تته رڼا کې د ونو شڼا او د ګیدړ کوکه ډېر وېروونکي ول.

د لرګینې کوټې خوا کې د اور سکروټې ځلیدې، ژېړه مړاوې رڼا یې د خورې په مخ پرته وه، د هغې ښکلي تورې سترګې اور ته ځلیدلې.

ما ترې وپوښتل:-

ستا زړه کیږي سبا راسره لاړه شې؟

خورې سترګې راواړولې، هوار تندي یې ګونځې پیدا کړې، په سړه سینه یې وویل:-

زما له سترګو داسې ښکاري، چې زړه مې نه کیږي تا سره لاړه شم؟

موسک شوم، هغې کوچنۍ منډکۍ( لرګۍ ) په ګوتو کې ونیو، اور ته یې ور وغورځاوه.

وې ویل:-

ما کله هم ستا سره په تګ کې د خطرې او خفګان محسوسي نده کړي، اوس هم نکوم او بیا به هم نکوم.

د هغې نرم غږ او په ښکلي انداز خبرې راته ګبینو شان خوږې لګیدې، ځان سره مې ورو وویل:-

رېښتیا هم چې خوږه ده.

خورې ماته وکتل:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه دې وویل؟

په بیړه مې وویل:-

نو دومره باور ولې؟ په ما کې دومره خاص څه دي؟

خوږې ډنګر لینګي وغزول، د اور ژېړه رڼا یې په پښـــو پرته وه، په مخ پراته ویښته یې په ګوتو د غوږ د پاسه واړول، شونډې یې وخوځیدې:-

ستا پرېکړه هر ځل سمه وي او په خپل ځان کلک باور لرې، کوم کار ته دې چې مخه کړې، بر یالی ترې راغلی یې او ســـتا په اوس پرېکړه هم زه پوره مطمئنه یم چې بریا به ستا وي.

ما هیڅ نه ویل، ځړیدلی سر ناسـت وم، یوازې مې سـکروټو ته کتل چې د اور په لمبو کې ځلیدلې، چې ناڅاپي مې اوږه درنه شوه، ټکان مې وخوړ، شاته مې وکتل، اصغر و، په زوره مې وویل:-

کولمې دې راشنې کړې ظالمه!

اصغر وخندل، ورو یې وویل:-

څه کیسـه ده، ځنګه داسـې دوه په دوه سره پټې پټې خبرې کوئ؟ هر څه خو سلامت دي کنه؟

په ځنګ مې ور وکتل، ورو مې وویل:-

چیشی سلامت؟

- مطلب زړه، معده، ګوردې او کولمې.

دې سره درې واړو وخندل، اصـــغر منډه کړه، ما پرې د پراته کوڼي ګوزار وکړ، هغه په توره تیاره کې ورک شو، د خوږې د مخ خالیګه د اور لمبو ته ښکاره شو، هغه موسکۍ وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

په سپېده چاود کې راته موټر هارنونه کول، مونږ ټولو ځانونه چمتو کړي وو، هر يوه مو کليوالي لباسونه اغوستي وو.

خوره په توره چادري کې روانه وه، زه د موټر مخکې سيټ کې کېناستلم چې په هغې مې سترګې ولګيدې، ديسکول يې په مړوندونو ټالۍ خوړلې، تورې زړه وړونکې سترګې يې د موټر دروازې خواته ونيوې، ما همداسې هغې ته کتل، د اصغر تېز اواز راغی:-

مدثره! سات کې دې څو بجې دي.

ټکان مې وخوړ، ژر په موټر کې کېناستم، اصغر ته مې په قار وکتل، هغه خندل.

شيشکه په نظر راغله، د موټر ښيښې ته رانيژدې شوه، سپينه لفافه يې راته ونيوه، زما سترګو ته يې وکتل، ورو يې وويل:-

دا درڅخه هېر و.

لفافه مې څټ مخ واړوله، ومې پوښتل:-

پدې کې څه دي؟

په ملا کې کږه شوه، سر يې د موټر ښيښې ته نيږدې کړ، خړې شونډې يې وخوځيدې:-

دا د غلا ټول پلان دی، پټ يې درسره وساته، دا بايد هلته خلاصه کړې.

د هو په طور مې ورته سر وخوځاوه، لفافه مې د جامو بکس ته واچوله.

د موټر شاته سيټ ته مې مخ کوږ کړ، خوره، زوبېر، اصغر او فرهاد ټول ناست ول، د خېر دعا په کولو مې موټروان ته د تلو وويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټولو سترګې له خوبه ډکې ښکاريدې، ما هم د خوب اربړمي کول، سترګو مې د يخ باد نه سوخت کاوه.

په سوک مې د لاس سترګه سولوله، ټول غلي وو، د موټر غرهار اوازونه اوريدل کيدل.

موټروان هم ښه پښه ورکړې وه، ځمکې ځمکې له يې وهه، دوړې يې شاته پريښودې او مخکې خړه سپيره لاره يې پرې رانيوله.

ښه شيبه تېره شوه، د لمر رڼا ځليدونکې شغلې د موټر په بانټ ولګيدې، ورسره له خامې پاخه سړک ته پورته شو، په تور سړک کې ځاى ځاى وړې د اوبو ډنډې ښکاريدې، کله به چې موټر ټاير ور ورسيد، ټول به وخوريدو، اوبو به دارې وکړې، موټر به په يو درب سره مخکې پسې زور وکړ.

لږه شيبه مزل کولو وروسته يو ناڅاپي موټر کلک بريک ونيو، د ټايرونو اوازونه راغلل چې په سړک پسې خويدل، چټکه مې وخوړه، له سيټ بوټ سره ولګيدم، په تندي مې درد احساس کړ، چيغه مې کړه:-

څه ټکه راولويده !

موټروان سترګې رډې راووتې وې، بريتونه يې ځړيدلي ول، وروځې يې سره ور وستلې وې، ما په تندي ګوتې وهلې، هغه راته له وېرې ډکې سترګې ونيوې، بيا يې د موټر ښيښې مخامخ لاس اوږد شو:-

طالبان دي! طالبان !

په وارخطايۍ مې مخامخ وليدل، د سړک منځ کې دوه موټر سايکل سره ځلور کسان چې برګې دريشۍ يې په تن وې، اوږدې څڼې يې درلودې، مخونه يې پټ وو او د ټوپک ميلونه يې زمونږ د موټر خواته نيولي وو، ولاړ ول.

دوو مخ پوټو چابک قدمونه واخيستل، يو د سړک په غاړه او بل د سړک په منځ کې په ګونډو کېناستل او د ټوپک په ماشو کې يې مونږ په نښه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه نور ورو ورو د موټر خواته قدمونه رواخیستل، یوه اشاره وکړه، موټروان په وېرې سره لړزیدونکې شونډې وخوځیدې:-

هغوی وایي له موټر ځخه ښکته شئ.

بدن مې په لړزا پیل وکړ، ټول هک پک حیران ول، د طالبانو په لیدو سمدستي په ګروپ کې د یوه نفر لخوا اورېدل شوي خبره را په زړه شوه:-

طالبانو لټون روان کړئ، غله نیسي او کله یې چې ونیسي، سرونه ورځخه وهي او بیا یې د خلکو په مخکې په کرېنګ پسې راځوړند کوي.

دې فکر نور هم خراب کړم، خو موقع مې له لاسه ور نکړه، په بیړه مې شاته مخ کوږ کړ، ومې ویل:-

ګورئ تاسو مه وارخطا کېږئ، هغوی یوازې تلاشي کوي نور اجازه راکوي خو دا یاد ساتی زمونږ د ګروپ په اړه درځخه کومه خبره ونه وځي، د اوسیدو ځای مو ښار او عرب اماراتو ته په سفر روان یو.

په ټولو له ډېرې وارخطایۍ او ډار ځخه خولې را ماتې وې، هر یو له وېرې لړزیده.

د جامو بکسه مې د پښو لاندې پرته وه، لاس مې ور اوږد کړ، سپینه لفافه مې ترې رواخیسته.

یو ځل بیا یې ټولو ته د ښکته کیدو اشاره وکړه، دروازه مې خلاصه کړه، مخ پوټې سړي ټوپک میل زما ککرۍ ته برابر کړ، لړزیدونکې لاسونه مې پورته کړل، غلی غلی مخکې ورغلم.

یو مخ پوټی سړی رامخکې شو، د ټوپک میل یې زما تخرګ ته برابر کړ، نری درد مې حس کړ، زور یې پرې وکړ، مخکې یې ټېل وهلم.

دوهم مخ پوټي ټوپک اوږې ته کړ، مخکې راغی، تلاشي یې رانه واخیسته، په لاس کې موجوده سپینه لفافه یې رانه واخیسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څیرې یې کړه، ورسره څو پاسپورټونه په ځمکه وغورځېدل، دوهم نفر پاسپورټونو ته وکتل، څنې یې باد ورپولې، په زوره یې وویل:-
تاسو څوک یئ او کومې خوا روان یئ؟
وېره مو پسې لا ډېره شوه، ما په ورو لړزیدونکې غږ وویل:-
له ښاره راغلو او عرب اماراتو ته په سفر روان یو.
مخ پوټي سړي لومړی پاسپورټ ته وکتل او بیا ماته، ما یوازې د هغه لاسونو ته کتل، بیا یې وپوښتل:-
نوم دې څه دی؟
- مدثر!
اشاره یې وکړه چې مخکې تېر شم، ورپسې د زوبېر وار راغی، د زوبیر رنګ سور اوختی و، لینګي یې له ویرې خوریدل.
په بدن یې لاسونه پرې ووهل، بیا یې د نوم پو ښتنه ځینې وکړه، زوبېر غلی و، مخ پوټي سړي دا ځل په قار وپوښتل:-
درته وایم نوم دې څه دی؟
چټکه یې وخوړه، په بیړه یې وویل:-
زوبېر! زوبیر!
یوه شیبه یې ورته وکتل، زوبېر هیڅ نه ویل، ځړېدلی سر ولاړ و، بیا یې ورته د تلو اشاره وکړه.
ورپسې یې له ا صغر او فرهاد هم همدا سې پو ښتنې وکړې، خوږه په موټر کې ناسته وه، له ښیښې یې زمونږ ننداره کوله.
د ټولو تلاشي یې واخیسته، د سړک په غاړه هر یو د خپل پاسپورټ سره ولاړ وو، موټروان ته یې د تلو اشاره وکړه.
موټر مو مخکې ودرید، ټول په بیړه ور پورته شوو، موټروان موټر ته پښه ورکړه او ښه چابک یې روان کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټولو په سترګو کې خوښي ښکاریده، هر یوه ژر ژر ساه اخیسته، ما ډېر شکر وایسته چې له دې لوی مصیبت خلاص شوو، موټروان ته مې په زوره وویل:-
ته له مخکې پوهیدې چې طالبان دغه ځای ته کله کله راوځي؟
موټروان ګیر بدل کړ، سترګې یې مخکې سړک باندې وې، په لستوڼي یې پزه کش کړه، خړې شونډې یې وخوځیدې:-
هو خبر وم او ځو ځله یې دلته درولی هم یم، خو سـتاسـو رقم خلک راسره نه ول.
ما سر کوږ کړ، د هغه په ځړیدلي پزه خولې ښکاریدې، ومې پوښتل:-
زمونږ رقم خلک؟
- هو! دوی په تاسـو پسـې ګرځي، غواړي سـتاسـو ګروپ له منځه یوسي خو سـتاسـو بخت برابر و چې هغوی ونه پېژندلی ګني یو یو به یې له تېغه تېر کړي وئ.
ما هم ورته سر وخوځاوه، اصغر له شا څخه په غوسه وویل:-
مونږ روان په غلا کولو پسې یو، او بیا له ځان سره یو ټوپک نشو راوړلی، لعنت په مونږ!
ټول غلي ول، هر یو ترسیدلی وو، د طالبانو ځیرې او د هغوی ځنې راته سترګو ته باد باد کیدلې.
ما سیګرټ بل کړ، سپین لوګي پورته شول، فرهاد ښیښه خلاصه کړه.
د موټر چپ اړخ آئینې ته مې وکتل، غټ باڼه اوږدې وروځې او دوه غټې تورې سترګې پکې ښکاریدې.
لږه شیبه مې ورته وکتل، وروځې سره ورغلې، باڼو ا شاره وکړه، سترګې یوې او بلې خوا تاوې شوې، ما همداسې ورته کتل، یو ناڅاپه مې ملا سوخت وکړ، په بیړه مې مخ کوږ کړ، خوږه وه، اشـاره یې وکړه، موسـک شـوم، هیڅ مې ونه ویل، بېرته مې پخپل ځای کې ځان سم کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټر همداسې پسې مخکې ځان کشاوه، پوره ځلور ساعته مزل وروسته هوايي میدان ته ورسیدو.

د موټر مزل ښه سټري کړي وو، بدن مو بند په بند خوږیده، زوبیر په بیړه راکوز شــو، څو چابک قدمونه یې واخیســتل، په ګونډو شــو او له خولې یې ژیړو اوبو داري وکړې.

خوږې په خوله لاس کېښــود، زه ورغلم تندی مې ورته ونیو، هغه به بیا زور وکړ او لپه لپه ژیړه اوبه به یې وغورځوله.

ټوخي واخیست، اصغر ته مې چیغه کړه:-

اوبه راوړه!

له خولې یې لاړې توه کړې، ومې ویل:-

اوس ښه یې؟

ټوخی یې وکړ، د هو په طور یې سر وخوځاوه، اوبه مې ورته ونیوې، مخ لاس یې پرې وکړل، زوبیر ډېر مزل خراب کړئ و ځکه یې قۍ وکړه.

ځان یې  سمبال کړ، ما  ساعت ته وکتل، د ما سپ ښین یوه نیمه بجه وه، خپل بکسونه مو رواخیستل او موټروان سره مو خدای په اماني وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

د هوايي میدان په انتظار خانه کې له ډېرو نورو خلکو سره خپلې الوتکې ته منتظر ناست وو.

ټولو ته دا ځای بیخي نوی و، هره خوا یې خوندوره وه، او هر شــخص یې راته عجیب ښکاریده.

خوره زما خوا کې ناسته وه، له چادرۍ یې مخ راوباسه، په غریو یې وویل:-

اوف! زړه مې پکې تنګ شو.

موسک شوم، ورو مې وویل:-

نو لیرې یې کړه.

خورې رابانديې ځغلنده نظر واچوه، د څه ویلو پرته یې چادري ایســته په بکس کې واچوله، اصغر دوی ورته په حیرانۍ کتل.

ما ځان داســې ښــوده چې هیڅ مې ورته پام ندی، څنګ څوکۍ کې یې زما د پام ور اړولی لپاره بار بار غاړه رنه کړه.

زه غلی وم، مخامخ راته یو غنم رنګ، وړه ږیره او اوږده ښکلي ویښتان یې په تورو سترګو پراته ول، په غېږه کې یو کوچنۍ وړوکی ماشوم ورسره و.

ماشوم د سړي اوږدې پزې ته خپله بې غاښونو خوله ور نیږدې کړه، سړي ورته د ناز نغره وکړه، د ماشوم له خولې لاړو دارې وکړې او له خوښۍ په ټوپونو شو.

خورې ډېره هڅه وکړه زه ورته وګورم خو ما همداســې ځان نا خبره وښــود، آخر یې په اوږه ټکان راکړ، مخ مې ورواړوه.

سترګو ته مې یې وکتل، وروځې یې سره ور وستې، ځان ته یې اشاره وکړه:-

څنګه ښکارم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځغلنده نظر مې پرې واچوه، سر مې ورته وخوراوه او ومې ويل:-

ماشاءالله! ډېره ښکلي ښکارې!

خوږه وشرميده، سترګې يې ښکته کړې، په نريو شونډو يې موسکا وغوړيده.

اصغر غاړه رنه کړه، اواز يې وکړ:-

مدثره ! ته سات وګوره! نور نو ليونی شوم.

سترګې مې ور پورته کړې، هغه خندل او خوږې خواته يې اشارې کولې.

سر مې وخوراوه، غلي مې وويل:-

ای حرمونيه !

پوره يو نيم ســاعت انتظار کولو وروســته د انتظار خانې په لوډســپيکرو کې د الوتکې د رارسيدو خبر خپور شو.

ټول له خپله ځايه روان شو، فرهاد او اصغر په خبرو سره لګيا ول، ما ورته چيغه کړه:-

هلکانو! پام چې بې درکه نشئ، او پاسپورټونو او ټکټونو ته هم پام کوئ.

دواړه راپسې چابک رارواڼ شول.

لږ مزل کولو وروسته په دوو زينو له ډېرو خلکو سره يو ځای ښکته شوو، ورپسې نری لاره راغله چې په هغه کې دوه نفره سره تللئ شـول، زه او خوږه ورمخکې شوو.

ورپسې زوبېر، اصغر او فرهاد وار په وار ورغلل.

مخکې راته د الوتکې پيلوټان ولاړ و، زمونږ ټکټونه يې رانه واخيستل، په ټکټ لاندې برخه کې د الوتکې نمبر ليکلی وي هغه به يې درکړ نور به يې درڅخه څېرې کړ.

د هوايي ميدان له ودانۍ دباندې شـو، لوی لوی الوتکې ښـکاريدې او په ليدو يې زمونږ خولې له حيرانۍ خلاصې پاتې شوې، زوبېر په حيرانۍ وويل:-

وه د ظالم زو! دا څومره لويه ده اووهوو !

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ هم لومړی ځل و چې داسې لوی الوتکې مو له نیژدې لیدلې.
مخکې راته مسافر وړونکی موټر( بس ) ولاړ و، هر یو وار په وار ورپورته شو.
مسافر وړونکی موټر روان شو، په لوی میدان کې، د لویو لویو الوتکو له څنګ څخه تېر شو، مونږ ټولو د الوتکو ننداره کوله، یوه شیبه مزل وروسته ټول د یوې غټې الوتکې لاندې له مسافر وړونکي موټر څخه ښکته شو.
یوه لویه زینه د الوتکې دروازې ته اچول شوي وه، ټول وار په وار په زینه پورته روان شوو، د دروازې مخکې دوه ښکلي ښځینه نوکرانې ولاړې وې، په خوښۍ به یې ښه راغلاست کاوه.
د خوږې سره پنځه واړه دننه شوو، الوتکه ډېره ښایسته وه، لوی لوی سیټونه( څوکۍ ) پکې ایښــې وې، د خپل سـیټ شـمېره مې پیدا کړه، زما او د خوږې څنګ په څنګ ســیټونه وو او د اصــغر، فرهاد او زوبېر بیا د الوتکې د منځ سیټونه وو چې درېواړه یو ځای وو.
پخپل ځای کښېناستم، خوږې ته مې وکتل، هغې په غاړه کې ټیکری سموه.
زوبېر دوی ته مې مخ ور واړوه، ا صغر وروځې ښکته پورته کړې، خوږې خواته یې ا شارې کولې، شونډې مې ورته بوځې کړې، سر مې د نا په طور وخوځاوه، دوه قدمه وړاندې راغی، غوږ ته یې خوله رانیژدې کړه، ورو یې وویل:-
سم بختور یې والا، وګوره څنګ کې درسره ناسته ده.
خوله یې له خندا خلاصه شوه، په بېړه پخپل سیټ کېناست.
تندی مې ورته تریو کړ، ځان سره مې غلي وویل:-
ته به نو کله سړی کېږې.
خوږې هیڅ نه ویل، غلي نا سته وه، دا سې ښکاریده وارخطا ده، ساه یې ژر ژر اخیسته، سر مې ټیټ کړ، ورو مې ترې وپوښتل:-
ته ښه یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټکان یې وخوړ، په بېړه یې مخ راواړوه، موسکه شوه، نرۍ سرې شونډې یې وخوځېدې:-

هو بلکل ښه یم.

ښه شیبه تېره شوه، الوتکې هم ورو ورو حرکت وکړ، اعلان یې وکړ چې خپل کمربندونه وتړئ.

هر یوه مو کمربند وتړه، لږه شیبه نوره هم تېره شوه، سرعت یې ورو ورو تېزیده، همداسې ورسره زما د زړه زربان هم زیاتیده.

ټول غلي ناست ول، هر یو وارخطا معلومیده، چا دعاګانې کولې، چا تسبې ویلې او څوک ټیټ سر ناست ول، الوتکه ښه په تېز سرعت سره روانه شوه، ورو ورو له ځمکې د اسمان په لور پورته شوه، ورسره زما زړه هم خوی وخوت.

په زړه مې لاس کېښود، سترګې مې پټې وې، ټول په سیټ پسې نښتي ناست وو، غلي مې سترګې خلاصې کړې، خوړې همداسې سترګې پټې کړې وې.

لومړی ځل و چې هغه مې داسې لیدله، ډېره راته ښه وایسیده، کله به مې چې هغې ته کتل، یو عجیب احساس به راته پیدا شو، هغه احساس ډېر خوږ و، خوند به مې ترې اخیسته او غوښتل به مې چې نور هم په همدې خوند کې ځان ډوب کړم.

الوتکه په څو دقیقو کې خپل حال ته برابر شوه، کمربندونه مو خلاص کړل.

ما د الوتکې له کړکۍ لاندې ځمکې ته کتل چې د شا اوږه مې درنه شوه، په بېړه مې مخ واړوه، زوبېر و، له سر څخه تر پښو لړزیده.

ساه یې ژر ژر اخیسته، په وارخطایۍ مې وویل:-

څه شوي زوبېره؟ ولې داسې وارخطا یې؟

په خولې شوي ویښتو یې لاس تېر کړ، لاړې یې تېرې کړې، یو او بل خوا یې اشاره وکړه، په بنده بنده ژبه یې وویل:-

ډېر وېرېږم مدثره! هیله کوم، ما له خپل ځان سره خواکې کېنوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوږه په خندا شوه، په جدي غږ مې وويل:-

هيڅ نشته ياره! مه وارخطا کېږه، وګوره مونږ يو يې هم په کيسه کې نه يو، لاړ شه خپل ځاى کې کېنه الله به خير کوي.

زوبير زړه نا زړه و، پوره د ماشـومانو عادتونه يې کول، غلى غلى خپل سـيټ ته لاړ او لکه په وحشي ځناورو کې چې نا ست وي دا سې يې هرې خواته په بيړه بيړه کتل.

الوتکه په خپل رفتار روانه وه، خوږه له خپل ځان سره موســيده، زړه يې کيده راسره ښــې ډېرې خبرې وکړي، اوس منتظره زما غږ ته ده، چې څنګه خبرې شروع کړم او څنګه د خبرو کولو بهانه ور جوړه کړم.

خوږې د وړې پزې سر وګراوه، ورو يې وويل:-

مدثره ! نن دې راته د خپل ژوند يوه جالبه کيسـه وکړه، اوږد سـفر لرو، بايد په کوم څه خو يې تېر کړو.

ورته موسک شوم، سيټ کې مې ځان برابر کړ، ورو مې وويل:-

ژوند ټول له جالباتو ډک دی، خو داســې خاص څه راته نه ياديږي، ته رانه وپوښته، زه به يې په ليمو وايم.

خوږه موسکۍ شوه، د اننګيو لاندې کوچنۍ خاليګه يې ښکاره شوه.

نرۍ شونډې يې وخوځيدې:-

راځه د خپلو کورنيو په باره کې به خبرې وکړو، ما او تا کله هم پدې اړه خبرې ندې کړي.

به خوښۍ مې ورسره ومنل، خوږې وپوښتل:-

څو ورونه او څو خويندې لرې؟

ورو مې ځواب ورکړ:-

يوه خور او يو ورور، خور مې له ما مشره ده او ورور مې له ما کشر.

خوږې زما سترګو ته کتل، په بيړه يې وويل:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالکل زما په شان، یوه مشره خور او یو کوچنی ورور.

- مشره خور دې چیرې ده؟

سوړ اسویلی یې وکړ، خپلو سپینو نوکانو ته یې وکتل، وویل:-

د پلار په کور کې.

یوه شیبه غلې وه، بیا یې پسې زیاته کړه:-

هغه راته ډېره گرانه ده، د هغې خواره ځیره او مینه ناک اواز راته تل ســترگو ســترگو ته کیږي، ډېر وخت وشــو هیڅ خبر ترې نلرم، گوره چې له ســفر بېرته راستانه شو، یو ځل به ما تر کوره رسوې.

د هو په طور مې سر وخوځاوه، ومې ویل:- ولې په خور دې څه شوي؟

د خورې خبرو زور واخیست، بیا یې وویل:-

که د هغې په میړه کې لږ هم غیرت و نو زما خور بېچاري به یې یوازې نه پرېښوده، هیڅ د ښکلا کمی پکې نه و، نو بیا ولې؟ آخر ولې؟

په ژړا شــوه، یوه شــیبه غلي وه، بیا یې مخ راپورته کړ، په تورو غټو ســترگو کې یې اوښکې ځلیدلې، وویل:-

اخ زما گرانې خورې! ته ښغمه شـــه، خپل ژوند دې کوه، خور دې درته لوگی شي، زه درته د ژوند تر آخرې سلگو مزدوري کوم، تا او ستا بچیان به ساتم.

ژړا یې زور واخیـست، په سلگیو شوه، ما ورو خپل لاس د هغې په تورو ویښتو تېر کړ، هغې نابېره زما غېږې ته ځان واچوه، یوه شـــیبه یې وژل، ما غلي وویل:-

زه هم درسره یم، په هر مشکل او غم کې دې ملتیا کوم.

خورې په بیړه زما له غېږې ځان لیرې کړ، د ټیکري په پیڅکه یې اوښـــکې پاکې کړې، غلي کېناسته.

ما د هغې اوږدو اوږدو باڼو ته کتل چې په اوښـــکو لانده و، خورې پزه کش کړه، په سیټ کې یې ځان سم کړ، ماته یې وکتل، وویل:-

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښه خېر! دا ووايه مور او پلار دې ژوندي دي؟
د مور او پلار له نوم اوريدو سره د هغوی خبرې، د هغوی ځيرې راته په ټوپونو شوې.
يادونه مې تازه شـول، هغه وختونه را په زړه شـول چې به پلار مکتب ته کش کولم او مور به مې راته په کڅوړه کې وچ پاستي اېښودل، پلار به وهلم او مور به مې بيا پخلا کولم.
پلار مې د سيوري په شان راپسې ګرځيده او مور مې د وجود سکون بخښونکې ساه وه.
ورو مې وويل:-
زما په شتون کې خو ژوندي ول.
ما د خپل لاس ګوتو ته کتل، خوږې بيا په سـترګو لټولم چې په کوم حال کې يم، شونډې يې وخوځيدې:- څومره وخت وشو دواړه دې ندي ليدلي؟
په مړاوي غږ مې وويل:-
يو نيم کال وشو.
يوه شيبه غلی وم، بيا مې پسې زياته کړه:-
يو نيم کال وشـو چې مې د هغوی ديدار ندی کړئ، خو داسـې ورځ او داسـې سـاعت دې په ما حرام وي چې دوی مې يو ځل ياد شـوي نه وي او ډېرې اوښکې مې پسې توی کړي نه وي.
- نو بيا ولې دې کور پرېښود او دلته راغلې؟
سترګې مې نمجنې شوې وې، لستوڼی مې پرې کش کړ، او ومې ويل:-
غلطي زما وه، ما په لوفريو پيل کړئ و، او هغوی منع کولم، د هغوی ښه خبره به هم اکثره وخت په ما بده لګيده، زړه مې تنګ شـوی و، د دوو ملکرو سره ښار ته راغلم، غوښتل مو کوم کاروبار ځانته پيدا کړو خو هغه د يوه رزيل هوټل مشر تېرويستو او په مونږ يې غلا وکړه، له غلا کولو وروسته يې بيا راڅخه خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول مال هم غلا کړ او مونږ یې دې بدلې نړۍ ته راوستو او هغه لکه جادوګر ورک شو.

خوږې په غریو وویل:-

توبه توبه ! دا څنګه د سپي زوی و؟ بیا دې پیدا نکړ؟

سوړ اصویلی مې وکړ، سر مې د الوتکې په سیټ کېښود، پاس چت ته مې وکتل، ومې ویل:-

ډېر کوښښ مې وکړ خو پیدا مې نکړ، د همغه هوټل نوي مشر راته ویل په ما یې دا هوټل خرڅ کړئ او هغه لدې ځایه تښتېدلی.

یوه شیبه غلی وم، بیا مې پسې زیاته کړه:-

زه به چې هر ځل ښار ته تلم، یوه کلیوال ښځه به مې د خپل کور حال پوښتنه هم کوله، کور ته به مې هم پیسې لیږلې او دده پوښتنه به مې هم کوله، ما ویل که خدای په ګوتو راکړ ځرمنه به ترې وباسم خو تر آخره یې درک نه و.

زمونږ خبرې همداسې پسې جاري وې، د الوتکې شنهار اواز اوریدل کیده، څوک ویده و، چا پخپلو کې سره خبرې کولې، او چا به یوازې له کړکۍ دباندې نړۍ لیدله.

بهر توره تیاره وه، الوتکې دوه نیم ساعته مزل وکړ، زه او خوږه همداسې په خبرو سره ماړه نه وو.

اعلان وشو چې د دوبی هوایي میدان ته راورسیدو، دواړو مو کمربندونه وتړل، په سیټ کې نېغ کېناستو، یو بل سترګو ته مو وکتل، د خوږې په شونډو زړه وړونکي موسکا پرته وه.

ما او هغې یو بل ته کتل چې یو درب سره الوتکه له ځمکې سره ولګیده، چټکه مې وخوړه.

خوږې په بیړه زما لاس ونیو، سترګې یې پټې کړې، ما د هغې سپین لاس ته کتل چې زما له مړوند تاو و، زړه مې بیا ټوپونه پیل کړل، سر مې د خوږې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواته کوږ نیولی و، ورو ورو یې سترګې خلاصې کړې، الوتکه په کرار شوې وه.

خوړې ماته وکتل، وړه پزه او تورې غټې سترګې یې له نورو وختونو دا ځل راته ډېر ښکلي وایسیدل، ممکن ترمنځ مو فاصله ختمه شوې وي.

خپل لاس ته یې پام شو چې زما له مړوند یې تاو کړئ، په بیړه یې لیرې کړ، موسکه شوه.

د اصغر اواز راغی:-

مدثره ! زما سات خراب دی ستا ولا کې څو بجې دي؟

سترګې مې ور پورته کړې، هغه له خندا شین و، شونډې مې ورته وچیچلې، په اشارو مې ورته وویل:-

وروسته به درسره ګورم حرمونیه!

له الوتکې رانښکته کیدو سره سم د دوبی هوا مې د مخ خړه سپیره ځمکه ښکل کړه، ګرمه وه خو ښه راته وایسیده.

تیاره خپره وه، د ماښام اذانونه شروع شول او مونږ د دوبی لوی هوایي میدان ودانۍ ته دننه شوو.

لومړی یې زمونږ ویزې او پاسپورټونه ولیدل او وروسته مو خپل بکسونه رواخیستل او د ښکلي ودانۍ څخه دباندې راوتوو.

شکیل پخپلو خبرو کې راته دا خبره هم ذکر کړې وه چې کله هلته ورسېدئ، د هوایي میدان مخکې به درته یو نفر ولاړ وي، د حسن په نوم.

یو لوی کاغذ به ورسره وي او په کاغذ به ستا نوم لیکل شوی وي.

ما یې پدې خبره پسې خندلي وه، ځکه ماته یې د دوبی د سفر خبرې هم چنداني نه ښکاریدې.

خو د هغه خبره ریښتیا وه، د هوایي میدان دباندې د ډېرو خلکو په منځ کې یو سپین رنګه دنګ هلک چې په لاس کې ورسره یو سپین پلن کاغذ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه زما نوم لیکلی شوی و.

***

د ماختستن اته نیمې بجې وې، چې د دوبی په لوی رنګین ښار کې روان و.
لوی لوی ودانۍ او ښکلو موټرو نندراه مو کوله، زما لپاره لکه د ښاپیریو ښار و او عجیبه ښکلا پکې په څپو وه.
د ټولو سترګې له ښیښې دباندې وې، هر یوه له دې ښکلي نړۍ لیدلو څخه خوند اخیسته.
خوږې ته مې وکتل، توري غټې سترګې یې د ښار رڼا ته ځلیدلې.
موسک شوم، بیا مې سپین رنګه دنګ هلک چې حسن نومیده، مخ واړوه، ورو مې وویل:-
موږ اوس د دوبی په کوم ځای کې یو؟
هغه نرۍ موسکا وکړه، ګیر یې بدل کړ، ورو یې وویل:-
دې ځای ته دېره دوبی وایي.
ټول غلي ول، ما له جیب څخه یو سیګرټ رواخیست، حسن ته مې ونیو، هغه د نه په طور سر وخوځاوه.
سیګرټ مې ولګاوه، سپین دودونه له نیمې خلاصې ښیښې خوی ووتل.
اصغر او زوبېر هم سیګرټ وغوښتل، اصغر په ټوکو وویل:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته راکه یو سینګرټ چې د دوبی هوا هم ناپاکه کړو.

ټولو وخندل، ما وویل:-

نه هغه خو به ناپاکه شي لیکن زه اوس دیته خپه یم چې ســـتا غوندې وایرس ورته دننه شو، د دوبی لپاره د خطر زنګ دی.

د حسن سپین غاښونه وبرېښیدل، اصغر ته یې وکتل، هغه سیګرټ کشاوه.

په خوږه مې ځغلنده نظر واچوه، د ښـیښـــې بهر یې لیدل، زنګون یې وهلی و، لاسونه یې زنې ته ایښې و او له ځیرې داسې ښکاریده چې ډېره خوشاله ده.

کله کله به یې مخ په چل راواړوه، په هغه وخت کې چې کله به مې بل لور ته فکر و، یوه شیبه به یې راته وکتل، موسکه به شوه، هیڅ به یې ونه ویل.

موټر همداســې روان وو، یو ناڅاپه د یوې لوی ودانۍ مخې ته د نورو موټرو په منځ کې ودرید.

حسن ښکته شو، مونږ یو بل ته وکتل، هغه په ملا کوږ شو، ښیښې ته رانیژدې شو، په ډډ غږ یې وویل:-

مشره! راځئ!

ټول له موټر څخه ښکته شوو، ملا مې سمه کړه، ځان مې وغزاوه، په سړک لګیدلی ګروپ ځای ته رڼا بخښـلې وه، د موټرو شـڼا راتله، ګڼ ګڼ په سـړک تیریدل.

حســن له ډالې بکســونه رواخیســتل، ما جګې ودانۍ ته وکتل، که څه هم د انجینرۍ مې صرف نوم اوریدلی و خو بیا هم زما په نظر ډېره ښکلې جوړه شوې وه، ځکه چې جګوالي ته وګورې او د هغې روغ جوړولو ته، نو خامخا به ورته ګوته په غاښ ولاړ وای.

په لېپ کې خپل نمبر کور ته روان شوو، زمونږ کور د ودانۍ په پا سني پوړ کې و، کوچنۍ و خو ډېر ښـــکلی و، د هر څه ســـهولت یې درلود، د وطن په رقم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیسي نه وې چې په کور کې د یوې هګۍ پیدا کول هم ستونزمن وي، هر څه ته به چې ضرورت و، تیار به په یخچال کې ایښي و.

دلته لوګي او دودونه نه و چې په مزرو او لرګو به مو پخلی کاوه.

د ګاز ډبه به ایښي وه د چولې له لارې به دې په دیګ پسې اور اچوه.

حسن په چابکو قدمو مخکې تېر شو، پرده یې کش کړه.

غلي قدمونه مې واخیستل، له کړکۍ مې لاندې وکتل، د ودانۍ له پا سني پوړ نه لاندې ښـار یوه ځانګړي ښـکلي منظره جوړوله، ټول ښـار په رنګینو ګروپونو ځلیده.

دوی په دهلیز کې په کوچونو ناست و، فرهاد او زوبیر پخپلو کې سره موسیدل، اصغر د اوبو ګیلاس خولې ته نیولی و.

خوړې ته مې وکتل، د هغې سـپین مخ، وړه پزه او تورې غټې سـترګې له پخوا ډېرې ځلیدونکې ښکارېدلې، په نریو شونډو یې خوږه موسکه پرته وه.

حسن له لومړیو د ډوډۍ بندوبس کړی و، په ښکلي فرش دسترخوان غوړیدلی و او رقم رقم خوراکونه پرې ښکاریدل.

مونږ ټوله ورځ هیڅ شی نه و خوړلی، له ډېرې لوږې مې خیټې درد کاوه.

په لږه شیبه کې ټول د ډوډۍ په خوړلو لګیا وو.

خوړې ته مې وکتل، له وریجو یې ګوله ور جوړوله، اصـــغر له وچې ډوډۍ یوه ټوټه ور پرې کړه، سترګې یې په دسترخوان کې وې، په ډکه خوله یې وویل:-

یاره خو ! پداسې ورځ چې سړي له ځان سره دوهمه خېټه هم ګرځوله نو څومره به ښه وه.

ټولو مو وخندل، فرهاد او زوبېر بیا هم پخپلو کې په خبرو بوخت ول.

له کاســـې مې د پیاز یوه ټوټه خولې ته کړه، له ګولې سره په ژوونکې غږ مې وویل:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرهاده! په اوس وختونو کې خو ډېرې پټې پټې خبرې کوئ، هر څه خو ښه دي کنه؟

فرهاد چې څه و يل، اصغر يې خوله کې خبره ور وچه کړه، په لوړ غږ يې وويل:-

ددوی به نو نور کومې داسې د سرو او سپينو زرو خبرې روانې وي، زه پوهېږم دوی همدا پلان جوړوي چې له غلې کولو بايد څنګه ځانونه پټ کړو.

مونږ وخندل خو د زوبير او فرهاد تندي ګونځې پيدا کړې، زوبير جوړه شوي ګوله پرېښوده، په زوره يې وويل:-

احمقه ! زه به بې زړه ضرور وم خو بې غيرته هيڅکله نه يم، کله مو هم په نيمه کې نشم پرېښودلی.

اصغر وچه ډوډۍ هم نيموله او غلي غلي يې له ځان سره خندل هم.

ښه شيبه تېره شوه، ډوډۍ مو خوړلي وه او ټول تلويزيون ته ناست و، ما سيګرټ لګولی و، د خوړې سترګې له خوبه درنې درنې کيدې.

حسن ته مې اشاره وکړه، هغه لومړی خوړه خپلې کوټې ته بوتله او ورپسې يې ماته خپله کوټه وښوده.

ډېر ستړی وم، سترګې رابانديې پټيدې، په لوی چپرکټ ولويدم، سر مې واچوه، سپينه نرمه کمپله مې په ځان کش کړه، د خوبونو او د سکون غېږې ته مې ځان وسپاره.

سهار وختي مې سترګې خلاصې شوې، فکر مې کاوه په وطن کې يم، توره تياره وه، خواو شا مې څه په نظر نه راتلل، د تېرې شپې ياد مې تازه شو، سمدستي پوی شوم:-

نه نه! په دوبی کې يم.

د ښاپيريو ښار په سوچونو کې به چې شوم ډېر به خوشحال شوم، هيڅ مې په تصور کې هم نه و راغلي چې دومره ښکلي ځايونه به هم شته وي، د خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



شان ډېر لوی دی او انسان ته یې بیا ډېر لوی عقل ورکړئ، دا دومره ښایسته او عزیز څیزونه، دا لوی اپارتمان، دا سـړکونه، دا ښـایسـته کالي، دا روغ او خواږه خوارکونه، دا لوکس ژوند، په دې کې هم بیا انسان خوښ نه وي، زه خو وایم دا یې ناشکري ده.

زما دا خوښـــئ به هم راسره تر دوو، درو دقیقو مل وې، بیا به د غلا کولو فکر پسې واخیستم، یوه نیمه صحنه به یې راته سترگو ته شوه:-

مونږ به ورځو، په دیوالونو به ور اوړو، یوه کور ته به دننه کیږو، له هغه ځای نه به غلا کوو، د پیسو بکسونه به راسره ډک وي او بېرته به په خوښئ لدې ځایه روان و.

پخپل ځان پسې به مې وخندل، غلي به مې وویل:-

کاشکې دا فکر مې ریښتیا شي.

حسـن د سـهار چای تیار کړئ و، ټولو ته د تورچي پیالې ډکې وې او په قابونو کې سپینې مستې بریښیدې.

اصــغر ارږمی وکړ، پیا له یې خولې ته یوړه، شر یې ترې پورته کړ، ورو یې وویل:-

یاره مدثره ! وایم بیگا مې په خوب کې زوبیر او فرهاد مړه لیدل.

زه موسـک شـوم، زوبېر او فرهاد پوی شـول چې بیا یې راپسـې د خولې تارونه وشکیدل.

خوړې له مستو یوه گوله خولې ته پورته کړه، ما اصغر ته کتل، خړې شـونډې یې وخوځیدې:-

یار خو ډېر بل رقم مې ولیدل، زه او مدثر سره په جنگ شو، زه لگیا یم مدثر په سـوکانو لغتو وهم او هغه بیا ما وهي، خولې مو له وینو ډکې وي، پدې وخت کې زوبېر او فرهاد راشي، زما او د مدثر د بیلتون هڅه وکړي، مدثر زور وکړي فرهاد شاته ټېل وهي او زه کش وکړم زوبېر مخکې ټېل وهم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلی شو، څنګ کړکۍ ته يې ګوته ونيوه، بيا يې پسې زياته کړه:-
دواړه د خلاصې ورسۍ خواته په شا لاړ شي، ځانونه قابو نشي کړئ او په چيغو او نارو لاندې له ودانۍ وغورځې او په....
زوبير په غوسه شو، په غريو يې خبره ورپرې کړه:-
وايم دا مرداره خوله دې در بنده که.
اصغر له خندا شين شو، ټولو مو خندل، پياله مې په قاب کې سمه کړه، ورمېږ مې کوږ کړ، ورو مې زوبېر ته وويل:-
هلکه ټوکې کوې، دومره غوسه نو د څه لپاره؟
زوبېر هيڅ ونه ويل، اصغر همداسې پټ پټ له ځان سره خندل.
خوږه راته مخامخ ناسته وه، پياله يې په دواړو لاسونو کې خولې ته نيولې وه، سترګې مو سره ټکر شوې، هغې هيڅ نه ويل، له پيالې يې شر پورته کړ، د سر ويښته يې په اوږدو باڼو راوغورځيدل، پياله يې يوه لاس ته کړه، د لاس په دوو ګوتو يې ويښتان د غوږ له څنګه واړول، نرۍ موسکا يې د اننګيو لاندې کوچنۍ خاليګه ښکاره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

د جامو په بکسه کې ایښي سپینه لفافه چې شیشکې راکړې وه، رواخیسته، څېرې مې کړه او یوه پنډه کاغذونه ترې راوغورځېدل.

یو یو مې رواخیست، له نظره مې تېر کړل، ورپسې یوه نقشه مې تر گوتو راغله، په ځیر مې ورته وکتل، په هغې بعضې نومونه لیکل شوي وو، د دوبی نقشه راته ښکاره شوه.

داسې چې کاغذ ته مې کتل چیغه مې کړه:-

حسنه ! دلته راشه!

حسن ورسره خوړه له دهلیز څخه دننه کوټې ته په بیړه راغلل، نقشه مې ورته ونیوه، ورو مې وویل:-

غواړم پدې ټوله نقشه مې پوی کړې.

خوړې نقشې ته ورمېږ کوږ کړ، حسن راسره څنگ کې په کټ کېنا ست، خوړه په ملا کړوپه شاته ودریده.

حسن نقشې ته کتل، گوته یې یوه نوم ته ونیوه:-

دغه ځای ته ( ناداشیبه ) وایي، په لومړیو کې دلته پُل راځي، په همدې به پورته خواته را شې، له دې ځایه نادا شیبه شروع کیږي، دلته د ډېرو شیخانونو کورونه دي، همدلته هر کال یو د آسونو ریس ( سیالي ) هم کیږي، ددې مخامخ شمال خواته یو نوی د نړۍ تر ټولو لوی بیلډینگ باندې کار روان دی او لمر ختو لور ته الکوز په نوم ښارگوټی دی.

حسن غلی شو، سر مې وخوراوه، شونډې مې سره ومروړلې، لږه شیبه مې نقشې ته وکتل، ومې ویل:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



همم! او دا د آســونو رېس( ســيالي ) چې دوی ورته وايي دغه په کوم وخت کې کيږي؟

حسن د وروځې نرۍ کونج د ګوتې په نوک وګراوه، ورو يې وويل:-

مشرـه ! دا رېس په کال کې يو ځل کيږي او پدې کې مالداره شــيخان او بهرنيان ګډون کوي، ډېرې غټې پيسې پکې مصرفيږي.

نقشه مې ټوله کړه، حسن ته مې وويل:-

ته بايد نن ورځ ما په ټوله نادا شيبه کې وګرځوې او د هر سړک او هرې ودانۍ په اړه بايد پوره معلومات راکړې.

حسن په خوښۍ ومنله.

پدې ورځ حســـن د ناداشــيبې له هر کونج او هرې دروازې سره اشـــنا کړو او خاص کر د شيخ کور، په کوم چې زمونږ پلان راڅرخيده.

ما نه يوازې د ورتلو پلان جوړاوه بلکې د وتلو لاره مې هم ســنجوله، ځکه لکه څومره چې ورتلل مهم و، همدومره ترې ببرته وتل هم و.

لمر سترګه په زوال ولاړه وه، موټر د ناداشــيبې په سـړک ورو روان و، يو دوکان مې تر نظره راغی، حسن ته مې د ودريدو وويل.

خوږه شاته سيټ کې ناسته وه، ورمېږ مې شاته کوږ کړ، په موسکی خوله مې وويل:-

خوږې ! ووايه څه ته دې زړه کيږي؟

د خوږې رنګ سـور واوخت، له ځان سره وبنګيده، يوه شـيبه يې زما سـترګو ته وکتل، ورو يې شونډې وخوځيدې:-

ستا خوښه زما خوښه.

حســن ته مې د يو ښــه شي راوړلو وويل، هغه دوکان ته لاړ، زه او خوږه يوازې پاتې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوږې په غاړه کې ټيکرى سم کړ، ما سړک ته کتل چې ښکلي موټر به تلل، راتلل.

خوږې غاړه رانه کړه، په سيټ کې يې ځان سم کړ، لومړى يې د دوکان خواته وليدل، بيا يې مخ ماته واړوه، غلي يې وويل:-

غواړم درته يوه خبره وکړم.

په زړه کې مې ځړيکه تېره شـــوه، لړزه راباندې راغله، په بيړه مې مخ راتاو کړ، ومې ويل:-

هو! ولې نه! ووايه!

شـــونډې يې سره ومروړلې، په غاړه کې پروت ټيکري پيڅکه يې په تېرو نوکانو چرموړله.

لاړې يې تېرې کړې، زما زړه درېيدا، پوهيدم کومه خاصـــه خبره شـــته خو دا خاصه خبره به څنګه وي، همدې ته مې غوږونه تېري ول.

هغه همداسې غلي وه، زما صبر نه کيده، په لوړ غږ مې وويل:- ووايه کنه!

خوږې چټکه وخوړه، لړزيدونکې شونډې يې وخوځيدې:-

خو وېرېږم، د ويلو توان يې نلرم.

په حيرانۍ مې ور وکتل، په تندي يې د خولو غوټې ښـــکار يدې، ورو مې وويل:-

مه وېرېږه، چې هر څومره بده خبره هم وي، زه به يې په ځان بده ونه ګڼم.

حســـن له دوکانه د موټر په خوا راروان و، په لاســـونو کې يې دوه پلاســـتيک ګيلاسونه هم نيولې ول.

خوږه غلي پاتې شوه، حسن راته يو ګيلاس ونيو، ورو يې وويل:-

آيسکريم مې درته راوړل.

مننـه مې ورڅخـه وکړه، خوږې تـه مې وکتـل، د هغې پـه څيره همـداســـې وارخطايي ښکاريده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټر روان شو، حسن ورو وویل:-

مشره ! کومې خوا ځو؟

ما په آیسکریم شونډې کېښودې، ډېر یخ و، په ډکه خوله مې وویل:-

کور ته !

د خوږې په نیمه کې پاتې شـــوي خبرې اوریدو ته بیتاب وم، بار بار یې هغه خبره رایاده شوه:-

غواړم درته یوه خبره وکړم!

- خو وېرېږم، د ویلو توان یې نلرم.

چې دا به یې راته څه ویل؟ ایا له ما یې شـــکایت کاوه؟ له ما خپه وه؟ ماته په غوسه وه او یا هغې کوم څه ته اړتیا درلوده؟

د ښـــځ ســـترګې له کونجه مې ور وکتل، پیکۍ یې په تندي پروت و، څنډ یې ورکړ، څنګ د غوړونو له نرمو سره ولګیدل، د هغې په نریو سرو شـــونډو د آیسکریم سپین ځګ برېښېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


***

پوره څلور ورځې مو په پلان کار وکړ، د پوښـــتنې لپاره کوم څه مو پرېښښــودل، هرې پوښتنې ته مو د هو ځواب پیدا کړ.
کله مې چې ټول پلان له سره تر پایه واوروه، هدف ته ځانونه رســول راته ډېر شوني وبرېښیدل.
د شـــېخ کور له گوټ گوټ مې ځان خبر کړ، یو بنگالي چې په همدې کور کې یو وخت نوکر و، هغه ته مو لږې پیسې ومنلې او ټول معلومات چې ورته په تمه وو زمونږ تر گوتو را ورسول.
زه به په ورځ کې درې څلور ځلې د شـــېخ کور له خوا شـــا څخه تېرېدم، کله به مې ځغاســـته کوله، کله به پلی روان وم، کله به موټر راسره و، کله به مې له خوږې سره د زړه خواله هم کوله او خپل پلان به مې هم مخکې بیوه.
اصـــغر، زوبیر او فرهاد به اکثره وخت په چکرو بوخت و، یو پارک ورته حســـن ښـودلی و چې له ودانۍ چپ اړخ ته په سـل متری کې موجود و، نیمه ورځ به هملته ول.
خو ما به حسن او خوږه له خپل څنگ نه لیرې کول او دوی به هم پوره کوښښ راسره کاوه.
په دې څلورو ورځو کې هر ســـاعت، هره دقیقه او هره ثانیه خوږه راته په بدل بدل رنگ ښکاریده.
په خبرو کې یې بدلون راغئ، خبرې یې ډېرې کولې، شـــوخي یې همداســـې پســـې ډېریده، په ما به یې کله کله یوه نیمه خوږه خبره له قصـــده اوریده، زما صفت به یې ډېر کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه پوره پوی شـــوی وم چې نجلۍ بدلون کړئ، هغه د وطن غلي خوږه اوس همغه نده پاتې شوي، د ښاپيريو ښار ګرمې هوا وهلي، مستي خو به يې خامخا سر ته خيږي.

ټول په دهليز کې تلويزيون ته ناســـت دي، زه له خپلې کوټې کاغذ په لاس راووتم، په لوړ غږ مې ووېل:-

ســـبا د جمعه ده يانې ســـبا زمونږ آخري ورځ ده، له تلويزيون ليدلو ځه نه جوړيږي، راځئ چې په پلان کار وکړو.

اصغر تلويزيون بند کړ، ورغلم خوا کې يې کېناستم، ټول رانه چاپېره شول، په لاس کې نقشه مې په سره فرش کېښوده.

ټولو ته مې اشاره وکړه چې کاغذ ته وګوري.

د لاس ګوته مې په نقشه ايښې وه، ومې ويل:-

دا د شيخ ټول کور نقشه ده، پدې نقشه کې هر ځه صاف صاف ذکر شوي، دا د شـــيخ کور ودانۍ ده، دا يې لومړی لويه دروازه ده چې د جنوب ختيځ خواته موجوده ده، دلته درې نفر ساتونکي ځلرويشت ساعته پهره ورکوي، ورپسې د ودانۍ دروازې ته لاره تللي، هلته يو سـاتونکی ناست وي، د ودانۍ دننه ځای ځای ځارونکي ليدل کيږي، ټول کور له سـاتونکو ډک دی، په ټوله ودانۍ کې دېرش کوټې موجودي دي، او زمونږ هدف ځلرويشـــتمه کوټه ده، د ودانۍ له لويې دروازې ځلرويشـــتمې کوټې ته ځان رســـول ناممکنه ده ځکه په لاره نور ساتونکي هم موجود دي، چې تلل ډېر سخت دي.

يوه شـــيبه غلی شـــوم، ټولو په ما کې ســـترګې نيولې وې، ما خبرې پســـې وغزولې:-

خووو! که د شـــمال لويديځې غاړې له دېوال ځخه ودانۍ ته دننه شـــو او د زيرزمينۍ له لارې چې يوه خوفيه لاره تر ځلرويشـــتمې کوټې تللي، د رســـيدو نهه نوي فيصـد امکان شـته، پدې لاره هيڅ کوم سـاتونکی نه ليدل کيږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته ځکه ســـاتونکي نشـــته چې دغه زیرزمیني ده او دوی هم دغې لارې ته دومره توجو نکوي.

د ټولو په شـونډو خوښـي وغوړیده، پلان ډېر په صـحي مانا سره جوړ شـوئ و، هر یوه ته مې پکې خپله دنده سپارلې وه.

اصغر وپوښتل:-

چې دا څومره پیسې دي؟

نقشه مې ټوله کړه، موسک شوم، ورو مې وویل:-

ددې حسـاب نه کیږي خو دومره درته ویلی شـم دا پیسـې د آسـونو د ریس( سیالۍ ) لپاره ځانګړي شوي، ریس نیږدې میاشتو کې کېدونکی دی او پیسې یې د شېخ په کور کې په ځلرویشـتمه کوټه کې چې په یوه اوسـپنیزه شـل فټه پلنه او دوه فټه غټه دروازه بنده شوي ده، دننه ایښې.

ټولو راته په حیرانۍ کتل، حســن مې ځانته نیږدې راوغوښــت، په ورو غږ مې ورته وویل:-

ته به هغه د قاچاق وړونکي سره خبرې وکړې، یو څه وسـله باید ترې راوړې او ورسره دا خبره هم وکړه چې سبا شپې په سپیده چاود کې دې د سمندر په غاړه زموږ انتظار کوي، چې هر څنګه وي مونږ به ځانونه ور ورســوو او ها موبایل دې خلاص ساته نور دې هلته پوهوم.

حسن د هو په ویلو سر وخوځاوه، او له کوره ووت.

اصـــغر له فرهاد او زوبیر سره په خبرو لګیا ول، ما موبایل ته کتل او د خپلې کوټې په لور روان وم.

یو ناڅاپي مې اوږه درنه شـــوه، چټکه مې وخوړه، ځان مې کابو نشـــو کړی، مخکې مې تېز قدمونه واخیستل، کوټې ته دننه کش شوم، دروازه بنده شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خورې په ترپو تندي زما په ټټر لاس کېښود، ما ورته په حیرانۍ کتل، لاس ته يې زور ورکړ، شاته يې ټېل وهلم، په کټ ولویدم، موبایل مې له لاسه ولوید، ما يې د راخیستو هڅه وکړه.

خوره را وړاندې شـوه، په ټټر يې لاس راباندې تېر کړ، ویښـته يې ټول په مخ راپرېوتل، شونډې يې وچیچلې، ما په جدي غږ وپوښتل:-

دا ته څه کوې هه؟

خورې په شونډو ګوته کېښوده:-

شششش! همداسې پرېوځه!

ما د پورته کېدو هڅه وکړه، خو هغې مې په ټټر مړوندونه کېښــودل، بېرته يې پخپل ځای غلی کړم.

یوه شیبه چوپتیا خوره شوه، خورې نرۍ سرې شونډې رانیژدې کړې، په تورو غټو سترګو يې ماته وکتل او ورو يې وویل:-

ته پوهېږې! ما ددې ورځې ڤومره انتظار کړئ.

ما يې تورو غټو سترګو ته کتل، خوله مې خلاصه پاتې وه، باور مې نه راته چې دا دې خوره هم وي، ټول بدن مې لړزې نیولی و، په مخ مې خولې را ماتې وې.

د خپل وجود په پنجره کې يې نیولی وم، بدن مې بې سـیکه و، لکه خوب چې وینم، هوش او خواص مې له لاسه ورکړي ول.

خوره موسـکی شـوه، د اننګیو لاندې خالیګا يې ښـکاره شـوه، په خپ اواز يې وویل:-

ډېره ګرمي ده؟ پنکه چالانه کم؟

ما هیڅ نه ویل، ټول واک مې هغې ته سـپارلی و، په موسـکۍ شـونډو يې ورو وویل:-

ته پوهېږې ! ته مې د وجود په کوم ځای کې پروت يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما هيڅ ونه ويل، هغې مې لاس پخپل لاس کې کلک ونيو، ټټر ته يې يوړ، د زړه زربان مې يې حس کولای شول، شونډې يې وخوځېدې:-

ته مې دغه ځای کې پټ ساتلی يې! له ټولو پټ!

زه په ځان نه پوهيدم، خدای خبر په کوم حال به وم، خوږې مې لاس پخپلو لاسونو کې کلک کړ، شونډو ته يې يوړ، ښکل يې کړ، بيا يې ټټر پسې ونيو، په مينه يې وويل:-

ته راته تر هر چا گران يې، تر هر څه راته ډېر ارزښت لرې، دا ښکلي نړۍ مې په تا ودانه ده او ستا بغېر ړنگه بنگه.

يوه شيبه غلي وه، زما په لاس يې شونډې ايښې وې، د اوښکو گرم ځاځکی يې زما په لاس وغورځېده، هغې ژړل.

ما په بيړه په کټ کې ځان سم کړ، هغې مې لاس نه پرېښوده، ور وخويدم، گوتې مې زنې ته ور نيږدې کړې، اوښکو ډکې سترگې يې راپورته کړې، ورو مې وويل:-

ای ! ژاړې ولې؟

زما لاس يې همداسې پخپلو لاسونو کې نيولی و، تورو سترگو کې يې ډنډ اوښکې ځليدلې.

پزه يې کش کړه، په تندي گونځې ويښته يې سم کړل، نرۍ شونډې يې وخوځېدې:-

پوره يو کال مې په زړه کې وگرځولې، پوره يو کال! دومره زړه مې نشو کولای تاته د زړه حال ووايم، تېره ورځ مې غوښتل موټر کې درته ووايم ليکن هلته حسن مزاحم شو، خو نور مې صبر نشو کولای، دا دوه شپې مې ډېر درپسې ژړلي، ډېر راته ياديدې، په خوب کې مې ډېر په بد حال ليدلی يې، ډېره وېره دې راسره وه چې هسې نه خدای مکړه له لاسه دې ورکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسې سلګیو واخیسته، له غټو ولیو مې ترې لاسونه چاپېره کړل، په تېر پسې مې ونیوه، هغې همداسې ژړل.

بیا مې د هغې ښکلی ګرد مخ په دواړو لاسونو کې ونیو، په اننګو روانې اوښکې مې ورته پاکې کړې، د هغې تورې ســـترګې ځلیدلې، په ډېره مینه مې ورته وویل:-

اه ! کاشکې مخکې دې ویلي وای، څومره ډېر انتظار مې وکړ.

خوږې ځان کابو نشو کړای، مخکې راغله، شونډې یې زما سترګو ته شوې، په مینه مینه یې ښــــکل کړې او کلکه غېږه یې رانه چاپېره کړه، په ورو او ډډ غږ یې وویل:-

مینه درسره لرم!

په نرمو تورو ویښتو مې لاس پرې راتېر کړ او په خوښۍ مې وویل:-

زه هم درسره ډېره مینه لرم ګرانې !

نن شـــپه مې ځان د نړۍ پاچا حســـابوه، ځان مې د هوا په څپو کې لیده، احساسات مې د رباب په تارو کې ترنګیدل، خوښۍ مې د مستو ځوانانو په اتڼ کې ځنې اچولې، سترګو مې جنتونه لیدل، زړه مې سندرې زمزمه کولې، ماغزه مې د سکون په باغ کې ناڅیدل، وجود مې د یو انسان په روح پسې ترلی و او ساه یې د هغې له یوې زړه وړونکې موسکا اخیسته.

داسې مې انګېرله چې نړۍ ټوله زمونږ د دواړو په نندارو ده.

انسانان، حیوانات، نباتات، پیریان، ملائکې او د نړۍ هر ژوندی او پټ موجود مونږ ګوري او ټول راته زما او د خوږې مینې مبارکي راکوي.

خوږې مې د شپې تر ناوخته په سینه سر ایښی و، غوښتل مې خپلې کوټې ته لاړ شم او حسن ته زنګ وکړم، خو د خوږې له پنجو مې ځان نشو خلاصولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوله شـپه يې زما مخ په نازکو نريو شـونډو ښـکل کړئ و، خوب هسـې هم نه راته، څنګه چې پوی شـوم خوږه ويده شـوه، ورو مې د هغې له لاسـونو ځان خلاص کړ.

په بيړه له کوټې ووتم، سيده حمام ته لاړم، غوښـتل مې مخ او لاس وکړم، په حمام کې لګيدلي آئينې ته مې وکتل، په مخ مې د خوږې د شـونډو رنګ ځای ځای پروت و.

يوه شـيبه مې خپل مخ ته وکتل، تېرې شـيبې مې سـترګو ته شـوې، موسـک شوم، اوبه مې مخ ته واچولې.

موبايل مې رواخيست، د حسن شمېره مې پيدا کړه، زنګ مې ور ووهه، په اول زنګ يې اوکې کړ!

- هيلو حسنه !

- هه مشره!

- څه دې وکړل؟

- بس اوس ورسېږم.

يوه شيبه غلی شوم، ورو مې وويل:-

له قاچاقبر درسره يو دوه کسان هم راوله.

حسن غلی شو، ورو يې وپوښتل:-

په هغه څه کوو مشره ؟

- نور دې دلته پوهوم خو صرف دومره ورته ووا يه چې هغه خلک چې خپلې ويزې او پاسـپورټ نلري، دلته يې ډېر وخت تېر کړئ، په قاچاق راغلي، د هغوی څخه دوه کسـان مونږ ته راکئ، لګې پيسـې به ورکړو، زمونږ لپاره دې بس يو ټکر وکړي.

حسن جدي وويل:-

ټکر؟ هغه څنګه مشره؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- صرف د یوې دروازې سره ټکر، موټر هم زه ورکوم خو هغه دې صرف ټکر وکړي بس.

حسن د هو وویل، ما بیا ورغبرگه کړه:-

او هغه وسله دې هېره نشي، شُرطې ( پولیس ) سره هم پام کوه.

حسن په سړه سینه وویل:-

ته بېغمه شه مشره ! ستا دعا پکار ده.

پسې یې موبایل قطع کړ، زه د شپې تر ناوخته ویښ وم، د سبا ورځې په پلان مې یو نظر واچوه.

کاغذونه مې سره وسپړل، بیا بیا مې ولوستل چې کوم څه رانه نیمگړي پاتې نه وي، هر څه سم و او بالکل د پلان مطابق روان و.

ساعت ته مې وکتل، څلور بجې کیدونکې وې، غوښتل مې لږ سر واچوم، ترڅو سبا لږ تازه دمه وم.

په خیالونو او فکرونو کې د خوبونو غېږې ته تللی وم.

یو نا ځاپي مې یوه چیغه واور یده، په کټ کې مې ټوپ کړ، تېزې ر ڼا مې سترگې وبرېښولې، سترگو ته مې لاس ونیو، ورو ورو مې له رڼا سره سترگې آشنا شوې، سهار و او لمر خپلې وړانگې کوټې ته خپرې کړې وې او مخامخ راته خوړه په غریو ولاړه وه.

ویښته یې ببر و، ساه یې ژر ژر اخیسته، ببرته په کټ ولویدم، په خوبجن اواز مې وویل:-

اه جان! پرېږده لږ خوب دې وکړم.

هغه راوړاندې شوه، په کټ کې کېناسته له غوږه یې ونیوم، په لوړ غږ یې وویل:-

تا بیگا یوازې ولې پرېښې وم؟ هه! ولې رانه تښتیدلی وې؟ ووایه؟

ور وخویدم، سر مې د هغې پر زنگون کېښود، ورو مې وویل:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرم و کنه ! که اصغر دوی لیدلي وای نو سم به یې ډنډوره کړې وو.
خوړه غلي شـوه، زما په ویښـتو کې یې په مینه ګوتې تېرې کړې، ما سـترګې پټې وې، خوړې غلي وویل:-
زما د ژوند لوی آرمان همدا چې تا زما په زنګون سر ایښی وي او زه دې په مینه پر ویښتو ګوتې وهم.
ما هیڅ نه ویل، غلی وم، خوړې خپل زنګون وخوراوه، وویل:-
ولې غلی شوې هه؟ یو څه ووایه کنه.
له خوب ډکې سترګې مې ورپورته کړې، په ټوکو مې وویل:-
حسن راغلی کنه؟
خوړې تندی تریو کړ، قار یې وښود، اوربوز یې کوږ کړ.
ما نرۍ موسکا وکړه، لاس مې ور اوږد کړ، په پاسـته غومبورې کې مې ونیوه، خوړې هیڅ ونه ویل.
ړنګ بنګ قدمونه مې واخیستل، مخ مې ورته راواړوه، ورو مې وویل:-
زما عالي جناب ! زه لاړم حمام ته، چې بیا راشـــم بیا د په مینه پخلا کوم او ډېرې خبرې درسره کوم.
خوړې همداسې شونډې ځړېدلې وې.
دهلیز ته مې وکتل، حسن د چایو پیاله ور پورته کوله، زما په لیدو له خپله ځایه جګ شو، مخکې راغئ، ورو یې وویل:-
مشره! کار وشو، هر څه مې تیار کړي او هغه کسان هم راسره دي.
سر مې وخوځاوه، په مټ مې وټپوه، ومې ویل:-
دغسې آفرین ! او هغه نفر کوم دي؟
- هغه چمتو دي، صرف زمونږ د امر په انتظار دي.
- پیسې دې ورکړې؟
- نه مشره ! خو د کار تر سره کولو سره سم به پیسې هغوی ته ورسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- او موټر؟

- اوو هوو وبښه ! له ياده مې وتي و، هغه ته به اوس زنګ وکړم.

په مټ مې بيا وټپوه، په موسکۍ خوله مې ورته وويل:-

وياړم درباندې !

هغه موسک شو، مننه يې وکړه.

شـکيل زمونږ ټول حال له حسـن څخه اخيسـته، ماته يې يوازې يو ځل زنګ کړئ و، شيېشکې راته دوه درې ځله زنګونه کړي ول او هر ځل به مې د پلان په اړه پوهوله.

پيسـې مو ډېرې خرچ کړې خو مقابل کې بيا د هغه غلا کولو پيسـو ته دا هيڅ وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


***

د شــېخ په کور زمونږ پلان د جمعې ورځ د شــپې لخوا و، ځکه هلته اکثره د جمعې په ورځ خلک میلو او چکرو ته ووځي.

پدې ورځ هم همداسې وشول، د شېخ ټول کور یوازې له نوکرانو او څوکیدارانو ډک و.

د پلان مطابق مونږ ټولو ځانونو چمتو کړي و او د شــېخ کور څخه لیرې په دوهم سړک باندې په موټر کې ناست و.

حســن موټر ته ناســت و، زه مخکې ســیټ کې، خوږه، اصــغر، زوبیر او فرهاد شاته ناست ول.

هر یوه خپل ځانګړی لباس اغوستی و.

ټول غلي وو، د ټولو په تندي ګونځې ښــکاریدې، چوپتیا وه، دا د وارخطایی علامه وه.

هر یوه همدا فکر کاوه چې نیم ساعت او یا ساعت وروسته به څه پېښنه کیږي؟

مونږ به په کوم حال کې وو؟

چیرې به وو؟

څه به کوو؟

هیڅوک نه پوهیدل تقدیر به مو څه وي؟

حسن خواته مې ورمېږ کوږ کړ، ورو مې وویل:-

هغه دوه نفر هلته چمتو ناست دي؟

حسن به بیړه وویل:-

هو مشره ! یوازې زمونږ د امر په انتظار دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر مې وخوځاوه، ما ورته پلان يو ځل بيا تکرار کړ او هر يوه ته مې خپله دنده په ګوته کړه، ټولو مې خبرې په غور واوريدې.

يوه شيبه ټول غلي و، د سړک په غاړه د موټرو د تلو او راتلو شنها اوريدل کيده چې ګڼ ګڼ تيريدل.

څه ويره شوه او څه دا سخت انتظار، زوبېر سترى شو، په قار يې وويل:-

يار ! نو دلته د څه لپاره منتظر يو؟ راځئ چې پرې ورځو؟

ما لاس پورته کړ، ومې ويل:-

بس لږ نور صبر هم!

زوبېر هيڅ ونه ويل، ټول زما د امر په انتظار وو او زه د خپل يوه نفر په انتظار چې د شېخ دروازې خواکې ناست و.

لږه شيبه نوره هم تېره شوه، يو ناڅاپي د موبايل کړنج شو، مسېج و.

خلاص مې کړ، په سکرين ليکلي شوي و:-

دوه موټر له کور څخه راووتل، يو بې ایم ډبلو موټر دى او دوهم يو رېنج رو ور، دواړه د ناداشيبې په سړک لويديځ لور ته روان شول.

د شېخ کورنۍ له کوره وتي وه، حسن ته مې په بيړه وويل:-

درځه!

دروند او ډډ اواز راغى، موټر مخکې کش وکړ، په يوه شـــيبه کې د شـــېخ کور شمال لويديځې غاړې دېوال خواکې د سړک په غاړه په بيړه له موټر څخه شپږ کسان چې تورې دريشۍ او مخونه يې په تورو مخ پوټو پټ و، ښکته شول، په لاس کې ورسره تورې تمانچې وې او په چابکو قدمونو د دېوال خواته لاړل.

دوه نيم متره لوړ دېوال ته فرهاد زينه واچوله، حســـن ته مې د مخکې کيدو اشاره وکړه.

مونږ شـاوخوا په بيړه مخونه اړول، ورو شـپېلک مې غونۍ ځيږ کړ، پورته خواته مې وکتل، حسن د دېوال په سر غلى ناست و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لاس یې اشاره وکړه، ورپسې فرهاد او اصغر هم له دېواله څخه واوختل.

د خوړې وار شو، ما زینه په لاس نیولې وه، هغې د زینې لومړۍ کړۍ ته پښه کړه، ورمېږ یې کوږ شو، توري غټې سترګې یې ماته ونیوې، ډېره مینه پکې رغړیده، ډېرو ارمانونو سره یې د سترګو غشيـ زما په لور ګوزار کړل، مخ یې واړوه او په زینه له دېواله واوخته.

د پلان مطابق مې زوبېر په موټر کې پرېښود او ورپسې زه هم له دېواله واوختم.

پنځه واړه د دېوال بېخ کې غلي ناست و، د باغچې روښانه ګروپ تتې رڼا ته مو سترګې ځلیدلې، تمانچې مو په لاسونو کې جګې نیولې وې.

حسن ته مې په سترګو ا شاره وکړه، هغه په بیړه موبایل رواخیست، یو څه یې ولیکل، یوه شیبه غلی شو، بیا یې ماته سترګې ونیوې، ما په لاس د مخکې تګ اشاره وکړه.

فرهاد د دېوال په بېخ کې پاتې شو او مونږ څلور واړه په باغچه کې په ملا کړوپ د زیرزمینۍ خواته روان شوو.

څوک نه ښکاریدل، په ارام سره تر زیرزمینۍ دروازې ورسیدو.

ما او اصغر دېوال ته جوخته شا کړه، چمتو ودریدو، تمانچې مو په دواړو لاسونو کې کلکې په ټټر پسې ونیوې.

د یوې شیبې لپاره مې د غلي پاتې کیدو اشاره وکړه، درېواړه چوپه خوله ولاړ ول، ساه یې تنګه ښکاریده.

یو ناڅاپي د ودانۍ هغې بلې غاړې څخه د یو څه ټکر کیدو اواز راغی، اصغر او خوږه وویریدل، ماته یې وکتل، ما د چوپتیا اشاره وکړه.

دا اواز د ساتونکو پر دروازه و، زمونږ یو نفر له دروازې سره موټر ټکر کړئ و، ترڅو د ساتونکو پام ټول پر هغې خوا شي.

همداسې وشول، ساتونکي هلته مصروف شول او مونږ پخپل کار باندې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسن ته مې اشاره وکړه، هغه ورو پر دروازه زور وکړ، د دروازې غنجا مې په زړه لکه د چاړې غوندې تېره شوه.

په بیړه راتاو شوم، ورپسې اصغر هم زما شاته قدمونه ورو کېښودل.

تمانچه مې په دواړو لاسو د دروازې مخامخ ونیوه، ورو ورو مخکې تېر شوم، د زیرزمینۍ تته رڼا مو پر تورو مخ پوټو ولګیده.

ښنو ته مې وکتل، لویې زینې ښکته شوې وې، په احتیاط مې قدم واخیست.

ورو ورو ښکته شوم، دوه لارې راغلې، یوه ښۍ اړخ ته او بله چپ اړخ ته.

لږ فکر مې وکړ، شکمن شوم، په بیړه مې له ځنګ جیبه نقشه رواخیسته.

اصغر راته د لاسي څراغ رڼا کوله، په زینو پسې ښۍ اړخ لیکلی شوی و.

نقشه مې جیب ته واچوله، ښۍ اړخ ته لوی دالان و، توره تیاره وه، څراغونه مو د تمانچو سره جوخت ونیول.

مخکې په ګړندیو ګامونو روان شــو، په یوه شــیبه کې له لوی دالان څخه تېر شو.

څه ګورو نوره لاره ختمه شوه یوازې یوه سپینه دروازه ښکاري.

په دروازه پاس څه لیکلي شوي و، سم نه ښکاریدل، ما څراغ ورته ونیو، په تور رنګ غټ لیکلي شوي و:-

درویشت.

دروازې ته مې زور ورکړ، خلاصه نشوه، یو قدم شاته شوم، اوږه مې د دروازې سپینې تختې ته برابره کړه، په ټول زور پرې ورغلم، درب شو خو دروازه بیا هم خلاصه نشوه.

حسن ته مې وکتل، د هغه په تندي د خولو غوټې ځلیدلې.

جیب ته یې لاس کړ، یو نرۍ میل یې د تمانچې خولې پســې واچوه، کوم چې د تمانچې غږ دب کولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دروازې قلف ته یې ونیوه، یو ټس اواز راغی، له قلفه تورې دوړې پورته شوې.

پر سپینه تخته مې زور وکړ، دروازې ټکا وکړه، له بلې کوټې سپینه رڼا راغله او ورو ورو دروازه خلاصه شوه.

ما په بیړه وړاندې قدم واخیست، تمانچه مې په دواړو لاسو مخکې نیولې وه، په ځیر ځیر سره مې کتل.

کوټې ته دننه شوو، ټوله کوټه په سپینې رڼا روښانه وه، هیڅوک نه ښکاریدل، د کوټې په بل سر کې مخامخ یوه لویه اوسپنیزه دروازه وبرېښیده.

پاس پرې غټ په تور رنګ لیکلي شوي و:-

ځلرویشت!

په اصغر دوی مې ځغلنده نظر واچوه، په تمانچه مې د اوسپنیزې دروازې خواته اشاره وکړه، په خوښۍ مې وویل:-

هغه دی زمونږ منزل!

د ټولو په سترګو کې خوښي په ځپو شوه، رنګونه یې وځلیدل، ځانونه مو کابو نشول کړی، له یو بل مو لاسونه تاو کړل او په سترګو کې مو یو بل ته هیلې ور وښنلې.

په ګړندیو ګامونو مخکې تېر شو، دېوال ځای ځای راټول و، کونجونه یې درلودل، دا سې چې یو نفر ترې په آسانۍ پټیدای شو، ګرده دایروي کوټه وه، کینې لور ته لویې زینې راښکته شوې وې.

په یوه شیبه کې تر اوسپنیزې دروازې ورسیدو.

دوه فټه غټې او شل فټه پلنې اوسپنیزې دروازې ته مې وکتل.

ټوله له ستیل جوړه شوي وه، ماتول یې کومه ا سانه خبره نه وه، خو د دروازې په ځلورو کونجونو غټ غټ مېخونه موجود وو، سم نه برېښېدل ځکه دروازه په ارغواني رنګ پوخل شوي وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسن ته مې ا شاره وکړه، هغه له ملا سره تړلې تورې کڅوړې ته لاس کړ، يو کوچنی ګلېنډر يې رواخيست.

د دروازې لانديني کونج ته مې ګوته ونيوه، حسن ورته په ګونډو شو، د ګلېنډر ځخه راوتلی اوږده نری اوسپنه په تېزی سره تاوه شوه، نری اواز يې په کوټه خپور شو.

د دروازې کونج ته يې نيږدې کړ، په مېخ ژېړې سپرغی بلې شوې، کړی کړی لوګي ترې پورته شول، په يوه شيبه کې مېخ وايستل شو.

ورپسې په دوهم او دريېم سوری کولو لګيا شو.

د ګلېنډر نري اواز مې د زړه درزا لا نوره پسې ډېروله.

د ټولو په ځيرو وېره او جديت ښکاريده، هر يوه ژر ژر ساه اخيستته او دروازې ته يې سترګې وې چې اوس ژر خلاصه شي او بس.

حسن د ځلورم مېخ په سوری کولو لګيا کيده چې د چا د پښو ښکالو مې تر غوږو شوه، حسن مې په اوږه وټپوه، په بيړه يې ماته وکتل، ما د لاس په اشاره د ځيرک کيدو وويل.

اصغر او خوږې د زينو په لور تمانچې ونيوې او ما او حسن د دروېشتمې دروازې په لور تمانچې په لاسونو کې کلکې کړې.

د پښو اوازونه ورو ورو زمونږ خواته رانيژدې کيدل، ټپ ټپ اواز سره مې د زړه دربيدا هم ډېريده.

ساه مې ژر ژر اخيسته، ناځاپه په زينو کې يو ځوک ښکاره شو، اصغر وار خطا نکړ، ماشې ته يې زور ورکړ او ډز شو، ورپسې د خوږې له تمانچې هم ګولی ووته.

سړی په زينو کې يوه شيبه ولاړ و، ټولو مو ورته په حيرانی کتل، ورپسې ورو ورو پوړيو خواته کوږ شو، ما چيغه کړه:-

هله نو ځانونو مو وباسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما ددې خبرې سره سم په درویشتمه دروازه باندې درې نفر رانوتل، ما د شاته تلو چیغه کړه.

اصغر تمانچه د ساتونکو خواته ونیوه، ډز شو، د هغې خوا هم د تمانچو ډزې پیل شوې.

ما د دېوال کونج ته رسولو کوښښ کاوه، حسن ور وړاندې شو، ما شې ته یې زور ورکړ، دواړو خواو سره مخامخ ډزې روانې شوې.

ما حسن او اصغر ته د دېوال گوټ ته د پټېدو چیغه کړه.

خوږې ته مې وکتل، هغې په گوټ کې ځان غلی کړی و او په غوږونو یې دواړه لاسونه ایښي وو.

اصغر ټوپ کړ، په یوه ثانیه کې د دېوال کونج ته غلی شو.

مټ ته یې وکتل، په وینو سور ښکاریده، لاس یې پرې کېښود.

پوخ دیوال ته یې ولي ولگول او له درده یې شونډې وچیچلې.

یو ناڅاپي ډزې بس شوې، په ټوله کوټه کې خاموشي خپره شوه، لکه د وحشت او مرگ غږ چې وشي، هرې خوا چوپتیا وه.

ما د دېواله له کونجه په یوه سترگه وړاندې وکتل، یو څوک پړمخې پروت دی، څنگ کې ورسره تمانچه هم پرته ده او په سپینو سیمټو د وینو لیکه روانه ده، سترگې مې رډې راوتې.

ساه مې ژر ژر اخیسته، فکر مې کاوه زړه مې خولې ته راغلی، لکه ښه تېښته مې چې وهلي وي.

هغه پروت سړی حسن و، په زړه کې مې درد احساس کړ، د هغه څېره راته سترگو ته شوه، اوښکې رانه بې اختیاره روانې شوې.

اصغر په اوږه لاس ایښی و وینه یې درولي وه، ورمږ یې کوږ کړ، د دېواله له کونجه یې په ښې سترگه شاته ولیدل، په حسن یې سترگې ولگیدې، هغه د ژوند آخري سلگۍ وهلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ســاتونکي يې وکتل، دوه کســان د دروازې خوا کې پراته ښــکاريدل او ځلورو نورو زمونږ خواته تمانچې نيولې وې.

ســترګې يې رډې راووتې، وارخطا شــو، په بيړه يې پر ځمکه لاســونه وټپول، تمانچه په لاس ورغله، ما چيغه کړه:-

اصغره مکوه !

اصــغر پاڅيد، د ديواله له کونجه د ســترګو په رپ کې راتاو شــو، تمانچه يې مخامخ ونيوه، ډز شو، ورپسې يو بل ډز هم شو.

زه له خپله ځايه په بيړه راپاڅېدم، تمانچه مې ســاتونکو ته ونيوه، په چيغو مې ماشې ته زور ورکړ، داسې چې د اصغر خواته په ځنګ ځنک روان وم.

خوړې چې زه وليدم، وار له واره را پاڅېده، تمانچه يې ســاتونکو ته ونيوه، دربواړو مو پرې د ګوليو باران پيل کړ.

په يوه شيبه کې شپږ کسان د دروښتمې دروازې په خوا کې پړمخې پراته ول.

زما د تمانچې ګولۍ ختمې شوې وې، همداسې مې ماشه وهله، ټس ټس اواز يې کاوه خو ګولۍ پکې نه وې.

غوسه وم، په زړه مې اور بل و، د حسن مرګ راته د زغملو نه و، سترګې مې له اوښکو ډنډ وې.

اصغر په وينو سرې اوږې باندې لاس ايښی و.

خوړه رانيژدې شــوه، مخ پوټۍ يې له مخه ليرې کړ، وړه پزه او خړې شــونډې يې ښکاره شوې، په تورو غټو سترګو کې يې ويره راټوله وه، ماته يې په ناهيلی کتل.

ما د تېښتې چيغه کړه، ورپسې د کښې لور زينو ځخه ډز شو، ورپسې نورې ډزې هم وشوې، دومره موقع برابر نشــوه چې تمانچې ته لاس يوســم، ما په ځمکه ګونډې وهلې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وارخطايۍ مې ورمېږ کوږ کړ، اصــغر ښــې خواته ړنګ شــو، په لړزيدونکو شونډو مې چيغه کړه:-

اصغره!

په زړه مې سور اور پورې شو، سترګې مې رډې راوتې، ټوپ مې وکړ، يو بل ډز هم شو، نرۍ درد مې په چپ اړخ اوږه کې تېر شو، تر اصغر مې ځان ورسو.

ستونی سخ غزېدلی و، له تندي يې وينې روانې وې، خوله يې خلاصه وه، په رډو راوتو سترګو يې ماته کتل.

د هغه سر مې پخپلو زنګونونو کېښود، ومې خوراوه، غږ مې پرې وکړ:-

اصغره! ای اصغره ! ماته وګوره.

اصغر يوه اوږده ساه واخيسته، خړې شونډې يې ولړزيدې، ما چيغه کړه:-

اصغره! ای ماته وګوره! تاته وايم، سترګې دې پټې نکړې.

اصغر کوم حرکت ونه وکړ، خوله يې خلاصه پاتې شوه، په زوره مې وويل:-

اصغره! خبرې وکه!

اصغر يوازې خلاصې سترګې ماته کتل، اوږو ته مې ځنډ ورکړ، ومې خوراوه، د هغه مخ کېڼ لور ته کوږ شــو، زما له خولې يوه زوروره کريغه ووته، لاســونو مې يې له پلنې ملا تاو کړل، په سينه پسې مې کلک ونيو، په ژړا کې مې په چيغو ويل:-

نه نه ! دا امکان نلري، ته داسې نشې تللی! ته داسې نشې تللی!

لکه ماشوم داسې ژړا واخيستم، ورو ورو سونګيدم او اصغر مې پخپل ټټر پسې نيولی و.

دلته يو له درده ډک اواز راغی، ســترګې مې خلاصــې کړې، مخ مې ور پورته کړ، دا اواز د خوږې و، په ځنګ کږه پرته وه، له خولې يې وينې روانې وې، په وينو لړلی لاس يې زما خواته نيولی و او ځانته يې غوښتم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ا صغر مې پرېښود، د پورته کیدو کوشش مې وکړ، اوږه کې مې دروند درد تېر شو، غلي مې اوږې ته وکتل، په وینو سره ښکاریده، پروا مې ونه کړه.

په ټول زور پاڅیدم او خوږې خواته ورغلم.

غیږې ته مې راکش کړه، د هغې گرد مخ مې په دواړو لاسو کې ونیو، سلگۍ یې وهلې، د ولیو منځ کې یې گولۍ خوړلي وه.

خوږې د یو څه ویلو کوشښ کاوه، غوږ مې ور ټیټ کړ، لړزیدونکې شونډې یې وخوځیدې:-

مدثره ! زما له تا ځخه د تلو زړه نه کیږي، ما مه پرېږده له تا لاړه شـــم. هیله کوم، ما مه پرېږده!

په بیړه مې وویل:-

نه نه! په تا به هیڅ نه کیږي، زه درسره یم، په تا به هیڅ نه کیږي.

د خوږې پر شونډو یوه زړه وړونکې موسکا غوړیدلي وه، په زحمت یې وویل:-

مینه درسره لرم!

ســـترگې مې همداســـې لکه د اوبو چینې خوټیدې، زما لاس یې کلک پخپله سینه پسې نیولی و، په ژړغوني غږ مې ورته وویل:-

زه هم درسره مینه لرم گرانې!

خوږې وټوخل، پر ســـپینه غاړه یې وینو ځاځکې وغورځېدل، شـــاته ځړیدلي ویښتو کې مې یې لاس دننه کړ.

سر مې یې سـم کړو، خوله یې له وینو ډکه وه، سـپین غاښـونه یې د شـونډو له رنگ سره یو رقم شوي ول.

خوږې ته مې په ځیر ځیر وکتل، په مینه مې ورو وویل:-

ای گرانې ! خبره یې؟ زمونږ واده دی.

د هغې ســـترگې پټې پټې کیدې، سر ترې ټالی وهلې، ما یې مخ ځانته واړوه، هغه موسکه وه، په زوره مې وویل:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاته وایم ماته ګوره! راځه چې ځو واده کوو.

خوږې پر شونډو همداسې موسکا غوړېدلې وه، یوه شیبه غلی شوم، د هغې له خولې کېښې خواته د مخ له له خالیکه وینو لاره وکړه او زما پښــو ګوتو سره خوا کې پر سمیټو سره ځاځکې ښکاره شول.

په مخ مې رڼې اوښـکې بهیدلې، له ډېره درده مې ټول وجود لړزیده، بیا مې په مړاوي غږ وویل:-

خیر دی ګرانې! ته له ما مه ځه، زه به ستا بغیر یوازې دلته څه کوم.

د خوږې په خړو شونډو یوازې یوه موسکا پرته وه، د ښۍ سترګې له کونجه یې اوښکه روانه شوه، د غوږ له څنګه په تورو ویښتو کې ننوته.

زما صبر ونه شو، غوښتل مې له دې ځایه یې وبا سم، له غټو ولیو مې ورڅخه لاس راتاو کړ، ما د پورته کیدو هڅه وکړه خو یوې چیغې مې ټول پام هغې خواته واړوه.

سر مې ور پورته کړ، پر دروښـــتمه دروازه کې دوه کســان په ګونډو ناســت و، لاسونه یې شـاته خوانه تړلي شـوي و، ددواړو په ککریو تمانچې نیولې شـوې وې.

دا دواړه فرهاد او زوبېر و، په ډېرې عاجزۍ یې ماته کتل.

شـــاو خوا مې ځغلنده نظر واچوه، ټوله کوټه له ســـاتونکو ډکه وه او د ټولو د تمانچو په نښه کې زما ځیره وه.

هک پک ولاړ وم، له ســـترګو مې بې اختیاره اوښـــکې روانې وې، پخپل ځای لکه بوت ولاړ وم.

هیڅ کوم حرکت مې نه کاوه، لکه زړه کې مې چې څوک په زوره زوره چاړې وهي او زه ورته صرف ګورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وخت ټهرجنې برېبوکۍ داســې تیت پرک کړو چې د ځان پیدا کول یې رانه هیر کړل، د وجود ســتنې یې راته ماتې کړې، په ســترګو یې ړانده کړو، په غوږونو یې دړانده کړو، لاسونه او پښې یې رانه غوځ کړل.

د خپل تېر ژوند انځور مې راته مخامخ د سترګو په وړاندې وځړید.

لومړی مې د پلار غوسه، بیا مې د مور مینه او د خور ګرانښت ولیدل.

بیا مې له مســتیو ډکو خنداګانو شــور واورید، لړزه یې راباندې راوســته، د خپلو دوو ملګرو سره د کلي پر ویالې د سیورې لاندې ناست وم.

په ورو غږ مې وویل:-

اه تیره ساعته !

زما ژوند تر همدې ځایه و او تر همدغو خلکو تمام شــو، بیا مې هیڅکله ونه خندل، بیا مې هیڅوک په زړه کې ځای نه کړل، هیڅا مې زړه ته لار پیدا نکړه، هیڅ وخت مې ونه ژړل.

داسې مې حس کوله، د زړه غوښې مې په کلک کاڼي بدلې شوي، هیڅ کومه هیله مې نه لرله او بس یو ارمان مې لرلو، په ابدي خوب ویده کیدل.

**پای**

**خوست، متون تپه ۱۷/۱/۱۳۹۵**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**